كِتَابُ التَّوحِيدِ

(پښتو)

د توحيد كتاب

كوم چې د الله حق دى پر بنده ګانو.

ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٥ هـ
فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

محمد التميمي،
كتاب التوحيد -بشتو. / محمد التميمي
-ط٢..- الرياض ، ١٤٤٥ هـ

١٤٦ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

ردمك: ٥-٤٣-٨٤١٢-٦٠٣-٩٧٨

١- التوحيد أ.العنوان

١٤٤٥ / ٨٥٩٩

شركاء التنفيذ:

المحتوى الإسلامي
رواد الترجمة
جمعية الربوة
دار الإسلام

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَـنِ الرَّحِيمِ

ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي، او د الله تعالی درود دي وي پر محمد – صلی الله علیه وسلم، کورنۍ او ملګرو يې.

د توحيد كتاب

د الله تعالی وینا ده: ما پېریان او انسانان یوازې د خپل عبادت لپاره پیداکړي دي. [الذاريات: ٥٦].

د الله وینا ده: قسم دی خاماخا په تحقیق سره په هر امت کې مونږ پیغمبر لیږلی(او لمری یې دا خبره ورته کړې) چې د یو الله عبادت وکړئ او د غیرالله د عبادت څخه ځان وژغورئ [النحل: 36].

د الله وینا ده: پالونکي دې حکم کړی چې یوازې د هغه عبادت وکړئ او له مور او پلار سره ښېګڼه کوئ، که ستا سره یو له هغوی څخه او یا دواړه زړښت ته ورسیږي؛ هغوی ته اف هم مه وایه، رټه يې مه او له هغوی سره په درناوي خبرې کوه، او د هغوی لپاره د لورېینې په موخه مات غاړی اوسه، او وایه: اې زما پالونکیه! پر هغوی داسې لورېینه وکړه لکه زه يې چې کوچنی روزلی یم. د الإسراء سورت: ٢٣- او ٢٤ آیتونه.

او دا قول يې: او الله ولمانځئ او له هغه سره هیڅ مه شریکوئ. د النساء سورت: ٣٦ آيت

او دا قول يې: ووایه: راځئ زه پرتاسو هغه څه ولولم چې پالونکي مو دربانديې ناروا کړي دي هغه دا چې له هغه سره هیڅ مه شریکوئ او له مور اوپلار سره ښېګڼه کوئ، او د بې وزلۍ له وېرې خپل اولادونه مه وژنئ، موږ تاسو او هغوی ته روزي درکوو، او ښکاره او پټو ناروا وو ته مه نږدې کیږئ، او هغه نفس مه وژنئ چې الله يې وژل ناروا کړي دي مګر په حق سره، پر دغو يې تاسو ته حکم کړی ترڅو له عقله کار واخلئ. او د یتیم مال ته مه نږدې کیږئ مګر په هغه لار چې غوره ده، ترڅو هغه ځوانۍ ته نه وي رسېدلی، او پیمانه او تول په انصاف سره پوره کوئ، موږ هیڅوک د هغه له توان څخه زيات نه مکلفوو، او چې خبره کوئ؛ نو انصاف (رېښتینولي) کوئ، که څه هم خپلوان وي، او د الله پر ژمنه وفا کوئ، پر همدو يې تاسو ته

حکم کړی، کېدای شي تاسو پند واخلئ.(مخاطب دې امید ولري الله د کیدای شي په درجه کې خبره نه کوي او یا په بل عبارت (لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ) د دې د پاره چې تاسو پند واخلئ. او يقينا دا(قران او سنت) زما نيغه لار ده؛ نو پيروي يې وکړئ، او په نورو لارو پسې مه ځئ، چې بیا د هغه له لارې خواره واره شئ؛ پر دغو يې تاسو ته حکم کړی ترڅو ځانونه (له بې لارې) وساتئ. د الأنعام سورت: ۱۵۱- ۱۵۳ آیتونه.

ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: څوک که غواړي چې د محمد صلى الله عليه وسلم هغه سپارښتنې ته وګوري چې پر هغو يې مهر دی؛ د الله تعالی دا وینا دې ولولي: ووایه: راځئ زه پرتاسو هغه څه ولولم چې پالونکي مو دربانديې ناروا کړي دي هغه داچې له هغه سره هيڅ مه شريکوئ. د هغه تر دې وينا پورې: او بيشکه دغه زما نيغه لار ده (آيت).

او له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: زه له نبي -صلى الله عليه وسلم- سره پر خره تر شا سپور وم؛ نو هغه ماته وويل: اې معاذه! آيا پوهېږې د الله حق پر بندګانو څه دی او د بندګانو حق پر الله څه دی؟. ما وويل: الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، هغه وفرمایل: د الله حق پر بندګانو دا دی چې هغه ولمانځي او هيڅوک ورسره شريک نه کړي، او د بندګانو حق پر الله دا دی چې هغه چاته سزا ورنه کړي چې له هغه سره يې څه نه دي شريک کړي. ما وويل: ای د الله رسوله! آيا خلکو ته زېری ور نه کړم؟ هغه وفرمایل: نه زېری مه ورکوه چې بیا به په همدې بسنه او اعتماد وکړي او نېک کارونه به پرېږدي. په صحيح بخاري او مسلم کې يې دغه حديث راوړی.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د پېريانو او انسانانو په پيدايښت کې حکمت.

دويمه: دا چې عبادت توحيد دی، ځکه شخړه په همدغه توحيد کې ده.

دريیمه: يقينا چا چې په توحيد راتګ نه کړی؛ هغه د الله عبادت نه دی کړی، چې همدغه کې د الله د هغې وينا معنا ده: (چې تاسو د هغه څه عبادت نه کوئ د کوم چې زه عبادت کوم).

څلورمه: د رسولانو په لېږلو کې حکمت.

پنځمه: دا چې رسالت ټولو امتونو ته عام دی.

شپږمه: دا چې د نبیانو دین یو دی.

اوومه: لویه مسئله: بیشکه د الله عبادت نه حاصلیږي مګر په کفر کولو د غیرالله په عبادت، چې په دغه کې د الله د وینا معنا ده: **(پس چا چې کفر وکړ په طاغوت (هر هغه شی چې د الله نه په غیر یې عبادت کیدای شي) او پر الله ایمان راوړي** (آیت)

اتمه: یقینا طاغوت یو عام لفظ دی: هر هغه شی چې د الله تعالی نه یې په غیر عبادت کیدی شي.

نهمه: د سلفو په اند په الأنعام سورت کې د دریو محکمو(دلالت یې واضحه دی) آیتونو د شان لوی والی او په هغو کې لس مسئلې دي: لومړۍ یې له شرک څخه نهې ده.

لسمه: د الإسراء په سورت کې محکم آیتونه چې په هغو کې اتلس مسئلې دي، چې الله یې پیل له دغې وینا څخه کړی دی: له الله سره بل معبود مه نیسه، کنه بیا به بد ویلی شوی او شرمیدلی کیني.

او ختم یې په دغه وینا سره کړی. له الله سره بل معبود مه نیسه، چې په دوزخ کې به ملامت او رټل شوی واچول شې. او الله پاک مونږ د دغو مسئلو د مرتبې پر لوی والي په خپله وینا داسې خبردار کړلو: دا هغه څه دي چې پالونکي دې له حکمت څخه درته وحي کړي دي.

یوولسمه: د النساء سورت هغه آیت چې د لسګونو حقوقو په نوم نومول شوی دی، الله تعالی پر هغه وینا پیل کړی: د الله عبادت وکړئ او له هغه سره څه مه شریکوئ.

دولسمه: د رسول الله –صلی الله علیه وسلم– پر هغه سپارښتنه تنبیه چې د خپلې مړینې پر مهال یې کړې وه.

دیارلسمه: پر موږ د الله تعالی د حق پېژندنه.

څوارلسمه: پر الله د بندګانو د حق پېژندنه کله چې هغوی د الله حق ادا کړي.

پنځلسمه: پرته له شکه دغه مسئله ډېرى صحابه وو ته ور معلومه نه وه.

شپاړسمه: د کوم مصلحت له مخې د پوهې د پټولو رواوالى.

اوولسمه: مسلمان ته پر هغه څه زيرى ورکول چې خوشحالوي يې يو مستحب کار دى.

اتلسمه: د الله د رحمت پر پراخوالي له توکل څخه وېره.

نولسمه: د پوښتل شوي تن د هغه څه په اړه دا وينا چې نه وي ورمعلوم چې: الله او د هغه رسول ښه پوهيږي.

شلمه: له ځينو خلکو پرته د ځينو نورويه پوهه سره د ځانګړي کولو روا والى.

يوويشتمه: د نبي صلى الله عليه وسلم دا عاجزي چې پر خره يې سپرلى کوله او بل څوک يې ورسره شاته سپرولو.

دوه ويشتمه: پر سپرلۍ د بل چا ترشا د سپريدو رواوالى.

درويشتمه: د معاذبن جبل غوراوى.

څلورويشتمه: د دغې مسئلې د شان لوى والى.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د فضیلت د توحید کې او په بیان د هغه څه کې چې ګناهونه ورانوي

او دا وینا د الله تعالی: هغه کسان چې ایمان یې راوړی او له ایمان سره یې شرک ندی ګډ کړی د همدوی لپاره امن دی او هغوی لارمومندونکي دي. د الأنعام سورت: ۸۲ ایت

او له عبادة بن صامت –رضي الله عنه– څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې دا شاهدي ورکړه چې یوازې الله د عبادت وړ دی هیڅ شریک نه لري او دا چې محمد صلی الله علیه و سلم د هغه بنده او رسول دی، او دا چې عیسی علیه السلام د الله بنده او رسول دی، او د هغه کلمه او د هغه له لوري روح دی چې مریم ته یې وراچولې او داچې جنت حق دی او دوزخ حق دی، الله به یې جنت ته ننباسي پر هر ډول عمل چې وي. هغوی دواړو (بخاري او مسلم) په سند سره روایت کړی او د هغوی دواړو د عتبان په حدیث کې راغلي: پرته له شکه الله پر دوزخ هغه څوک حرام کړي چې دا ووایي: یوازې الله د عبادت وړ دی، پر دغه خبره د الله مخ لټوي.

دابوسعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی هغه له رسول الله –صلی الله علیه وسلم– څخه روایت کوي چې هغه وفرمایل: موسی علیه السلام وفرمایل: اې پالونکیه! داسې څه راوښیه چې تا پرې یادوم او پرې رابولم. هغه وفرمایل: اې موسی علیه السلام ووایه: له الله پرته بل د عبادت وړ نشته. هغه وویل: ټول بندګان دې دغه وایي؟ هغه وفرمایل: اې موسی علیه السلام! که چېرې اوه اسمانونه او له ما پرته د هغو ابادوونکي او اوه ځمکې په یوه پله کې وي او لا اله الا الله په بله پله کې؛ نو د "لااله الا الله" پله به درنده شي. ابن حبان او الحاکم روایت کړی او صحیح یې بللی.

او د ترمذي روایت چې حسن یې بللی له انس څخه دی: وایي ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې فرمایل یې: **الله تعالی فرمايي: ای د آدم زویه! پرته له شکه که ته د ځمکې په اندازه له ګناهونو سره راشې، بیا له ما سره په داسې حال کې یوځای شې چې له ما سره هیڅ شی نه شریکوې؛ نو زه به هرومرو د هغې په اندازه له بخښنې درشم.**

په دې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د الله د پېرزوینې پراخوالی.

دویمه: د الله په وړاندې د توحید د ثواب زیاتوالی.

درییمه: د هغه سربېره د ګناهونو بخښل.

څلورمه: د هغه آیت تفسیر چې په الأنعام سورت کې دی.

پنځمه: د هغو پنځو شیانو په اړه غور کول چې د عبادة په حدیث کې دي.

شپږمه: پرته له شکه کله چې ته د عباده او عتبان د حدیث او له هغه وروسته سره یوځای کړې د (لا إله إلا الله) معنا او د مغرورو خلکو تېروتنه به درته څرګنده شي.

اوومه: د عتبان په حدیث کې یاد شوي شرط ته پاملرنه.

اتمه: نبیان هم د (لا إاله إلا الله) پر فضیلت تنبیه ته اړتیا لري.

نهمه: پر ټولو مخلوقاتو د هغې پرغوراوي تنبیه، سره له دې ډېری هغه خلک چې وایي یې تله به یې سپکه وي.

لسمه: دا خبره په ډاګه بیانول چې ځمکې هم د آسمانونو غوندې اوه دي.

یولسمه: او دا چې هغو لره اباداوونکي دي.

دولسمه: د اشعریه وو پر خلاف د صفتونو اثبات.

دیارلسمه: کله چې د انس پر حدیث پوه شوې، د عتبان په حدیث کې به پر هغه وینا پوه شې چې **"پرته له شکه الله پر دوزخ هغه څوک حرام کړي چې " (لا إله إلا الله) ووایي، پر هغې د الله مخ لټوي، چې د شرک پرېښودل یوازې د هغې کلمې په خوله ویل ندي.**

څوارلسمه: په دی خبره فکر وکړه چې الله تعالی عیسی او محمد علیهما اقضل الصلات و السلام په دوه صفتونو کې یو ځای کړل: عبدیت او رسالت (دا دواړه د الله تعالی بنده ګان او رسولان وو نه الهه).

پنځلسمه: د عیسی علیه السلام د ځانګړي کولو پېژندګلوي په دې سره چې هغه د الله کلمه ده.

شپاړسمه: د هغه د الله له لوري د روح په توګه پېژندنه.

اولسمه: په جنت او جهنم د ایمان د فضیلت پېژندنه.

اتلسمه: د هغه د وینا پېژندنه (چې پر هر عمل وي).

نولسمه: د دې خبرې پېژندنه چې تلې لره دوې پلې دي.

شلمه: د وجه (مخ) د یادونې پېژندنه.

باب دی په بیان د دې کې چې چا توحید ومانه(عملي یې کړ) هغه به پرته له حسابه جنت ته ننوځي.

او د الله تعالی وینا: پرته له شکه ابراهیم علیه السلام امت وو(د خیر معلم و) همیشه د الله تابعدار و الله ته متوجه و او د مخلوق نه مخ اړوونکی و او له مشرکانو څخه نه و. د النحل سورت: ۱۲۰ ایت.

او الله تعالی فرمايي: **او هغه کسان چې له خپل پالونکي سره څوک نه شریکوي.** د المؤمنون سورت: ۵۹ ایت

له حصین بن عبدالرحمن څخه روایت دی وايي: زه له سعید بن جبیر سره وم، هغه وویل: چا تېره شپه هغه ستورى ولیدى چې مات شو؟ ما وویل: ما، بیا یې وویل: خو زه په لمانځه کې نه وم بلکې وچیچل شوم، ويې ویل: نو څه دې وکړل؟ ما وویل: دم مې کړ، هغه وفرمایل: څه شي دېته وهڅولې؟ ما وویل: هغه حدیث چې شعبي راته بیان کړی، هغه وفرمایل څه ډول حدیث یې درته بیان کړي؟ ما وویل: له بریدة بن حصیب څخه یې راته روایت کړی چې هغه

وفرمایل: له بد نظرۍ او لړم چیچلو پرته د بل څه دپاره بهتر دم نشته. هغه وویل: هغه چا غوره کار کړی چې دا یې اوریدلي دي؛ خو ابن عباس رضي الله عنهما له نبي صلى الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه وفرمایل: ماته امتونه راوښودلی شول، چې له یو نبي سره مې یوه ډله ولیدله، له بل نبي سره مې یو یا دوه تنه ولیدل، او له بل نبي سره مې هیڅوک هم ونه لیدل، چې همدغه وخت یو لوی تولی ماته پورته کړل شو، فکر مې وکړ چې هغوی به زما امتیان وي، خو راته وویل شول: دغه موسی او قوم یې دی، بیا مې یو لوی تولی ولیدی؛ نو راته وویل شول: دغه ستا امت دی او له هغوی سره اویا زره نور وو چې پرته له حساب او عذاب څخه جنت ته ننوتل. بیا هغه پورته شو او کور ته یې ننوت؛ نو خلکو د هغوی په اړه خبرې پیل کړې، چا ویل: کېدای شي هغوی د رسول الله صلى الله علیه وسلم صحابه وي، او ځینو ویل: کېدای شي هغه خلک وي چې په اسلام کې پیدا شوي دي او له الله سره یې هیڅ نه دي شریک کړي، او ځینو بیا نور څه ویل: چې بیا رسول الله صلى الله علیه وسلم پر هغوی را ووت او هغوی خبر ورکړ نو رسول الله صلى الله علیه و سلم و فرمایل: هغوی هغه کسان دي چې نه دم کوي، نه داغ ږدي او نه بد فالي نیسي او پر خپل پالونکي بروسه کوي. نوعکاشة بن محصن ولاړ شو او ویې ویل: اې د الله رسوله! دعاء وکړه چې الله ما له هغوی څخه وګرځوي، هغه وفرمایل: ته له هغوی څخه یې، بیا یو تن پورته شو ویې ویل: الله ته دعاء وکړه چې ما هم له هغوی څخه وګرځوي، نو هغه وفرمایل: په دې اړه عکاشه در څخه مخکې شو.

په دې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړی: په توحید کې د خلکو د مرتبو پېژندنه

دویمه: د هغه د تحقیق معنا څه ده؟

درېیمه: د هغه(الله) له لوري د ابراهیم علیه السلام ستاینه چې هغه له مشرکانو څخه نه و.

څلورمه: د هغه له لوري د ولیانو د سردارانو ستاینه چې هغوی له شرک څخه خوندي وو.

پنځمه: د دم او داغ لګولو پرېښودل د توحید له منلو څخه دي.

شپږمه: پر (الله) توکل د دغو دواړو خویونو یو ځای کوونکی دی.

اوومه: د صحابه وو د پوهې ژوروالی په دې وپوهیدل چې دا نه شي خاصلولای مګر په عمل.

اتمه: په ښېګڼې د هغوی تینګار (حرص).

نهمه: د کمیت او کیفیت له پلوه د دغه امت غوراوی.

لسمه: د موسی د ملګرو غوراوی.

یوولسمه: پر نبي علیه السلام د امتونو وړاندې کول.

دولسمه: دا چې هر امت به یوازې له خپل نبي سره یې را پورته کیږي.

دیارلسمه: د هغه خلکو لږوالی چې د نبیانو بلنه یې منلې.

څوارلسمه: هغه (نبي) چې هیچا یې بلنه نه وي منلې یوازې به راځي.

پنځلسمه: د دغه علم پایله دا ده چې پر زیاتوالي یې څوک مغرور نه شي او په کموالي یې مه راضي کیږه.

شپاړسمه: له بدو سترګو څخه د دم او تبه یا دې ته ورته ناروغي اجازه.

اولسمه: د پخوانیو د علم ژوروالی د هغه د وینا له امله چې ویلي یې دي: (هغه چا ډیر غوره کار کړی چې هغه یې اوریدلي، خو داسې او داسې) له دې څخه څرګنده شوه چې لومړی حدیث د دویم سره په ټکر کې نه دی.

اتلسمه: پخواني له دې څخه لیرې وو چې پر هغه څه د چا ستاینه وکړي کوم چې به په چا کې نه و.

نولسمه: د هغه دا وینا: چې ته د هغوی له ډلې یې، دا د نبوت له نښانو یوه نښه ده.

شلمه: د عکاشه فضیلت.

یوویشتمه: د معاریضو (کنایو) کارونه

دوه ویشتمه: د نبي صلی الله علیه وسلم د اخلاقو ښه والی.

★★★★★★★★

باب دی؛ له شرك څخه د ويرې په اړه.

او د الله جل جلاله وينا: **پرته له شکه الله دا نه بخښي چې له هغه سره شرک وشي او له دغه پرته چې چاته وغواړي بخښي يې.** د النساء سورت: ٤٨ ايت.

او خليل عليه السلام فرمايلي: **او ما او زما اولادونه د بتانو له عبادت څخه وساته لدې چې بوتان ولمانځو.**

د ابراهيم سورت: ٣٥ ايت

او په حديث کې دي: **ترټولو زيات ويرووونکې شی چې زه د هغه په اړه پرتاسو ډارېږم هغه کوچنی شرک دی، نو د هغه په اړه پوښتنه ترې شوه؟ هغه وفرمايل: رياء (ځان ښوونه).**

او له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: **څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې له الله پرته بل سيال رابولي، هغه به دوزخ ته ننوځي. بخاري روايت کړی. او د مسلم په روايت کې له جابر رضي الله عنه څخه راغلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې له الله سره په داسې حال کې مخ شي چې له هغه سره هيڅ نه شريکوي جنت ته به ننوځي، او څوک چې په داسې حال کې ورسره مخ شي چې بل څه ورسره شريکوي دوزخ ته به ننوځي.**

په دې کې يوشمېر مسئلې دي:

لومړی: له شرک څخه ويره.

دويمه: دا چې رياء (ځان ښودنه) له شرک څخه ده.

درېيمه: دا چې هغه کوچنی شرک دی.

څلورمه: دا چې هغه ترټولو زيات ويرووونکی دی چې د نېکانو په اړه ترې ويره وي.

پنځمه: د جنت او دوزخ نيږدېوالی.

شپږمه: د هغو دوارو د نېږدېوالي ترمنځ په يو حديث کې جمعوالی.

اوومه: داچې څوک له الله سره په داسې حال کې مخ شي چې څوک ورسره نه شريکوي جنت ته به ننوځي، او څوک چې په داسې حال کې ورسره مخ شي چې څه ورسره شريکوي دوزخ ته به ننوځي، که څه هم هغه ترټولو خلکو زيات عبادت کوونکی وي.

اتمه: لويه غوښتنه د خليل د ځان او اولادونو لپاره د بتانو له لمانځلو څخه د خونديتوب غوښتنه ده.

نهمه: د ډېری خلکو حال ته په کتو سره د هغه د وينا له مخې: اې زما پالونکيه! پرته له شکه هغوی ډېری خلک لاروركي کړي دي.

لسمه: په دې کې د (لا إله إلا الله) تفسير دی لکه څنګه چې بخاري بيان کړی.

يوولسمه: د هغه چا غوراوی چې له شرک څخه خوندي وي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د رابللو د " لا إله إلا الله" کلمې شهادت ته.

او د الله تعالی هغه وینا : ووایه دغه زما لار ده، زه او هغه څوک چې زما پیروي یې کړې ده الله ته په بصیرت بلنه کوو، او الله لره پاکي ده او زه له مشرکانو څخه نه یم. د یوسف سورت: ۱۰۸ ایت

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله معاذ یمن ته ولیږه ورته یې وویل: ته د اهل کتابو یو قوم ته ورځې، نو لومړی یې د لا اله الا الله شاهدي ورکولو ته راوبوله، او په یو روایت کې دي چې د الله توحید ته یې راوبوله – که یې په دغه کې ستا پیروي وکړه، بیا ورته وښیه چې الله پر هغوی په یوه ورځ او شپه کې پنځه لمنځونه فرض کړي دي، که یې په دغه کې هم ستا پیروي وکړه بیا خبر ورکړه چې الله پر هغوی زکات فرض کړی چې له شتمنو یې اخیستل کیږي او بې وزلو ته یې ورکول کیږي، که یې په دغه کې هم ستا پیروي وکړه؛ نو له غوره مالونو څخه یې ډډه وکړه، د مظلوم له ښېرا څخه ځان وساته، ځکه د هغې او الله ترمنځ هیڅ پرده نشته. هغوی دواړو(بخاري او مسلم) روایت کړی دی.

او د هغوی دواړو په روایت کې له سهل بن سعد څخه راغلي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خیبر په ورځ وفرمایل: سبا هرومرو هغه سړي ته بیرغ ورکوم چې هغه له الله او د هغه له رسول سره مینه لري او الله او د هغه رسول هم ور سره مینه، الله به د هغه پر لاسونو فتح راولي. نو خلکو ټوله شپه په بحث کولو تېره کړله، چې له هغوی به چاته بیرغ ورکول کیږي، کله چې سهار شو، هغوی وختي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلل، هرچا هیله لرله چې هغه ته به بیرغ ورکړل شي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: علي بن ابي طالب چیرې دی؟

ورته وویل شول: د هغه سترګې خوږېږی، بیا یې هغوی ورولېږل او هغه راوستل شو، په سترګو کې یې لاړې ورواچولې او دعا یې ورته وکړه؛ هغه داسې جوړ شو لکه بیخي چې ناروغ نه وي، بیا یې بیرغ ورکړ؛ نو ویې فرمایل: په طبیعت ولاړ شه تردې چې د هغوی سیمې ته ورسېږې،

بيا هغوی اسلام ته راوبوله او د الله تعالی پر واجب حق يې خبر کړه، پر الله قسم که الله ستا له امله يو سړي ته لار روښيي دا درته غوره ده تر سرو اوښانو.

(يدوکون) يعني په بحث کولو بوخت وو.

په دې کې يوشمېر مسئلې دي:

لومړی: دا چې د الله لورې ته بلنه د هغه چا لار ده چې د نبي - صلی الله عليه وسلم- پيروي يې کړې ده.

دويمه: اخلاص ته پاملرنه، ځکه ډېرى خلک که حق ته بلنه ورکوي؛ نو هغه ځانته بلنه ورکوي.

درېيمه: دا چې بصيرت له فرائضو څخه دی.

څلورمه: د غوره توحيد له دلائلو څخه دا هم دي چې الله له ښکنځلو پاک دی.

پنځمه: د شرک له بدوالي څخه الله ته بدرد ويل دي.

شپږمه: دغه يې له اړينو مسئلو څخه ده: د مسلمانانو لېرې والی له مشرکانو څخه ترڅو له هغوی ونه کرځي که څه هم شرک ونه کړي.

اوومه: دا چې توحيد لومړی واجب دی.

اتمه: پر هغه تر ټولو لومړی آن له لمانځه مخکې پيل کېږي.

نهمه: د الله د يووالي معنا همغه د لا إله إلا الله معنا ده.

لسمه: دا چې انسان کله له اهل کتاب څخه وي، خو هغه نه پرې پوهيږي او يا پوهيږي خو عمل نه پرې کوي.

يوولسمه: په تدريجي ډول ښوونې ته پاملرنه.

دولسمه: دا چې تر ټولو لومړی پر مهم کار پيل وشي.

دیارلسمه: د زکات مصرف او اهل خلک.

څوارلسمه: د عالم لخوا د متعلم د شبهې کشف او ښکاره کول.

پنځلسمه: له غوره مالونو اخيستلو څخه منع.

شپاړسمه: د مظلوم له ښيرا څخه ځان ساتل.

اولسمه: پر دې خبره خبرول چې د مظلوم دعا نه رديږي.

اتلسمه: د توحيد له دلايلو څخه دا هم دي چې د رسولانو پر سردار او وليانو پر سردارانو کومې ستونزې لوړه او کړاو راغلي دي.

نولسمه: د هغه وينا: (چې هرومرو به بيرغ ورکوم) ترپايه، دا د نبوت له نښانو يوه نښه ده.

شلمه: د هغه په سترګو کې لاړې وراچول هم د نبوت له نښانو څخه يوه نښه ده.

يوويشتمه: د علي رضي الله عنه فضيلت.

دوه ويشتمه: د صحابه وو فضيلت په دغه شپه کې د فکر کولو کې او د بريا له زيري څخه د هغوی د بوختيا له امله.

درويشتمه: پر تقدير ايمان لرل ځکه چې څوک يې توان نلري هغه ته د حاصلېدلو له امله او څوک يې چې هڅه کوي له هغه څخه د منعې له امله.

څلورويشتمه: د هغه په وينا کې ادب چې (په خپل طبيعت ولاړ شه).

پنځه ويشتمه: له جګړې مخکې اسلام ته رابلنه.

شپږويشتمه: دا چې دا خبره هم روا ده چې که څوک مخکې رابلل شوي وي او جګړه ورسره شوې وي.

اوه ویشتمه: په حکمت سره بلنه لکه چې فرمايي: (هغوی پر هغه څه خبر کړه چې پرې واجب دي.

اته ویشتمه: په اسلام کې د الله د حق پېژندنه.

نه ویشتمه: د هغه چا ثواب چې پر لاسونو يې يو سړی لاربنوونه ومومي.

دېرشمه: پر فتوا د قسم (لوړې) کول.

★★★★★★★★

باب دى په بيان د وضاحت د توحيد کې او په بيان د وضاخت د ګواهی د (لا إله إلا الله) کې.

او د الله تعالی وینا ده: دوی چې چاته بلنه ورکوي هغوی خو په خپله د خپل رب لور ته وسیله لټوي چې کوم یو (هغه ته) ورنژدې دی او د رحمت هیله یې کوي او له عذابه یې ویرېږي، په رېښتیا ستا د رب عذاب د وېرې وړ دی. د الإسراء سورت: ۵۷ ایت.

او د هغه وینا: او کله چې ابراهیم علیه السلام خپل پلار او قوم ته وویل: پرته له شکه زه له هغه څه بېزاره یم چې تاسو یې لمانځئ.(۲۶). مګر هغه ذات چې زه یې پیداکړی یم؛ نو هغه مې لارښوونه کوي.(۲۷) او هغه یې په خپل راتلونکي نسل کې یوه پاتېدونکې خبره وګرځوله تر څو هغوی (توحید ته) بېرته راوګرځي. د الزخرف سورت: ۲٦– ۲۸ آیتونه.

او د هغه وینا: خپل عالمان او پیران یې مالکان د حل او د حرمت له الله پرته نیولي وو او همدارنګه د مریمې زوی مسیح (یې هم معبود نیولی) او حال داچې هغوی د یو الله له عبادت پرته په بل څه نه وو ګمارل شوي، له هغه پرته خو کوم بل معبود نشته، له هغه څه پاك دی چې هغوی یې ورسره شریکوي.

د التوبة سورت: ۳۱ آیت.

او د هغه وینا: او ځینې کسان له الله پرته داسې سیالان نیسي چې د الله په څېر مینه ورسره کوي او چاچې ایمان راوړی هغوی خو د الله په مینه کې ډېرکلك دي. د البقرة سورت: ۱٦۵ آیت.

او په صحیح کې له نبي صلی الله علیه وسلم راغلي چې هغه فرمایلي: چاچې لا إله إلا الله وویل: او له الله پرته د نورو له لمانځلو یې نټه وکړه، د هغه مال او وینه حرام دي او حساب یې پر الله جل جلاله دی.

د دغې ژباړې شرحه ورروستني بابونه دي.

په دغه کې لویې مسئلې دي او ترټولو مهمه یې ده:

د توحيد او شهادت تفسير او په څرګندو چارو سره يې بيان کړ.

يوه له هغو څخه داده: چې د الإسراء په ايت کې يې پر هغو مشرکانو رد بيان کړی چې نېکان رابولي، او دا خبره يې بيان کړې چې دا لوی شرک دی.

او يوه مسئله دا ده: چې د براءة په آيت کې دا خبره بيان شوه چې اهل کتابو خپل عالمان او عابدان(پيران) له الله پرته مالکان د حل او د حرمت وګرځول، او دا يې بيان کړ چې هغوی ته يوازې د يو الله د لمانځلو امر شوی و، سره له دې چې له ستونزې پرته تفسير يې د عالمانو او عابدانو په هغه څه کې پيروي ده چې ګناه نه وي، نه د هغوی لخوا لمانځل يې.

او يوه مسئله: کافرانو ته د خليل عليه السلام وينا ده: چې زه له هغه څه بېزار يم چې تاسو يې لمانځئ.(٢٦) مګر هغه ذات چې زه يې پيداکړی يم. چې خپل پالونکي يې له معبودانو څخه مستثنی کړل.

او الله پاک دا خبره بيان کړه چې دغه بېزاري او دغه دوستي د لا إله إلا الله کلمې د شهادت تفسير دی. او هغه يې په خپل راتلونکي نسل کې يوه پاتېدونکې خبره وګرځوله تر څو هغوی (توحيد ته) بېرته راوګرځي.

او يوه مسئله داده: چې د البقرة ايت د هغو کافرانو په اړه دی چې الله د هغوی په اړه ويلي دي. او هغوی له دوزخ څخه وتونکي نه دي. دا خبره يې بيان کړه چې هغوی سيالانو سره د الله غوندې مينه کوي، چې دا پردې خبره دلالت کوي چې هغوی له الله سره لويه مينه لري او هغوی يې په اسلام کې داخل نه کړل؛ نو د هغه چا به څه حال وي چې له سيال سره تر الله زياته مينه لري.

او د هغه چا به څه حال وي چې يوازې له سيال سره مينه لري نه له الله سره؟

او يوه مسئله: د نبي صلی الله عليه وسلم وينا ده: چاچې لا إله إلا الله وويل: او له الله پرته د نورو له لمانځلو يې نټه وکړه، د هغه مال او وينه حرام دي او حساب يې پر الله جل جلاله دی.

او دغه تر ټولو لوی هغه څه دي چې د (لا إله إلا الله) معنا بیانوي، ځکه د هغې تلفظ یې د وینې او مال ساتونکی ونه بللو، او نه یې د هغې د معنا پېژندګلوي د هغې له لفظ سره، او نه پر دغه اقرار کول، او نه داخبره چې یوازې هغه الله را بولي چې شریک نه لري، بلکې مال او وینه یې ترهغه وخته نه حرامیږي ترڅو یې له الله پرته د نورو له لمانځلو نټه نه وي کړې، که شک وکړې یا یې توقف وکړ؛ نو مال او وینه یې نه حرامیږي، نو دا څومره لویه او ستره مسئله ده؟

او دا څومره ښایسته بیان دی! څومره څرګند دی! او د جګړې کوونکي لپاره څومره پرېکوونکی دلیل دی؟

باب دی په بیان د دې کې چې د حلقې، تار او دېته ورته شیانو اچول د ستونزې د له منځه وړلو یا مخنیوي په موخه هم شرک دی.

او د الله تعالی هغه وینا : ووایه: آیا هغه څه چې تاسو یې رابولئ که الله ماته د کړاو رسول وغواړي هغوی یې لېرې کوونکي دي او یا هغه د لورېینې اراده راته ولري ایا هغوی یې د لورېینې بندوونکي دي، ووایه: الله راته بسنه کوي، پر همغه دې بروسه کوونکي بروسه وکړي. د الزمر سورت: ۳۸ ایت

له عمران بن حصین - رضي الله عنه څخه - روایت دی: چې نبي - صلی الله علیه وسلم - یو سړی ولید چې په لاس کې د ژېړو کړی وه؛ نو ویې ویل دا څه دي؟ هغه وویل: د کمزورۍ او درد(لرې کولو) لپاره ده؛ نو هغه وفرمایل: ویې باسه؛ ځکه هغه یوازې کمزوري در زیاتوي، او که ته مړ شې په داسې حال کې چې هغه درباندې وي؛ نو هېڅکله به بریالی نه شې. احمد په داسې سند سره روایت کړی چې ستونزه نه لري.

او هغه لره له عقبة بن عامر څخه مرفوع هم راغلی: چا چې تعویذ وځړاوه؛ نو الله دې نه ورته تمامول، او چا چې خر مهره وځوړوله الله دې سکون او ارام نه ورکوي. او په یو روایت کې دي: چا چې تعویذ وځړاوه؛ نو هغه شرک وکړ.

او ابن ابي حاتم له حذیفة څخه روایت کوي چې هغه یو سړی ولید چې په لاس کې یې د تبې تار و(بند)؛ نو هغه یې پرې کړ او د الله تعالی وینا یې تلاوت کړه: او ډېری یې پر الله باور نه لري مګر دا چې شرک کوونکي دي. د یوسف سورت: ۱۰٦ آیت.

پدې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د کړی، تار او دېته ورته نورو شیانو له کارولو سخت (منع کول) د دغې ډول موخې لپاره.

دویمه: دا چې صحابي که په داسې حال کې مړ شي چې هغه څه پرې وي، نه بریالی کیږي، نو په دې کې د صحابه وو پر وینا دا شاهد دی چې کوچنی شرک له لویو ګناهونو څخه دی.

دریيمه: بیشکه هغه یې په نا پوهۍ معذور ونه باله.

څلورمه: دا چې په دنیا کې هم ګټه نه رسوي، بلکې زیان رسوي د هغه – صلی الله علیه وسلم – د دغې وینا له مخې: چې هغه یوازې درد او کمزوري درزیاتوي.

پنځمه: په سختۍ سره پر هغه چا رد؛ څوک چې دا ډول کار کوي.

شپږمه: داخبره په ډاګه کول چې څوک کوم څه راوځړوي همغه ته ورسپارل کیږي.

اوومه: دا خبره په ډاګه کول چې چا تعویذ را وځړاوه؛ نو هغه شرک وکړ.

اتمه: دا چې د تبې لپاره تار راځوړول هم له دغې قبیلې څخه دي(شرک دی).

نهمه: د حذیفه له لوري د آیت لوستل د دې خبرې دلیل دی چې صحابه وو په وړوکی شرک کې پرهغو آیتونو استدلال کاوه کوم چې د غټ شرک په اړه وو، لکه ابن عباس چې د البقرې په آیت کې ذکر کړي.

لسمه: دا چې د بد نظرۍ لپاره د خرمهرې را ځړول هم له دې قبیلې څخه دي.

یوولسمه: د هغه چا لپاره ښېرا چې تعويذ را ځړوي چې الله دې کار نه بشپړوي، او څوک چې کونجکه وځوړوي، (د دې لپاره چې له درد نه پرې خلاص شي نو) الله دې له (درد څخه نه) خلاصوي: معنا دا چې الله دې هغه لره آرام نه پرېږدي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دمونو او تعویذونو کې:

په صحيح کې له ابو بشر الانصاري – رضي الله عنه – څخه روايت دی: **چې هغه له نبي – صلی الله علیه وسلم – سره په یو سفر کې و، نو هغه یې د استازي په توګه ولېږه: چې د هيڅ اوښ په غاړه کې غاړه کۍ د ليندۍ پرې نږدي، او یا دا چې هره غاړه کۍ باید پرې کړل شي.**

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: **ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې: بيشکه شرکي دمونه تعويزونه او د ميني جلبولو ګوډي شرک دی. احمد او ابوداؤد روايت کړی.**

تعويذونه: هغه څه دي چې له بد نظر څخه د ژغورلو په موخه پر ماشومانو ځوړندېږي، خو که چېرې ځوړند شوی شی له قرآن څخه وي نو ځينو سلفو جائز کړي، او ځينو نه دي جائز کړی، او منع يې ګرځولی دی، چې له هغوی څخه ابن مسعود رضي الله عنه هم دی.

رقی: هغه دمونه دي چې عزائم ورته ويل کيږي، او کوم چې له شرک څخه خالي وي هغه دليل ځنې ځانګړي کړي دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بد نظرۍ او چيچل شوي په اړه اجازه ورکړې ده:

تولة: هغه څه دي چې خلک يې کوي او دا ګمان کوي چې له امله يې ښځه له مېړه سره او مېړه له ښځې سره مينه کوي:

او له عبدالله بن عکيم څخه مرفوع روايت دی: **چا چې څه راوځړول همغه ته به وسپارل شي: احمد او ترمذي روايت کړی.** دا حديث امام احمد او بخاري روايت کړی:

امام احمد له رويفع څخه روايت کوي وايي: رسول الله – صلی الله علیه وسلم–ماته وفرمايل: **اې رويفع! کېدای شي عمر دې اوږد شي؛ نو خلکو ته خبر ورکړه، چا چې خپله ږيره غوټه کړه(د کبر او يا مخنثو سره د تشبيه له وجې)، يا يې پر خارويو د بد نظرۍ د مخنيوي لپاره څه را وځړول، يا يې د خاروي پر پليدۍ او يا هډوکي استنجاء وکړه؛ نو محمد صلی الله علیه و سلم له هغه څخه بېزاره دی:**

او له سعيد بن جبير څخه روايت دی وايي: **چا چې له يو انسان څخه تعويذ پرې کړ، دا داسې دی لکه د يو غلام آزادول.** وکيع روايت کړی دی:

او هغه له ابراهيم څخه روايت کوي وايي: **هغوی ټول تعويذونه بد ګڼل هغه که له قران څخه و او که له بل څه څخه:**

په دغه خبره کې دېرې مسئلې دي:

لومړی: د دمونو او تعويذونو تفسير:

دويمه: د تولة کلمې تفسير:

دريیمه: دا درې واړه ټول پرته له استثناء شرک دی:

څلورمه: يقينا هغه دم چې له بد نظرى او د کوم څه چيچلو لپاره وي هغه له دغو څخه نه دي:

پنځمه: دا چې تعويذ که له قرآن څخه وي د هغو په اړه د علماوو تر منځ اختلاف دی چې آيا له دغه شرک څخه دی او که نه؟

شپږمه: دا چې پر خارويو د بد نظرى لپاره د ليندى هغه پړې راځړول له همدغه شرک څخه دي.

اوومه: د هغه چا سخته ويرونه چې د ليندي(يا کوم بل شی په انسان يا حيوان ځوړندوي د دي د پاره چې د نظره نه شي).

اتمه: د هغه چا فضيلت چې له يو انسان څخه تعويذ پرې کړي.

نهمه: دا چې د ابراهيم وينا له هغه څه سره په ټکر کې نه ده چې مخکې تېر شول، ځکه د هغه موخه د عبدالله بن مسعود ملګري دي

★★★★★★★★

باب دی په بیان د هغه چا کښې چې په ونه، ډبره یا دېته ورته شیانو تبرک حاصلوي

او د الله تعالی په هغې وینا کې: ایا تاسې لات او عزی(بتان) لیدلي؟ (۱۹). او بل درېیم منات؟ (۲۰). آیا تاسو لره به زامن وي او هغه لره به لوڼې؟ (۲۱) دا خو یو ډېر بې انصافه وېش دی. (۲۲) دا پرته له یو څه نومونو بل څه نه دي(شرک هسې د مشرک د ژبې په سر خبره ده په خارج کې وجود نلري) چې تاسو او پلرونو مو ایښې دي، الله کوم دلیل پرې نه دی نازل کړی. هغوی پرته له گمان او نفسي غوښتنې بل څه پسې نه دي روان او په رښتیا د هغوی د پالونکي لخوا لارښوونه ورغلې ده: د النجم سورت: ۱۹- ۲۳.

له ابو واقد لیثي څخه روایت دی وایي: موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره حنین ته ووتلو، او موږ نوي مسلمانان شوي وو، د مشرکانو یوه د بېرې ونه وه چې هلته به ورسره کېناستل او پر هغې به یې خپلې وسلې راځړولې، هغې ته د ځړولو والا ویل کېده؛ نو موږ پر دغه د بېرې پر ونه تېرشو او موږ وویل: اې د الله رسوله! زموږ لپاره هم یوه د ځړولو والا وګرځوه لکه د هغوی لپاره چې د ځړولو والا ده، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله ترټولو لوی دی، پرته له شکه دا همغه لارې دي، پر هغه ذات مې دې قسم وي چې زما روح یې په لاس کې دی تاسو هغه څه وویل لکه بني اسرائیلو چې موسی علیه السلام ته وویل: زموږ لپاره یو معبود وګرځوه لکه د هغوی لپاره چې معبودان دي، هغه وویل تاسو یو داسې قوم یاست چې نه پوهېږئ. د الأعراف سوررت: ۱۳۸ آیت.

تاسو به هرومرو د هغو پر لارو ځئ چې له تاسو مخکې وو: ترمذي روایت کړی او صحیح یې بللی.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د النجم د آیت تفسیر.

دویمه: د هغه امر د بڼې پېژندنه چې هغوی یې غوښتنه کړې وه.

درېیمه: دا چې هغوی دا کار ونه کړ.

خلورمه: د هغوی داسې کېدل چې پر دغه کار يې د خپل ګمان سره سم الله ته نږدې کېدل غوښتل چې ګواکې هغه يې خوښوي.

پنځمه: دا چې هغوی پر دغه نه پوهېدل؛ نو له هغوی پرته نور خو به په طريق اولی ناپوه وو.

شپږمه: دا چې هغوی لره داسې نېکۍ او د بخښنې ژمنه ده چې له هغوی پرته نورو ته نشته.

اوومه: داچې نبي – صلى الله عليه وسلم– هغوی معذور ونه ګڼل بلکې پر هغوی يې پردې وينا سره رد وکړ. الله اکبر، پرته له شکه هغه داسې لارې دي چې تاسو به هرومرو د مخکېنيو پيروي کوئ. نو په امر کې يې سختي پر دغو درېو سره وکړه.

اتمه: لوی امر چې هغه مقصود دی: هغه دا چې هغوی يې پردې خبر کړل چې د هغوی غوښتنه لکه د بني اسرائيلو د غوښتنې غوندې ده چې هغوی موسی عليه السلام ته وويل: زموږ لپاره يو معبود وګرځوه.

نهمه: دا چې د دغه نفي د (لا إله إلا الله) له معنا څخه ده سره لده چې هغه پيچلي او پر دوی پټه وه.

لسمه: دا چې هغه پر فتوا قسم وکړ، په داسې حال کې چې هغه يوازې د يو مصلحت له مخې قسم کوي.

يوولسمه: دا چې په شرک کې لوی او کوچنی شته، ځکه هغوی د دغه له امله مرتد نه شول.

دولسمه: د هغوی دا وينا (چې موږ نوي مسلمانان شوي وو) په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې له هغوی پرته بل څوک له دغه څخه ناپوه نه و.

ديارلسمه: د تعجب پر مهال تکبير پر خلاف د هغه چا چې بنه يې نه ګڼي.

څوارلسمه: د ذرائعو (بدو چارو لارې) بندول.

پنځلسمه: د جاهليت له خلکو سره له ورته والي څخه منع.

شپاړسمه: د تعليم پر مهال غوسه.

اوولسمه: کلي قاعده د هغه – صلی الله علیه وسلم – د دغې وینا له مخې چې (دغه لارې دي.

اتلسمه: دا چې دغه د نبوت له نښانو څخه یوه نښه ده څکه ښنګه یې چې خبر ورکړی و همغسې وشول.

نولسمه: دا چې پر کوم څه الله په قرآن کې د یهودو او نصاراو بدي بیان کړې ده همغه زموږ لپاره هم دي.

شلمه: دا چې د هغوی په اند دا ثابته ده چې د عباداتو بنسټ پر امر دی، نو په اړه یې د قبر پر مسئلو تنبیه وشوه، کوم چې داخبره ده چې (رب دې څوک دی؟) هغه څرګنده ده، او کوم چې دا خبره ده چې (نبي دې څوک دی؟) په دې کې پر پټو خبر ورکول دي، او کوم چې دا خبره چې (دین دې څه دی؟) دا د هغوی د دغې وینا له مخې چې ویل یې:(زموږ لپاره یو معبود وګرځوه) تر پایه.

یوویشتمه: دا چې د اهل کتاب لاره داسې بده وه لکه د مشرکانو لاره.

دوه ویشتمه: دا چې له داسې باطل څخه منتقل شوی چې زړه یې پرې عادت شوی و ډېر ډاډ یې په اړه نه وي چې په زړه کې یې دي له دغه عادت څخه څه پاتې وي؛ د هغوی د دغې وینا له مخې: چې موږ د کفر زماني ته نېږدې وو؟

★★★★★★★★

باب دی په بیان د حلاله کې غیرالله لپاره

او د الله تعالی وینا: وواېه: پرته له شکه زما لمونځ، زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ یوازې د مخلوقاتو د پالونکي لپاره دي(١٦٢). هغه لره شریک نشته او پر همدغه ماته امر شوی او زه لومړنی د مسلمانانو یم.

د الأنعام سورت: ١٦٢– ١٦٣ آیتونه.

او د هغه د وینا په اړه: د خپل پالونکي لپاره دې لمونځ وکړه او قرباني وکړه. د الکوثر سورت: ۲ آیت.

له علي بن ابي طالب – رضي الله عنه – څخه روایت دی وایي: رسول الله – صلی الله علیه وسلم – څلور کلمې راته بیان کړې: پر هغه چا دې د الله لعنت وي چې له الله پرته د بل چا لپاره ذبح کوي، پر هغه چا دې د الله لعنت وي چې پر مورواپلار لعنت کوي، د الله لعنت دې پر هغه چا وي چې بدعتي ته پناه ورکوي، د الله لعنت پر هغه چا وي چې د ځمکې مناري (پولې وهی) بدلوي. مسلم روایت کړی.

او له طارق بن شهاب څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یو سړی د یو مچ په اړه جنت ته ننوت او یوسړی د یو مچ په اړه دوزخ ته ننوت.

هغوی وویل: او دا څنګه اې د الله رسوله؟.

هغه وویل: دوه سړي پر یو قوم تېرېدل چې هغوی یو بت لرلو د هر چا لپاره اړینه وه چې یوڅه ورته قربان کړي.

نو هغوی له هغو دوو څخه یوه ته وویل: قرباني وکړه.

هغه وویل: زما سره هیڅ د قربانولو لپاره نشته.

هغوی ورته وویل: قرباني وکړه که څه هم د مچ وي، نو هغه هم مچ قرباني کړ(د دې بوت په نامه)، چې هغوی یې لار پرېښوده؛ نو هغه دوزخ ته ننوت.

او دویم ته یې وویل: قرباني وکړه.

هغه وویل: له الله جل جلاله پرته بل چا ته زه قرباني کوونکی نه یم، نو هغوی یې سر پرې کړ، چې هغه جنت ته ننوت. احمد روایت کړی.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د {إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي} تفسير.

دويمه: د {فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ} تفسير.

دریيمه: پر هغه چا د لعنت پر ویلو پیل چې له الله پرته د بل چا لپاره ذبح کوي.

څلورمه: پر هغه چا لعنت ويل چې پر خپل مور او پلار لعنت وايي او له هغو څخه دا هم دي: چې ته د بل چا مور او پلار ته بد رد وایې؛ نو هغه ستا مور او پلار ته بد رد وايي.

پنځمه: پر هغه چا لعنت ویل چې بدعتي ته پناه ورکوي: او هغه داسې څوک دی چې یو نوي څه رامنځته کړي او په هغو کې د الله حق لازم ګڼي؛ نو داسې چا ته پناه وري چې په دغه کې پناه ورکوي.

شپږمه: پر هغه چا لعنت ویل چې د ځمکې مناري بدلوي: دا هغه نښې نښاني دي چې په ځمکه کې ستا او ستا د ګاونډي د حق ترمنځ توپیر راولي؛ نو ته په شاته مخته کولو سره هغه بدلوي.

اوومه: په عمومي ډول نا قرمانو خلکو باندې لعنت ویل او په یو معین شخص لعنت ویل په دې کې فرق دی.

اتمه: دغه لویه کیسه چې د مچ کیسه ده.

نهمه: دا چې هغه دوزخ ته ننوت د هغه مچ له امله چې د هغه قصد یې هم نه و کړی بلکې د هغوی له شره د خلاصون په موخه یې دا کار کړی و.

لسمه: د مؤمنانو په زړونو کې د شرک د اندازې پېژندنه، چې څنګه دغه تن پر وژلو صبر وکړ او د هغوی غوښتنه يې ونه منله سره لدې چې هغوی يوازې ظاهري عمل ترې وغوښت.

يوولسمه: هغه تن چې دوزخ ته ننوت هم مسلمان و، ځکه که چېرې کافر وای بيا يې داسې نه ويل: (چې د يومچ له امله دوزخ ته ننوت. (زه وايم دا ډېره قيمتي فايده ده)

دولسمه: په هغه کې د صحيح حديث لپاره شاهد دی. چې جنت ستاسو هر يوه ته د هغه د څپلۍ له تسمې څخه ورنيږدې دی او دوزخ هم همدارنګه.

ديارلسمه: د دې خبرې پېژندنه چې د زړه عمل لوی مقصود دی آن د بتانو د لمانځونکو په اند هم.

باب دی په بيان د دې کې چې د الله لپاره به په هغه ځای کې ذبحه نه کيږې چېرې چې د غيرالله لپاره ذبحه کيږې.

او د الله تعالی وينا: **هيڅکله په هغه کې مه درېږه، هغه جومات چې بنسټ يې له لومړۍ ورځې پر تقوا ايښودل شوی زيات د دې حقدار دی چې پکې ودرېږې، په هغه کې داسې سړي دي چې زياته پاکي خوښوي او الله زيات پاکي کوونکي خوښوي.** د التوبه سورت: ۱۰۸ آيت.

له ثابت بن الضحاک – رضي الله عنه – څخه روايت دی وايي: **يو سړي نذر ومنود چې په بوانه نومي ځای کې به اوښ حلالوي؛ نو له نبي – صلی الله عليه وسلم – څخه يې پوښتنه وکړه، هغه وفرمايل: آيا هلته له بتانو کوم داسې بت شتون درلود چې په جاهليت کې يې عبادت کېدلو.**

هغوی وويل: نه.

هغه وفرمايل: آيا هلته د هغوی له اخترونو څخه کوم اختر و.

هغوی وويل: نه. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: خپل نذر دې پوره کړه ځکه د الله په سرغړونه کې او په هغه څه کې د نذر پوره کول نشته چې انسان يې څښتن نه وي. ابوداود روايت کړی، او سند يې د هغوی دواړو (بخاري او مسلم) پر شرط برابر دی.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړۍ: د الله د وينا {لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا} تفسير:

دويمه: داچې سرغړونه كله په ځمكه كې اغېز كوي، همدارنګه پيروي.

دريیمه: د ستونزمنې مسئلې ردول څرګندې مسئلې ته ترڅو يې ستونزه له منځه ولاړه شي.

څلورمه: د مفتي لخوا تفصيل غوښتنه كه دغه ته اړتيا پيښه شي.

پنځمه: دا چې د نذر لپاره د يوې ټوټې ځمكې په ځانګړې كولو ستونزه نشته كله چې خنډونه شتون ونلري.

شپږمه: له هغو ځخه منع كله چې هلته د جاهليت له بتانو څخه كوم بت وي كه څه هم له منځه تللو وروسته وي.

اوومه: له هغو څخه منع كله چې هلته د هغوی له اخترونو څخه كوم اختر وي، كه څه هم له منځه تلو وروسته وي.

اتمه: دا چې پر دغه ډول ځايونو كې پر نذر كولو وفا روا نه ده، ځكه دا د ګناه نذر دی.

نهمه: له مشركانو سره د هغوی په اخترونو كې له ورته والي څخه وېرول كه څه يې هم د هغه قصد نه وي.

لسمه: په ګناه كې نذر نشته.

يوولسمه: په هغه څه كې نذر نشته چې انسان يې څښتن نه وي.

★★★★★★★★

باب دى په بيان د دې کې چې له الله پرته بل چا ته نذر شرک دی.

او د الله تعالی وینا: **هغوی خپل نذر پوره کوي او له هغې ورځې ډاريږي چې شر يې خپور وور دی.**

د الإنسان سورت: ۷ آیت.

د هغه د وینا په اړه: **او څه مو چې لګولي دي او يا مو کوم نذر کړی؛ نو پرته له شکه الله پرې پوهيږي.**

د البقرة سورت: ۲۷۰ آیت.

او په صحیح(البخاری) کې له عائشې - رضي الله عنها - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: **چا چې دا نذر وکړ چې د الله پیروي به کوي؛ نو پیروي دې وکړي، او چا چې دا نذر وکړ چې د الله سرغړونه به کوي؛ نو سرغړونه يې دې نه کوي.**

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د نذر د پوره کولو واجبوالی.

دويمه: کله چې دا خبره ثابته شوه چې نذر عبادت دی نو د بل چا په نامه نذر کول شرک دی.

دریيمه: دا چې د ګناه د نذر پوره کول روا ندي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې له الله پرته له بل چا څخه پناه غوښتل شرک دی

او دا وینا د الله تعالی: **او دا چې د انسانانو څه کسانو به د پیریانو پر څه کسانو پورې پنا اخیسته؛ نو لا یې ناراموي ورزیاته کړه.** د الجن سورت: ٦ آیت

او له خولة بنت حکیم – رضي الله عنها – څخه روایت دی وایي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل چې فرمایل یې: **څوک چې کوم ځای ته راشي؛ نو بیا ووایي: د الله پر بشپړو کلمو له هغه څه پناه غواړم چې پیدا کړي یې دي، هیڅ شی به زیان ورته ونه رسوي ترڅو له دغه ځایه نه وي تللی.** مسلم روایت کړی.

په دغه خبره کې دېرې مسئلې دي:

لومړی: د الجن سورت د آیت تفسیر.

دویمه: د هغه له شرک څخه کېدل.

دریيمه: پر دغه له حدیث څخه استدلال کول؛ ځکه علماء پرې استدلال کوي چې د الله کلمې مخلوق ندي، هغوی وایي: چې پر مخلوق پناه غوښتل شرک دی.

څلورمه: د دغې دعا فضیلت سره لدې چې لنډه ده.

پنځمه: دا چې پر یو شي دنیوي ګټه لکه د شر دفع کېدل او یا د ګټې ترلاسه کېدل حاصلېږي پردې دلالت نه کوي چې هغه دې شرک نه وي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې له الله پرته له بل چا څخه مرسته غوښتل او یا بل څوک را بلل شرک دی.

او د الله تعالی وینا: او له الله پرته بل هغه څوک مه رابوله چې نه ګټه او نه ضرر درته رسولای شي، که دې دا وکړل؛ نو پرته له شکه ته له تېرې کوونکو څخه يې. او که الله ضرر درته ورسوي؛ نو یوازې هغه يې لېرې کوونکی دی او که هغه د خیر اراده درته وکړي؛ نو د هغه د پېرزوینې څوک مخنیوونکی نشته، له بندګانو یې چې چاته وغواړي رسوي يې او هغه بخښونکی لوروونکی دی. د یونس سورت: ۱۰۶- ۱۰۷ آیتونه

او د هغه وینا: د الله په وړاندې روزي ولټوئ او د هغه عبادت وکړئ او شکر يې وباسئ همغه ته ورګرځول کېږئ. د العنکبوت سورت: ۱۷ آیت

او د هغه وینا: او له هغه چا به زیات لاروړکی څوک وي چې له الله پرته هغه څوک رابولي چې تر قیامته پورې یې ورته قبلولای نه شي او هغوی د دوی د بلنې څخه ناخبره دي. او کله چې خلک را پورته کړل شي هغوی لره به دښمنان وي او د دوی په بلنه به انکار کوونکي وي. د الأحقاف سورت: ۵- ٦ آیتونه.

او د هغه وینا: هغه څوک چې سخت ارمن ته ځواب ورکوي کله یې چې را وبولي او ستونزه يې له منځه وړي او تاسو په ځمکه کې ځای ناستي ګرځوي آیا له هغه سره بل الله هم شته؟ د النمل سورت: ٦٢ آیت

طبراني په خپل سند روایت کوي: چې د نبي -صلی الله علیه وسلم- په زمانه کې یو منافق و چې مؤمنان يې ازارول؛ نو ځینو يې وویل: راځئ پر رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له دغه منافق څخه مرسته وغواړو. نبي -صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: د هغه پر وړاندې له ما مرسته نه غوښتل کېږي بلکې له الله مرسته غوښتل کېږي.

په دغه خبره کې دېرې مسئلې دي:

لومړی: د دعا عطف پر مرسته غوښتلو د عام عطف پر خاص دی.

دويمه: د الله د دعې وينا {وَلاَ تَدْعُ مِن دُونِ اللهِ مَا لاَ يَنفَعُكَ وَلاَ يَضُرُّكَ} تفسير.

دریيمه: دا چې دغه لوی شرک دی.

څلورمه: دا چې ترټولو صالح تن که دغه کار د الله له رضاء پرته د بل چا لپاره ترسره کړې هغه به له تېری کوونکو څخه وګرځي.

پنځمه: له هغه وروسته آيت تفسير.

شپږمه: داچې دغه کار په دنيا کې هم ګټه نلري سره لدې چې هغه کفر دی.

اوومه: د درېيم آيت تفسير.

اتمه: دا چې د روزۍ لټول يوازې له الله څخه مناسب دي لکه څنګه چې جنت له هغه څخه غوښتل کيږي.

نهمه: د څلورم آيت تفسير.

لسمه: دا چې تر هغه چا زيات لاروړکی نشته چې له الله پرته بل څوک را بولي.

يوولسمه: دا چې هغه به د را بلونکي له را بللو بې خبره وي او له هغه به هيڅ خبر نلري.

دولسمه: دا چې دغه بلنه د رابلل شوي له رابلونکي سره د کينې او دښمنۍ لامل کيږي.

ديارلسمه: دغې بلنې ته د را بلل شوي عبادت ويلې شوی.

څوارلسمه: د دغه لمانځلو(راورسيږې را مدد شې) څخه د را بلل شوي نته انکار.

پنځلسمه: دغه چارې د خلکو د لاروړکۍ لامل کيږي.

شپاړسمه: د پنځم آيت تفسير.

اوولسمه: حيرانوونکی امر هغه د بت لمانځوکو دا اقرار دی چې سخت ارمن ته يوازې الله ځواب ورکوي او له همدې امله په سختيو کې هغه داسې رابولي چې يوازې هغه لره د دين ځانګړي کوونکي وي.

اتلسمه: د مصطفی -صلی الله علیه وسلم- د توحید ملاتړ او له الله سره د ادب رعایتول.

باب دی په بیان د الله تعالی دې وینا کې: آیا هغوی له الله سره هغه څه شریکوي چې هیڅ یې نه دي پیدا کړي او حال دا چې هغوی پیداکړل شوي دي. او نه هغوی لره د مرستې توان لري او نه د ځانونو مرسته کولای شي. د الأعراف سورت: ۱۹۱- ۱۹۲ آیتونه.

او د هغه وینا: او کوم کسان چې تاسو یې له هغه پرته را بولئ د خرما او زړي ترمنځ یې د نري پوستکي (په اندازه) واک هم نلري. که یې را وبولئ ستاسو رابلنه نه اوري او که یې واوري قبلولای نه شي او د قیامت په ورځ به ستاسو په شرک به رد کوي او خبر به در نه کړي تاسو ته په شان د خبردار ذات.

د فاطر سورت: ۱۳- ۱٤ آیتونه.

او په صحیح کې له انس څخه روایت دی وایي: د احد په ورځ نبي -صلی الله علیه وسلم- پر سر زخمي شو، د مخې غاښونه یې مات شول؛ نو هغه وفرمایل: هغه قوم به څنګه بریالی شي چې خپل نبي پر سر زخمي کړ. نو دغه آیت نازل شو: تا لره په امر کې هیڅ هم نشته.

د آل عمران سورت: ۲۸ آیت.

او په دې اړه له ابن عمر -رضي الله عنهما- څخه روایت دی: چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې کله هغه خپل سر د سهار په لمانځه کې د وروستي رکعت له رکوع څخه را پورته کړ؛ نو ویې فرمایل: اې الله! په فلاني او فلاني لعنت وکړې. وروسته تر دې چې (سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ) یې وویل؛ نو الله دغه آیت را نازل کړ: تا لره په دغه امر کې هیڅ حق نشته.

د آل عمران سورت: ۲۸ آیت.

او په یو روایت کې دي: هغه صفوان بن امیه، سهیل بن عمرو او حارث بن هشام ته ښېراوې کولې نو دغه آیت را نازل شو. تا لره په دغه امر کې هیڅ حق نشته. د آل عمران سورت: ۲۸ آیت.

او په دې اړه له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله –صلی الله عليه وسلم– هغه مهال ودرېده چې کله پر هغه دغه آيت را نازل شو: چې خپل نږدې خپلوان دې وویروه. (د الشعراء سورت: ۲۱٤ آیت) نو ويې فرمايل: اې د قريشو ډلې – يا دېته ورته کلمه يې وويله – خپل ځانونه مو واخلئ، زه د الله پر وړاندې هيڅ نشم درسره کولای، ای د عبدالمطلب زوی عباسه! زه د الله پر وړاندې هيڅ نشم درسره کولای، د رسول الله –صلی الله عليه وسلم– عمه صفيې، زه د الله پر وړاندې هيڅ نشم درسره کولای، اې د محمد لورې فاطمې، څومره مال چې غواړې راڅخه يې وغواړه، خو زه د الله پر وړاندې هيڅ نشم درسره کولای.

په دغه خبره کې دېرې مسئلې دي:

لومړی: د دوو آيتونو تفسير.

دويمه: .د احد کيسه.

دريیمه: د رسولانو د سردار ښېرا او تر شا يې د وليانو سرداران چې په لمانځه کې امين پسې وايي.

څلورمه: دا چې ښېرا د کافرانو پر خلاف وه.

پنځمه: دا چې هغوی داسې کړني ترسره کړې چې ډېری کافرانو نه وې ترسره کړې، له هغو څخه يو دا چې: خپل نبي يې پر سر زخمي کړ، او د هغوی لخوا د وژلو حرص يې، او يو دا چې: د وژل شوو مُثله کول سره لدې چې هغوی يې د کاکا زامن وو.

شپږمه: په دې اړه الله پر هغه دغه آيت را نازل کړ: تا لره په دغه امر کې هيڅ واک نشته.

اوومه: د هغه وينا: (او يا به د هغوی توبه قبوله کړي او يا به عذاب ورکړي) چې الله د هغوی توبه قبوله کړه؛ نو هغوی ايمان راوړ.

اتمه: د پيښو پر مهال د قنوت لوستل:

نهمه: چاته چې ښېرا کېدله په لمانځه کې د هغوی د نومونو او د هغوی د پلرونو د نومونو اخېستل.

لسمه: په قنوت کې د ټاکلې (معین) لعنت شتون.

یوولسمه: د نبي –صلی الله علیه وسلم– کیسه چې کله دغه آیت پرې نازل شو. **او خپل نېږدې خپلوان دې ووېروه.**

دولسمه: په دغه امر کې د نبي –صلی الله علیه وسلم– جدیت تردې چې هغه څه یې وکړل چې له امله یې لېونتوب ورته منسوب شو، نو که اوس یې کوم مسلمان وکړي هم همداسې به وي.

دیارلسمه: د هغه وینا لېرې او نېږدې ته: **چې زه تا ته د الله پر وړاندې هیڅ ګټه نشم رسولای. آن تردې چې ویې فرمایل: اې د محمد لورې فاطمې! زه تا ته د الله پر وړاندې هیڅ ګټه نشم رسولای.**

کله یې چې دا خبره په ډاګه کړه په داسې حال کې چې هغه د رسولانو سردار و، چې هغه د ټولو مخلوقاتو سردارې مېرمنې ته څه ګټه نشي رسولای، او انسان هم پردې باور لري چې هغه یوازې حق وایي، بیا یې په هغه څه کې فکر وکړ چې نن سبا د خاصو خلکو په زړونو کې راګرځي؛ نو هغه ته د توحید پرېښودل او د دین (غربت) نا اشنا والی په ډاګه شول.

باب دی په بیان د الله تعالی د وینا کي چې فرمایي: تردې چې کله یې له زړونو وېره لېرې شي، هغوی وایي پالونکي مو څه وویل: هغوی وایي: حق او همغه لوړ او لوی دی.

د سبا سورت: ۲۳ آیت.

په صحیح کې ابو هریره -رضي الله عنه- له نبي -صلی الله علیه وسلم- څخه روایت کوي چې هغه وفرمایل: کله چې الله په اسمان کې د کوم کار پرېکړه وکړي؛ نو پرېښتې د هغه وینا ته داسې په عاجزۍ وزرې ووهي، لکه پر پاکو او خویه ډبرو چې یو ځنځیر وهل کېږي، دغه پر هغوی پلې کوي تردې چې له زړونو یې وېره لېرې شي، بیا هغوی وایي: پالونکي مو څه وویل؟ هغوی وایي: حق او هغه لوړ او لوی دی، نو یو په پټه غوږ نیوونکی او دا په غلا غوږ نیوونکی(شیطانان) یې واوري داسې چې ځینې یې د ځینو له پاسه وي، سفیان په خپل لاس هغه حالت بیان کړ، داسې چې هغه یې په ځنګ کړ او ګوتې یې سره پرانیستې، نو کله چې یو یې کومه خبره واوري هغه یې لاندې والا ته ورسوي، بیا یې هغه تر ځان لاندې بل ته ورسوي، تردې چې د کوډګر یا غیب ویونکي خولې ته ورسیږي، بیا یې کله اور غورځوونکی ستوری مخکې تر رسولو وموي او کله بیا د هغه ترموندلو مخکې یې ورسوي، چې بیا سل درواغ ورسره یوځای کړي، نو ویل کیږي: آیا نن یې موږ ته داسې او داسې ونه ویل؟ نو د دغې له آسمانه اورېدلې کلمې تصدیق کیږي.

له نواس بن سمعان -رضي الله عنه- څخه روایت دی هغه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې الله د کوم کار په اړه د وحي کولو اراده وکړي، پر هغه وحي خبرې وکړي چې له امله یې اسمانونه په لړزه شي، او یا یې وویل: چې د الله له وېرې سخت ورپیږي، کله چې دغه د آسمان خلک واوري پرمخې ولوېږي او الله ته په سجده شي، نو ترټولو لومړی جبرئیل سر پورته کوي، چې الله د هغې وحي په اړه خبرې ورسره کوي چې اراده یې کړې ده، بیا جبرئیل پر پرېښتو تېرېږي، کله چې پر هر اسمان تېرېږي پرېښتې ترې پوښتي زموږ پالونکي څه وویل اې جبرئیله!

نو هغه ورته وايي: هغه حق وويل، او هغه لوړ او لوی دی، نو هغوی ټول هغه څه وايي کوم چې جبرئيل وويل، بيا جبرئيل وحي هغه ځای ته رسوي چېرې چې الله جل جلاله امر ورته پرې کړی دی.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د آيت تفسير.

دويمه: د شرک پر ابطال حجت په ځانګړي ډول هغه څوک چې د نېکانو پورې تړاو لري، او دا هغه ايت دی چې ويل کيږي: له زړه څخه د شرک د ونې رګونه پرې کوي.

درييمه: د الله تعالی د دغې وينا تفسير: هغوی وايي: حق يې وويل: او هغه لوړ او لوی دی.

څلورمه: د دغه په اړه د هغوی د پوښتنې لامل.

پنځمه: دا چې جبرئيل له دغه وروسته په خپله دې وينا سره هغوی ته ځواب ورکوي: چې هغه داسې او داسې وويل.

شپږمه: د دې خبرې يادونه چې ترټولو لومړی جبرئيل سر راپورته کوي.

اوومه: دا چې د آسمانونو ټولو خلکو ته وايي ځکه هغوی يې پوښتي.

اتمه: دا چې د اسمانونو ټول خلک بې هوښه کيږي.

نهمه: د الله د وينا له امله د اسمانونو په لړزه کېدل.

لسمه: دا چې جبرئيل هغه څوک دی چې وحي هغه ځای ته رسوي چيرې الله امر ورته کړی دی.

يوولسمه: د شيطانانو په پټه د غوږ نيولو يادونه.

دولسمه: د هغوی يو پر بل د سپرېدلو د حالت بيان.

دیارلسمه: د اورغورځوونکو ستورو لیږل.

څوارلسمه: دا چې کله یې ستوري مخکې د خبرې تر رسولو راګیر کړي.

او کله هغه خپل انسان ملګري ته خبره رسوي مخکې تردې چې ستورى یې وموي.

پنځلسمه: دا چې غیب ویونکى هم ځیني وخت رښتیا وایي.

شپاړسمه: دا چې هغه سل درواغ ورسره وایي.

اوولسمه: دا چې د هغه د درواغو تصدیق یوازې د دغې کلمې له امله کیږي چې له اسمان څخه اوریدل شوې ده.

اتلسمه: د نفسونو لخوا د باطل منل: چې څنګه یوه خبره تینګه نیسي او سلو ته پاملرنه نه کوي.

نولسمه: د هغوى داسې کېدل چې ځینې یې له ځینو خبره اخلي.

دغه کلمه چې هغوى یې یادوي او استدلال پرې کوي.

شلمه: د اشعریه(د صفاتو نه منوونکې) پر خلاف د صفتونو ثابتول.

یوویشتمه: دا خبره په ډاګه کول چې دغه لړزه او بې هوښي.

د الله جل جلاله له ویرې څخه وي.

دوه ویشتمه: دا چې هغوى الله ته په سجده لویږي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د شفاعت (سپارښتنه) کې

او د الله جل جلاله د وينا په بيان کې: او هغه خلک پرې وډار کړه چې له دې څخه ويرېږي چې خپل پالونکي ته به را پاڅول کيږي، هغوی لره به له هغه پرته نه دوست وي او نه سپارښت کوونکی؛ د دې د پاره چې هغوی وويرېږي. د الأنعام سورت: ٥١ آيت

او دا قول يې: ووايه خاص د الله په اختيار کې دی سفارش ټول. د الزمر سورت: ٤٤ آيت.

او دا قول يې: څوک دی چې د هغه له اجازې پرته د هغه پر وړاندې سپارښتنه وکړي. د البقرة سورت: ٢٥٥ آيت.

او دا قول يې: او په اسمانونو کې څومره پرېښتې دي چې د هغوی سپارښتنه هيڅ ګټه نشي رسولای مګر وروسته تردې چې الله چاته وغواړي او ترې راضي وي اجازه ورکړي. د النجم سورت: ٢٦ آيت.

او دا قول يې: ووايه: راوبولئ کوم چې تاسي له الله پرته (معبودان) انګېرلي، هغوی خو د يوې ذرې په اندازه څه په واك کې نلري، نه په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې او نه يې په دې دواړو کې څه برخه شته او نه له هغوی څوك د الله مرستندوی دی او د هغه پر وړاندې سپارښتنه هم چاته ګټه نه رسوي پرته له هغه چې اجازه يې ورته کړې وي.

د سبا سورت: ٢٢- ٢٣ آيتونه.

ابوالعباس وايي: الله له ځان پرته له نورو ټول هغه څه نفي کړل چې مشرکان تر هغه تړاو لري، دا خبره يې نفي کړه چې له هغه پرته دې د بل چا پاچايي يا کومه برخه وي، يا د الله مرستندوی وي او يوازې سپارښتنه پاتې وه؛ نو هغه يې هم داسې بيان کړه چې هغه يوازې هغه مهال ګټه رسوي چې چاته پالونکي اجازه ورکړې وي، لکه چې فرمايي: او پرته له هغه چا چې د الله ورته رضا وي، بل د هيچا سپارښتنه نه کوي. د الأنبياء سورت: ٢٨ آيت

نو دا هغه سپارښتنه ده چې مشرکان يې ګومان کوي، هغه د قيامت په ورځ نفي کړل شوې ده، لکه قرآن چې نفي کړې او نبي صلی الله عليه وسلم خبر ورکړی دی.

چې هغه به راشي او خپل پالونکي ته به سجده وکړي او د هغه ستاينه به وکړي – لومړی به سپارښتنه نه پیل کیږي – بیا به ورته وويل شي: سر دې پورته کړه او ووایه اوريدل کیږي، وغواړه درکول کیږي او سپارښتنه وکړه سپارښتنه دې منل کیږي.

ابوهريره ورته وويل: د کومو نيکبختو خلکو لپاره به ستا سپارښتنه وي؟ هغه وفرمایل: چا چې د زړه له اخلاصه (لا إله إلا الله) ويلي وي.

نو دغه سپارښتنه به د الله په امر د اخلاص والا لپاره وي او د هغه چا لپاره به نه وي چې له الله سره يې شريک نيولی وي.

او حقيقت يې دادی چې الله پاک همغه ذات دی چې پر اخلاص والا پېرزوينه کوي، چې هغوی لره به د هغه چا په دعا بخښنه کوي چاته يې چې د سپارښتنې اجازه کړې وي ترڅو د هغه درناوی وکړي، او ستايل شوی مقام ترلاسه کړي.

نو د کومې سپارښتنې چې قرآن نفي کړې له هغو څخه موخه هغه ده چې په هغې کې شرک وي، له همدې امله يې په خپل امر په يوشمېر ځايونو کې سپارښتنه ثابته کړه، او نبي –صلی الله عليه وسلم– دا خبره هم بيان کړې چې هغه سپارښتنه به يوازې د توحيد او اخلاص والا لپاره وي. خبره يې پای ته ورسيده.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د آيتونو تفسير.

دويمه: د نفي شوې سپارښتنې بيان.

درېيمه: د ثابت کړل شوې سپارښتنې بيان

څلورمه: د لويې سپارښتنې يادونه.

او دا چې هغه محمود (ستايل شوی) مقام (ځای) دی.

پنځمه: د هغه څه بیان چې نبي - صلی الله علیه وسلم- یې ترسره کوي هغه دا چې پیل به په سپاربښتنه نه کوي بلکې سجده به کوي.

کله چې الله اجازه ورکړي، سپاربښتنه به وکړي.

شپږمه: دا چې څوک به د هغې سپاربښتنې په اړه نېکبخته وي؟

اوومه: دا چې هغه به د هغه چا لپاره نه وي چې له الله سره یې شرک کړی وي.

اتمه: د هغې د حقیقت بیان.

باب دی په بیان د الله تعالی د وینا کې: پرته له شکه ته هغه څوک په سمه لیار نشې روانولای چې خوښوي یې، بلکې الله چې چا ته وغواړي په سمه لیار یې روانوي، او هغه پر لار موندونکو ښه پوه دی.

د القصص سورت: ٥٦ آیت.

په صحیح کې ابن مسیب له خپل پلاره روایت کوي وایي: کله چې ابو طالب ته مرګ نېږدې شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته راغی، په داسې حال کې چې له هغه سره ابن ابي امیه او ابوجهل هم وو؛ نو ورته ویې ویل: اې کاکا! د (لا إله إلا الله) کلمه ووایه: د الله په وړاندې به ستا لپاره دلیل پرې وایم.

نو هغوی دواړو ورته وویل: آیا ته د عبدالمطلب له ملت څخه اوړې.

چې نبي -صلى الله عليه وسلم- بیا ورته وویل، هغوی دواړو هم خپله خبره تکرار کړه؛ چې په وروستي وخت هغه وویل: چې د عبدالمطلب پر ملت دی، او له دې څخه یې نټه وکړه چې (لا إله إلا الله) کلمه ووایي.

نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه به هرومرو ستا لپاره تر هغه بخښنه غواړم ترڅو له تا څخه منع شوی نه یم.

چې الله جل جلاله دغه آیت نازل کړ. د نبي او هغو کسانو لپاره چې ایمان یې راوړی په کار ندي چې د مشرکانو لپاره بخښنه وغواړي که څه هم خپلوان یې وي وروسته تردې چې د هغوی لپاره څرګنده شوه چې هغوی دوزخیان دي. د التوبة سورت: ١١٣ آیت.

او د ابوطالب په اړه دغه آیت نازل شو: پرته له شکه ته هغه څوک په سمه لیار نه شې روانولای چې ته ورسره مینه لرې لیکن الله یې په سمه لیار روانوي چا ته یې چې خوښه شي. د القصص سورت: ٥٦ آیت.

په دغه خبره کې دېرې مسئلې دي:

لومړی: د الله د دغې وینا {إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَـٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ} تفسير.

دویمه: د الله د دغې وینا {مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَن يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ} تفسير.

دریيمه: او لويه مسئله د هغه د دغې وينا تفسير دی چې ته (لا اله الا الله) كلمه ووايه، پر خلاف د هغه څه چې د پوهې ښتنتان يې دعوی کوي.

څلورمه: پرته له شكه ابوجهل او د هغه ملګري د نبي صلى الله عليه وسلم پر موخه پوهېدل كله يې چې سړي ته دا وويل: (لا اله الا الله) كلمه ووايه، الله دې هغه خراب كړي ابوجهل د اسلام پر اصل زيات ترې پوه و.

پنځمه: د نبي صلى الله عليه وسلم هڅه او كوښښ د خپل تره په اسلام كې.

شپږمه: پر هغه چا رد چې د عبدالمطلب او د هغه د اسلافو د اسلام ګومان کوي.

اوومه: د نبي صلى الله عليه وسلم د هغه لپاره بخښنه غوښتل چې هغه لره بخښنه ونه شوه، بلكې هغه لدې څخه منع كړل شو.

اتمه: د بدو ملګرو زيان د انسان لپاره.

نهمه: د اسلافو او لويانو د درناوي زيان.

لسمه: پر دغه سره د ابوجهل د استدلال له امله په دغه کې د مبطلينو لپاره شبهه.

يوولسمه: دا شاهد چې په اعمالو کې وروستى د باور وړ دی، ځکه كه يې ويلې وای، ګټه به يې ورته رسولې وای.

دولسمه: د لارورکو په زړونو کې د دغې شبهې په لوی والي کې غورکول، ځکه په دغه كيسه کې دي، چې هغوی يوازې پر همغې استدلال كولو سره لدې چې نبي صلى الله عليه وسلم تولله هڅه كوله او خپله خبره يې تكراروله، د هغوی په ورانـدې د هغې د لوی والي او څرګندوالي له امله يې پر هغې بسنه وكړه.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې د آدم د اولاد د کفر او د خپل دین د پرېښودلو لامل د نېکانو په اړه غلو (له بریده اوښتل) دي

او د الله جل جلاله وینا: اې د کتاب څښتنانو! په دین کې غلو مه کوئ او پر الله له حق پرته بل څه مه وایاست، پرته له شکه عیسی مسیح د مریمې زوی د الله استازی او هغه کلمه یې ده چې مریم ته یې اچولې او د هغه له لوري روح دی.

د النساء سورت: ۱۷۱ ایت.

په صحیح کې د ابن عباس رضي الله عنهما څخه د الله تعالی د وینا په اړه راغلي. او هغوی وویل: خپل معبودان مو مه پرېږدئ او ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر مه پرېږدئ. د نوح سورت: ۲۳ ایت.

وايي: دغه د نوح له قوم څخه د نېکو کسانو نومونه وو، کله چې وفات شول، شیطان د هغوی قوم ته په زړه کې دا خبره وروا چوله چې د هغوی د ناستې په ځایونو کې نښانونه ولګوئ او د هغوی پر نومونو یې ونوموئ، چې هغوی هم همداسې وکړل، او هغه نه لمانځل کېدل تر دې چې دوی وفات شول او پوهه هېره شوه؛ نو بیا یې عبادت وکړای شو.

او ابن قیم وايي: یوشمېرسلفو ویلي: کله چې هغوی وفات شول، نور خلک یې پر قبرونو تم شول، بیا یې مجسمې ورته جوړې کړې، بیا چې څه موده تېره شوه، نو د هغوی عبادت یې پیل کړ.

او له عمر څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما له بریده زیات مه ستایئ لکه نصاراو چې د مریمې زوی وستایلو، زه یو بنده یم، نو ووایاست: د الله بنده او د هغه رسول دی. صحیحینو روایت کړی.

او وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له غُلو (بریده اوښتو) څخه ډډه وکړئ، ځکه له تاسو مخکېني خلک غُلو تباه کړل.

او د مسلم په روایت کې له ابن مسعود څخه راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په ستاینه کې تکلف کوونکي تباه شول. درې ځلې یې وویل.

په دغه خبره کې دېرې مسئلې دي:

لومړی: داچې څوک پر دغه باب او له هغه وروسته دوو بابونو پوه شو؛ نو د اسلام غربت (نا اشنا والی) به ورته څرګند شي.

او د الله قدرت او د هغه له لوري د زړونو بدلول به عجيب ووينې.

دويمه: د لومړني شرک پېژندنه چې هغه په څمکه کې پېښ شو هغه د نېکانو په شبهې سره و.(دنيکانو په اړه شيطان خلکو ته شبهې واچولې)

دريیمه: د لومړني هغه څه پېژندنه چې د نبيانو دين پرې بدل کړل شو، او هغه څه چې د دغه لامل شول، سره له دې پېژندنې چې هغوی الله استولي و.

څلورمه: د بدعتونو منل سره له دې چې شريعتونه او فطرت يې ردوي.

پنځمه: د دغه ټولو لامل د حق له باطل سره ګډول و.

نو لومړی: د نېکانو سره مينه.

دويم: د ځينو د پوهې او دين د څښتنانو لخوا داسې څه کول چې د خير اراده يې ترې کړې وه؛ خو وروستنيو يې دا ګومان وکړ چې هغوی له دې پرته د بل څه اراده لرله.

شپږمه: د نوح سورت د آيت تفسير

اوومه: د انسان مزاج خوی چې حق يې په زړه کې کمېږي او باطل زياتيږي.

اتمه: په دې کې د هغه څه شاهد دی چې له سلفو څخه منقول دي چې بدعتونه د کفر لامل دي.

نهمه: د شيطان پر هغه څه پېژندنه چې بدعتونو ته سرې مايلوي که څه هم د ترسره کوونکي موخه ښه وي.

لسمه: د کلي قاعدې پېژندنه هغه دا چې له غُلو او هغه څه څخه چې غُلو ته سړی کشوي منع کول.

يوولسمه: پر قبر د شپې کړنې په موخه د پاتې کېدلو زيان.

دولسمه: د مجسمو څخه د منعې پېژندنه او د هغو د لېرې کولو حکمت.

ديارلسمه: د دغې کيسې د شان د لوی والې او هغې ته د اړتيا شديدوالی له هغې څخه د بې پروايۍ سربېره.

څوارلسمه: او هغه ډېره حيرانوونکې او ډېره حيرانوونکې ده - چې هغوی د تفسير او حديثو په کتابونو کې لوستې ده، د هغوی له لورې د وينا پر معنا پوهېدل، او د الله حايل کيدل د هغوی او د زړونو ترمنينځ يې ترڅې چې باور يې وکړ چې د نوح د قوم کړنه ترټولو غوره عبادت دی، او دا باور يې وکړ، چې له څه څخه چې الله او د هغه استازي منع کړې هغه داسې کفر دی چې د وينې او مال روا کوونکی دی.

پنځلسمه: دا خبره څرګندول چې هغوی يوازې د سپارښتنې اراده لرله.

شپاړسمه: د هغوی دا ګومان چې کومو علماوو انځورونه جوړ کړل هغوی همدغه اراده لرله.

اوولسمه: د هغه په وينا کې لوی بيان: (چې زما له بريده زياته ستاينه مه کوئ لکه نصاراو چې د مريمې د زوی وکړه) نو هغه صلی الله عليه وسلم څرګنده بلنه وکړه.

اتلسمه: موږ ته د هغه نصيحت د تکلف کوونکو په تباه کېدو سره.

نولسمه: دا په ډاګه کول چې تر هغه د هغو نېکانو عبادت نه کېده، ترڅې چې پوهه هېره شوه، نو په دې کې د هغه د شتون د قدر او نشتون د ضرر پېژندنه ده.

شلمه: دا چې د پوهې د نشتون لامل د پوهانو مړينه ده.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې څوک د الله عبادت د نېک سړي له قبر سره کوي، د هغه په اړه څومره سختې راغلې؛ نو د هغه چا به څه حال وي چې په خپله د هغه نېک سړي عبادت کوي!؟.

په صحيح کې له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې ام سلمه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخکې د نصاراوو د عبادت ځای يادونه وکړه چې د حبشې په ځمکه کې يې ليدلې وه او په هغو کې چې کوم انځورونه وو؛ نو هغه وفرمايل: دوی داسې خلک دي کله چې يو نېک سړی يا نېک بنده پکې مړ شي، د هغه پر قبر جومات جوړ کړي او په هغو کې دغه انځورونه رسم کړي، دوی د الله په وړاندې تر ټولو بد خلک دي.

نو دغو خلکو د دوو فتنو ترمنځ يوځای والی کړی: د قبرونو فتنه، او د تصويرونو فتنه.

او هغوی دواړو لره له هغې څخه روايت دی چې وېې ويل: کله چې پر رسول الله صلی الله وحي نازله شوه پر مخ يې څادر واچولو، کله چې ترې ختمه شوه مخ يې لوڅ کړ؛ نو وېې فرمايل: هغه همداسې ده. الله پر يهودو او نصاراوو لعنت کړی چې د خپلو نبيانو قبرونه يې جوماتونه وګرځول. هغه له دې خلک وېرول چې يهودو او نصاراو کړي وو، که يې داسې نه وای کړي قبر به يې ښکاره وای، د دې علاوه هغه له دې هم وېره لرله چې قبر يې جومات ونه ګرځول شي. هغوی دواړو(بخاري او مسلم) روايت کړی دی.

د مسلم په روايت کې له جندب بن عبدالله څخه راغلي وايي: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه تر وفات پنځه ورځې مخکې واورېدل چې هغه ويل: زه الله ته لدې خپله بېزاري وړاندې کوم چې له تاسو څخه دې زما کوم دوست وي، ځکه الله زه خپل دوست ګرځولی يم، لکه څنګه چې يې ابراهيم دوست ګرځولی، که ما له خپل امت څخه څوک دوست نيولی؛ نو ابوبکر به مې دوست ګرځولی وای، خبر اوسئ څوک چې تر تاسو مخکې وو هغوی د خپلو نبيانو قبرونه جوماتونه وګرځول، خبر اوسئ له قبرونو جوماتونه مه جوړوئ، ځکه ما له دغه څخه تاسې منع کړې ياست.

له دې څخه يې د خپل ژوند په وروستيو کې نهې وکړه، بيا يې لعنت پرې وويلو، په داسې حال کې چې هغه د همدې په سياق کې و، چې چا داسې کړي و، او له هغو سره لمونځ کول له

همدې دلې څخه دي كه څه هم جومات پرې جوړ نه كړل شي. او دا د هغې د وينا معنا ده: (چې هغه وېره لرله چې قبر يې جومات ونه ګرځول شي). څكه صحابه و د هغه د قبر شاوخوا جومات نه جوړولو، او په هر ځاى كې چې د لمانځه اراده وكړل شي؛ نو هغه جومات وګرځول شو، بلكې په هرځاى كې چې لمونځ كيږي هغه ته جومات ويل كيږي، لكه نبي صلى الله عليه وسلم چې فرمايلي دي: ماته ځمكه جومات او پاكوونكې(طهور په زور د ط سره هغه شى ته وايي چې پاكوونكى وي لكه اوبه او د تيمم د پاره خاوره) ګرځول شوې ده.

او احمد په جيد سند سره له ابن مسعود رضي الله څخه مرفوع روايت كوي. **چې تر ټولو بد خلك هغه دي چې قيامت راشي او هغوى ژوندي وي او هغه خلك چې له قبرونو څخه جوماتونه جوړوي.**

او ابوحاتم او ابن حبان په خپل صحيح كې همداسې روايت كړى.

په دغه خبره كې ډېرې مسئلې دي:

لومړى: كوم څه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه چا په اړه بيان كړل چې د نېك سړي له قبر سره جومات جوړوي چې د الله عبادت پكې وشي، كه څه هم د ترسره كوونكي نيت سم وي.

دويمه: له مجسمو څخه منع كول او په دې اړه سختې كول.

دريیمه: د نبي صلى الله عليه وسلم په دې اړه په مبالغه كې عبرت، چې څنګه يې لومړى هغوى ته دغه بيان كړل، بيا پنځه ورځې مخكې تر خپل وفات، څه يې چې ويل هغه يې وويل، بيا چې د هغه په سياق كې و پر هغه څه يې بسنه ونه كړه چې مخكې تېر شوي و.

څلورمه: له خپل قبر سره د داسې كړنې له ترسره كولو څخه منع كول مخكې تردې چې قبر يې رامنځته شي.

پنځمه: دا چې د يهودو او نصاراو د خپلو نبيانو د قبرونو په اړه تګلاره دا وه.

شپږمه: د هغه له لوري په دې اړه پر هغوی لعنت.

اوومه: دا چې د نبي صلی الله علیه وسلم موخه د هغه له قبر څخه زموږ وېرول و.

اتمه: د خپل قبر د نه ښکاره کولو لامل

نهمه: د هغه له لوري د جومات ګرځولو معنا.

لسمه: دا چې د هغه چا ترمنځ چې قبرونه يې جوماتونه ګرځولي يوځای کول.

او هغه چا تر منځ چې قيامت پرې راشي؛ نو د شرک ذريعه يې ياده کړه مخکې تر رامنځته کېدلو د هغه له پای ته رسولو سره.

يوولسمه: د هغه له لوري په خپله خطبه کې له وفات پنځه ورځې مخکې يادونه، پر دوو هغو ډلو رد دی چې هغوی تر ټولو بد بدعتيان دي.

بلکې ځينو سلفو هغوی له دوه اويا ډلو څخه ايستلي دي چې هغوی روافض او جهميه دي، او د رافضه و له امله شرک او د قبرونو عبادت پيښ شو، او هغوی لومړني هغه څوک وو چې قبرونه يې پرې جوړ کړل.

دولسمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم پر سخت روح اخستلو وازمايل شو.

ديارلسمه: هغه دوستي چې پرې عزتمند کړای شوی دی

څوارلسمه: دا په ډاګه کول چې دوستي (خلة) له مينې (محبة) لوړه ده

پنځلسمه: دا په ډاګه کول چې صديق (ابوبکر الصديق) په صحابو کې غوره دی.

شپاړسمه: د هغه خلافت ته اشاره.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د هغه غُلو (له بریده اوښتلو) کې چې د نېکانو د قبرونو په اړه راغلی او داسې بوتان ترې جوړوي چې له الله پرته لمانځل کیږي.

مالک په موطا کې روایت کوي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې الله! ته زما قبر بُت مه ګرځوې چې عبادت یې کیږي، د الله غُصه پر هغه قوم سخته شوه چې د نبیانو قبرونه یې جوماتونه جوړ کړل.

ابن جریر په خپل سند له سفیان، هغه له منصور او هغه له مجاهد څخه روایت کوي. آیا؛ لات او عزی مو ونه لیدل. د النجم سورت: ۱۹ آیت.

وايي: هغه به دوی لره اوړه په غوړو کې ږغول؛ نو کله چې مړ شو، هغوی یې پر قبر ورغونډ شول(منجاوران).

او همدارنګه ابوجوزاء له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کوي، چې هغه به د حاجیانو لپاره اوړه په غوړو کې ږغول(د هغوی د اکرام د پاره).

او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبرونو پر زیارت کوونکو(مېرمنو)، او هغو کسانو لعنت ویلی چې جوماتونه پرې جوړوي او څراغونه پرې روښانه کوي.

د سنن والا روایت کړی دی.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د بُتانو تفسیر.

دويمه: د عبادت تفسیر.

دريیمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازې له هغه څه پناه غوښتې ده چې له رامنځته کېدو يې وېره لرله.

څلورمه: د نبیانو پر قبرونو د جوماتونو جوړول يې له دغه سره پرتله کړل.

پنځمه: د الله له لوري د سختې غصې يادونه.

شپږمه: او تر ټولو مهمه يې دا ده: چې د بتانو تر ټولو لوی بُت د لات د عبادت صفت پېژندنه يې وکړه.

اوومه: د دې خبرې پېژندنه چې هغه د نېک سړي قبر و.

اتمه: دا چې هغه د قبر والا نوم و او د نوم اېښودنې د معنا يادونه.

نهمه: د هغه له لوري د قبرونو پر زيارت کوونکو(مېرمنو) لعنت ويل.

لسمه: پر هغه چا لعنت ويل چې څراغونه پرې لګوي.

★★★★★★★★

دا باب دی د مصطفی - صلی الله علیه وسلم - لخوا د توحید د ملاتړ او د هرې هغې لارې بندولو په اړه چې شرک ته رسوونکې ده.

او د الله تعالی وینا: (دادی) تاسو ته یو داسې رسول راغی چې خپله له همدا تاسو څخه دی، څه چې تاسو کړوي هغه په ده ډېر ګران (او درانه) تماميږي، ستاسې د ښېګڼې حريص دی، پر مؤمنانو مهربان خواخوږی دی. د التوبة سورت: ۱۲۸ ایت.

او له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خپل کورونه قبرونه مه ګرځوئ، او زما قبر عید مه جوړوئ، اوپر ما درود ووایاست؛ ځکه ستاسو درود ماته رسیږي هر چېرې چې یاست. ابوداؤود په حسن سند سره روایت کړی اوراویان یې ثقه دي.

او له علي بن حسین څخه روایت دی: چې هغه یو سړی ولید چې د نبي - صلی الله علیه وسلم- له قبر سره به یو غار ته ننوته، او دعا به یې کوله، نو هغه منع کړ او ویې ویل: آیا تاسو ته هغه څه بیان نه کړم چې له خپل پلاره مې اورېدلي، هغه زما د نیکه څخه هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چې فرمایل یې: زما قبر عید(د میلې ځای) مه ګرځوئ، او مه مو کورونه قبرونه جوړوئ، او پر ما درود ووایاست؛ ځکه ستاسو سلام ویل ماته رسیږي هرچېرې چې یاست. په (المختارة) کې یې روایت کړی دی.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د براءة آیت تفسیر.

دویمه: د خپل امت تر وروستي بریده له دغه خرڅایه لېرې کول.

دریيمه: پر موږ د هغه د حرص، زړه سوي او لورېینې یادونه.

څلورمه: د خپل قبر په یو ځانګړې ډول زیارت کولو څخه منع کول سره لدې چې د هغه زیارت تر ټولو غوره عمل دی.

پنځمه: له زيات زيارت کولو څخه منع.

شپږمه: په کور کې نفلونو ته هڅونه.

اوومه: د هغوی په اند دا بڅه خبره ده چې په قبرستان کې لمونځ نه کيږي.

اتمه: د هغه له لوري دا علت بيانول چې د يوچا درود او سلام هغه ته رسيږي که څه هم لېرې وي؛ نو د هغه څه اړتيا نشته چې د نېږدې والي د ارادې ګمان يې کيږي.

نهمه: دا چې هغه –صلی الله عليه وسلم– په برزخ کې په داسې حال کې دی چې د خپل امت له اعمالو درود او سلام پر هغه وړاندې کيږي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې د دغه امت ځینې به بُتان لمانځي.

او د الله تعالی دا قول: آیا هغه خلک دې نه دي لیدلي چې د کتاب یوه برخه ورکړل شوې ده خو هغوی بیا هم په سحر او شیطان او باطل معبود باور کوي.

د النساء سورت: ٥١ آیت.

او دا قول یې: ورته وایه: آیا هغه خلك دروښیم چې د الله پر وړاندې د جزا له مخې لدې هم بد وي؟ هر هغه څوك چې الله رټلي، غضب یې پرې کړی او بیزوګان او خنزیران یې ترې جوړ کړي او غیر الله یې لمانځلی. د المائدة سورت: ٦١ آیت

او دا قول یې: هغه کسان چې د دوی پر کار برلاسي شوي وو، وویل: هرومرو به یو عبادت ځای پرې جوړوو. د الکهف سورت: ٢١ ایت.

له ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسو به هرومرو د هغو خلکو پل پر پل پیروي وکړئ چې له تاسو مخکې وو، تردې که هغوی د خادمی غار ته ننوتلي وي تاسو به هم ننوځئ

هغوی وویل: اې د الله رسوله! یهود او نصارا بنیې؟

هغه وفرمایل: هو نو بل څوک؟

دغه روایت بخاري او مسلم روایت کړی.

او د مسلم په روایت کې له ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پرته له شکه الله ماته ځمکه راټوله کړه تردې چې د هغې ختیځې او لوېدیځې برخې مې ولیدلې، او زما د امت پاچایي به تر هغو برخو رسیږي چې ماته راټولې کړل شوې وې.

او ماته دوې زېرمې راکړل شوې:د روم او فارس خزانې.

او ما مې له پالونکي څخه د امت لپاره وغوښتل چې هغوی په وچکالۍ تباه نه کړي او پر هغوی له خپلو ځانو پرته بل دښمن مسلط نه کړی چې له بېخه یې وباسي.

او پرته له شکه پالونکي مې وویل: اې محمده! کله چې کومه پرېکړه وکړم؛ نو هغه نه ردېږي، او ما ستا امت ته دا ورکړي چې هغوی به په وچکالۍ نه تباه کوم، او پر هغوی به له هغوی پرته بل داسې دښمن نه مسلطوم، چې له بېخه يې وباسي، او که څه هم له هر طرفه پرې را ټول شي، آن تردې د هغوی ځینې به ځینې سره وژني او ځینې به يې ځینې بندیانوي.

برقاني په خپل صحیح کې روایت کړی او زیاته کړې يې ده: او پرته له شکه زه مې د خپل امت په اړه له لارورکوونکو امامانو څخه وېرېږم، او کله چې پرهغوی توره را پرېوته تر قیامته به ترې پورته نه کړل شي، او قیامت به تر هغه رانهڅته نه شي چې ترڅو زما د امت یوه ډله له مشرکانو سره یوځای نه شي او زما د امت یو ټولی بتان ونه لمانځي، او زما په امت کې به دېرش درواغجن وي، هر یو به ګمان کوي چې ګواکې دی نبي دی، خو زه ترټولو وروستی نبي یم له ما وروسته بل نبي نشته، او زما له امته به تل یوه په حق ډله بریالۍ وي، څوک يې چې مرسته پرېږدي هغوی ته زیان نه شي رسولای تردې چې د الله تبارک و تعالی امر راشي.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د النساء د ایت تفسیر

دویمه: د المائده د ایت تفسیر

دریيمه: د الکهف د ایت تفسیر

څلورمه: او دغه يې تر ټولو مهمه ده چې پر جبت او طاغوت د ایمان راوړلو معنا

پدې ځای کې څه ده؟

آیا هغه د زړه باور دی؟

او که د څښتنانو موافقت يې دی، سره له دې چې له هغې سره به کینه او د هغې د بطلان پېژندنه وي.

پنځمه: د هغوی دا وینا: چې هغه کافران کوم چې خپل کفر پېژني له مؤمنانو زيات لارمونددونکي دي.

شپږمه: او د کومې چې وضاحت مطلوب دی هغه دا چې په دغه امت کې به داسې څه پېښيږي لکه د ابوسعيد په حديث کې چې راغلي دي.

اوومه: د هغې د رامنځته کېدو په ډاګه کول، معنا دا چې د دغه امت په ډېرو ډلو کې به د بُتانو لمانځنه کيږي.

اتمه: تر ټولو حيرانوونکې دا ده چې مختار غوندې څوک به د نبوت دعوی کوي چې د شهادت کلمې هم وايي او دا هم په ډاګه کوي چې له همدغه امت څخه دی، او وايي چې رسول حق او قرآن حق دی او په دې کې دا هم دي چې محمد وروستی د رسولانو دی، او له دې سره په دې ټولو کې دی ربښتونی ګڼل کيږي سره لدې چې ځرګند ټکر دی، او مختار د صحابه و په وروستی زمانه کې را پيداشو او ډېر شمېر خلکو يې پيروي وکړه.

نهمه: د دې خبرې زېری چې حق په يو مخ له منځه نه ځي لکه څنګه چې مخکې له منځه تللی و، بلکې تل به يوه ډله پرې ولاړه وي.

لسمه: لويه نخښه يې داده سره لدې چې هغوی لږ دي خو بيا هم چې څوک شا ور کرځوي او مخالفت يې کوي زيان نه شي ورته رسولی.

يوولسمه: دا چې دغه شرط به د قيامت تر ورځې وي.

دولسمه: هغه لويې نښې چې په دغه کې دي له هغو څخه: يوه يې دا ده چې الله هغه لره د ختيځ او لوېديځ برخې سره راټولې کړې او د دغه پر معنا يې خبر کړ، همغه ډول رامنځته شول لکه څنګه يې چې خبر کړی و، په خلاف د شمال او جنوب، او پر دې يې خبرول چې دوې زېرمې ورکړل شوي دي، او د خپل امت په حق کې يې دوې دعاوې قبولې شوې او درېيمه نه، او د ځينو لخوا د ځينو پر تباه کولو او د ځينو لخوا د ځينو پر بندي کولو يې خبرول، د امت په اړه يې له لارورکوونکو امامانوڅخه وېرول، په دغه امت کې د درواغو د نبيانو په

پیداکېدلو یې خبرول، او د بریالی ډلې پر پاتې کېدلو یې خبرول، او دا همغسې رامنځته شول لکه څنګه یې چې خبر ورکړی و، سره له دې چې هره یوه یې له عقلي پلوه لېرې وه.

دیارلسمه: د خپل امت په اړه له لاروړکوونکو امامانو څخه په ځانګړي وېرول.

څوارلسمه: د بُتانو د عبادت پر معنا خبرول.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د کوډو کې.

او د الله تعالی وینا: اوېرته له شکه هغوی پوه شول چې څوک هغه اخلي هغو لره په آخرت کې هیڅ برخه نشته. د البقرة سورت: ۱۰۲ ایت

او د هغه وینا: پر جبت(سحر) او طاغوت(شیطان) باور لري. د النساء سورت: ۵۱ ایت

عمر وايي: جبت کوډې او طاغوت شیطان دی

او جابر وايي: طواغیت هغه غیب ویونکي دي چې شیطانان ورته راځي، په هره قبیله کې یو وي.

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له اوو تباه کوونکو څخه ځان وساتئ.

هغوی وویل: اې د الله رسوله! هغه څه دي؟

هغه وفرمایل: له الله سره شریک نیول، کوډې، د هغه چا وژل چې له حق پرته یې الله وژل ناروا کړي وي، د سود خوړل، د یتیم مال خوړل، د جنګ له ډګره تېښته، پر بې خبره پاک لمنو مېرمنو تور لګول.

او له جندب څخه مرفوع روایت دی: د کوډګر جزا په توره وهل دي. ترمذي روایت کړی او وايي: صحیح دی خو موقوف دی.

او بخاري کې له بجالة بن عبده څخه روایت دی وايي: عمربن الخطاب ولیکل چې هر کوډګر او کوډګره ووژنئ، وايي: نو موږ درې کوډګر ووژل.

له حفصې څخه صحیح روایت دی چې هغې د خپلې یوې داسې مینځې د وژلو امر وکړ چې کوډې یې پرې کړې وې، نو هغه ووژل شوه.

او همدارنګه له جندب څخه صحیح روایت دی.

احمد د نبي – صلی الله علیه وسلم – له دریو صحابه وو څخه په روایت کولو ویلي دي.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړۍ: د البقره سورت د آيت تفسير

دويمه: د النساء سورت د آيت تفسير

درېيمه: د جبت او طاغوت تفسير او ترمنځ يې توپير

څلورمه: دا چې طاغوت کله له پېريانو څخه وي او کله له انسانانو څخه.

پنځمه: دمنعې اړوند د ځانګړو اوو تباه کوونکو پېژندنه.

شپږمه: دا چې کوډې کوونکی ته به کافر ويلی شي.

اوومه: دا چې هغه به وژل کيږي توبه به يې نه منل کيږي.

اتمه: په مسلمانانو کې د دغه شتون د عمر په زمانه کې و؛ نو په وروستيو کې به څنګه وي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د هغه شي کې چې د سحر نوعه ده.

احمد وايي: د جعفر زوی محمد له عوف څخه، هغه حيان بن العلاء، هغه له قطن بن قبيصة او هغه يې له پلار څخه روايت کوي چې هغه له نبي صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: چې عيافة، طرق او طيرة د جبت له ډلې څخه دي.

عوف وايي: عيافة د بد پالی پر بنسټ د مرغانو شړل دي او طرق هغه ليکه ده چې په ځمکه کې اېستل کيږي.

او جبت:

حسن وايي: د شيطان غږ دی.

سند يې سم دی د ابوداؤد، نسائي او له ابن حبان څخه په خپل صحيح مسند راغلی.

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې له ستورو يوه برخه ترلاسه کړه(ناروا علم نجوم) هغه له کوډو څخه برخه ترلاسه کړه، څومره يې چې زياته کړه همدومره يې زياته کړه.

ابوداؤد روايت کړی او سند يې صيح دی.

او په نسائي کې له ابوهريره رضي الله عنه څخه حديث دی. چا چې غوټه وتړله بيا يې پکې پوکی وکړ؛ نو هغه کوډې وکړې، او چا چې کوډې وکړې هغه شرک وکړ، او چا چې يو څه پر ځان وتړل همغه ته به وسپارل شي.

او له ابن مسعود څخه روايت دی: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: آيا د عضه په اړه خبر در نه کړم؟ چې هغه چغل خوري او د خلکو ترمنځ د فساد پيدا کولو د پاره خبرو وړلو ته ويل کيږي. مسلم روايت کړی.

او هغوی دواړه له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: ځيني بيان لکه کوډې داسې وي.

په دغه خبره کې دېرې مسئلې دي:

لومړی: د بخت ازمويلو په موخه مرغان الوځول، په ځمکه کې ليکې کښکول او بد پالي(تشاوم) کول له کوډو څخه دي.

دويمه: د العافية، الطرق، او الطيرة تفسير.

دريېمه: دا چې د ستورو پوهه يو ډول کوډې دي.

څلورمه: دا غوټه له پوکي سره هم له دغو څخه دي.

پنځمه: دا چې چغل خوري هم له دغو څخه دي.

شپږمه: دا چې له دغو څخه ځيني فصيح بيان هم دی.

★★★★★★★★

باب دى په بيان د غيب ويونكو او هغوى ته ورته خلكو كې

(كهان د كاهن جمع ده كاهن هغه چا ته وايې چې شيطان ورته خبرې راوړي بيا دغه كاهن د هغې سره نورې سل درواغ خبرې يو ځاى كړي او په خلكو كې يې خپروي).

مسلم په خپل صحيح كې د نبي صلى الله عليه وسلم له ځينو مېرمنو او هغو له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي چې هغه وفرمايل: **څوك چې غيب ويونكي(د عراف تفسير نزدې راروان دى) ته راشي، د څه په اړه پوښتنه ترې وكړي او د هغه وينا ومني د هغه به څلوېښت ورځې لمونځ نه قبليږي.**

ابو هريره رضي الله عنه له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي چې ويې فرمايل: **څوك چې غيب ويونكي ته راشي او په هغه څه كې يې تصديق وكړي چې هغه يې وايي؛ نو پر هغه څه يې كفر وكړ چې پر محمد صلى الله عليه وسلم نازل كړل شوي دي.** ابوداؤد روايت كړى دى.

او څلور نورو او حاكم هم روايت كړى دى.

او ويلي يې دي: **د هغوى دواړو له شرط سره سم صحيح دى. او ترې روايت دى چې څوك غيب ويونكي ته راشي، په هغه څه كې يې تصديق وكړي چې هغه يې وايي؛ نو پر هغه څه يې كفر وكړ چې پر محمد صلى الله عليه وسلم نازل كړى شوي دي.**

او ابو يعلى په جيد سند سره له ابن مسعود څخه موقوفا دېته ورته روايت كوي.

او له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه مرفوعا روايت دى: **هغه څوك له موږ څخه ندى چې بد پالي نيسي او يا د هغوى لپاره بد پالي كيږي، يا پخپله كهانت كوي او يا د هغه لپاره كهانت كيږي، يا كوډې كوي او يا د هغه لپاره كوډې كيږي، او څوك چې غيب ويونكي ته راشي په هغه څه كې يې تصديق وكړي چې هغه يې وايي؛ نو هغه پر هغه څه كفر وكړ چې پر محمد - صلى الله عليه وسلم- نازل كړل شوي دي.**

بزاز په ښه سند سره روايت كړى دى.

او طبراني په اوسط کې د ابن عباس حديث په حسن اسناد سره روايت کړی پرته لدې وينا څخه چې: **څوک غيب ويونکي ته راغلی... تر پايه.**

بغوي وايي: **عراف: هغه څوک دی چې په سريزو د کارونو د معلومولو دعوی کوي د يو غلا شوي شی يا د غلا ځای او داسې نورو شيانو د معلومولو د پاره په دغه سريزو شودنه کوي.**

او ويل شوي: **عراف کاهن دی او کاهن هغه څوک دی چې په راتلونکي کې د پټوخبرو په اړه خبر ورکوي.**

او ويل شوي: **چې هغه څوک دی چې د زړه د خبرو په اړه خبر ورکوي.**

او ابوالعباس بن تيميه وايي: **عراف: د کاهن، نجوي، رمال او دېته ورته خلکو نوم دی، کوم چې په دغه ډول د چارو د پېژندګلوی خبرې کوي.**

او ابن عباس د هغه قوم په اړه چې ابجد ليکي او په ستورو کې ګوري وايي: **زه فکر نه کوم چې څوک دغه کار کوي هغه به د الله په وړاندې کومه برخه ولري.**

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: دا چې د کاهن خبره منل له قرآن سره په باور لرلو نه يوځای کيږي.

دويمه: دا خبره په ډاګه کول چې دا کار کفر دی.

دريیمه: د چا لپاره چې غيب ويل کيږي د هغه يادونه.

څلورمه: د هغه چا يادونه چې په اړه يې بد پالي(تشاوم) کيږي.

پنځمه: د هغه چا يادونه چې کوډې ورلره کيږي.

شپږمه: د هغه چا يادونه چې ابجد زده کوي.

اوومه: د عراف او کاهن تر منځ د توپير يادونه.

باب دی په بیان د هغه څه کې چې د کوډو د اېستلو په اړه راغلي.

له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی: چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د کوډو اېستلو په اړه وپوښتل شول؛ نو هغه وفرمایل: هغه هم د شیطاان عمل دی. احمد او ابوداؤد په سم سند روایت کړی او وايي: احمد د هغو په اړه وپوښتل شو؛ نو ويې فرمایل: ابن مسعود دا هرڅه بد ګڼل.

په بخاري کې له قتاده څخه راغلي: چې ما ابن مسیب ته وویل: پر یوسړي کوډې شوې وي او له ښځې بند کړل شوی وي ایا له هغه څخه کوډې لرې کول روا دي.

هغه وفرمایل: څه پروا نه کوي، ځکه له دې څخه موخه اصلاح ده؛ نو پر کوم څه چې ګټه رسول کیږي؛ نو له هغه څخه منع نه ده شوې. پای.

او له حسن څخه روایت کیږي چې هغه وفرمایل: کوډې یوازې کوډګر له منځه وړای شي.

ابن قیم وايي: نشره: له هغه چا څخه چې کوډې پرې شوې د کوډو له منځه وړلو ته وايي چې په دوه ډوله دي.

یو يې: د کوډو په کوډو له منځه وړل دي(د سحر علاج په سحر)، چې هغه د شیطان کار دی، او د حسن له وینا څخه همدغه موخه ده، چې کوډې کوونکی او کوډې غوښتونکی په هغه څه شیطان ته ځان نېږدې کوي کوم چې شیطان خوښوي؛ نو خپل عمل له هغه چا څخه باطلوي چې کوډې پرې شوې وي.

دویم: په دم، او شرعي تعویذونو، دوایانو او مباحو دعاوو د کوډو له منځه وړل دي چې دغه روا دي.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د کوډو(د سحر علاج په سحر سره) څخه منع.

دویمه: د منع شوي او روا شوي ترمنځ توپیر چې ستونزه له منځه وړي.

★★★★★★★★

باب دی په بيان د بد پالی کې.

او د الله تعالی وينا: خبر اوسئ چې د هغوی سپيره والی له الله سره و، خو زياتره يې نه پوهيږي.

د الأعراف سورت: ۱۳۱ ايت

او د هغه وينا: وېلې: ستاسو بد پالي نيول تاسې سره ده، ايا (په دې کې سپيره والی دی) چې تاسو ته نصيحت وشو؟ نه، په اصل کې تاسې خپله زياتی کوونکي ياست.

د يس سورت: ۱۹ ايت

او له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د يو مريض څخه مرض پخپل طبيعت روغ ته نه انتقاليږي، نه سپيره والی شته(تشاوم)، نه د مرغه الوزول کوم اغېز لري او نه دصفر مياشتې کې سپيره والی سته.

هغوی دواړو(بخاري او مسلم) روايت کړی دی.

مسلم لا دا هم زياته کړې: چې نه نوء (د ستوري له امله باران شته او نه غول يعني خيالي ځناور(شيطانان او پيريان د الله د ذکر سره څوک نه شي هلاکولای).

او هغوی دواړو لره له انس څخه روايت دی چې ويلي دي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نه د ناروغۍ لېږد شته پخپل طبيعت)، نه سپيره والی شته او فال مي خوښيږي، هغوی ووېل فال څه شی وي.

هغه وفرمايل: ښه خبره.

او ابوداؤد لره له عقبة بن عامر څخه روايت هغه وايي: د رسول الله په وړاندې بد پالي نيول ياد کړل شو؛ نو هغه وفرمايل: ښه يې فال دی او مسلمان نه شي واپس کولای، کله چې يو له تاسو داسې څه ووينې چې نه يې خوښيږي؛ نو ودې وايي: اې الله يوازې ته نېکۍ راولې اويوازې ته بدۍ له منځه وړې، او نشته ګرځيدل له بديو او نشته طاقت په خوښيو مګر ستا په مدد.

او له ابن مسعود څخه مرفوعا روايت دی: **په شيانو سپيره والی نيول شرک دی، په شيانو سپيره والی نيول شرک دی، او هيڅ شی داسې نشته مګر چې الله يې پر بروسه(په الله اعتماد کول) له منځه وړي.**

ابوداؤد او ترمذي روايت کړی او صحيح يې بللی، او پای يې د ابن مسعود وينا ګرځولې.

او احمد لره د ابن عمر په حديث کې دي: **(څوک چې بد فال نيونې له خپل حاجت څخه را وګرځاوه؛ نو هغه شرک وکړ) هغوی وويل: د دغه کفاره څه ده؟ هغه وفرمايل: دا چې ووايي: اې الله ستا له خير پرته بل خير نشته، ستا له سپيره والي پرته بل سپيره والی نشته او له تا پرته بل څوک په حقه اله نشته.**

او هغه لره د الفضل بن عباس رضي الله عنهما په حديث کې دي: بد پالي نيول(چې يو شی وګوري او يا څه واوري) دي ته وايي: چې تا يوځه ته بوځي او يا دې راوګرځوي.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د الله پر هغه وينا تنبيه: (چې د هغوی سپيره والی د الله سره دی) او هغه وينا: (ستاسو بد پالي نيول ستاسو سره ده).

دويمه: ساري ناروغي نشته(مرض د ناروغ څخه روغ ته پخپل طبيعت نه نقليږي، بلکه د الله تعالی په اذن نقليږی).

دريیمه: د يو شي په اوريدلو يا ليدلو بد پالي(تشاوم) نشته.

څلورمه: هامه يو مرغه دی دشپې ګرځي د جاهليت والاو عقيده وه چې هامه مرغه به د چا په کور کښيناسته ويل به يې دې کور کې به غم پيښيږي يعنی په دې مرغه به يې بد پالي نيوله(اسلام دغه عقيده باطله کړه).

پنځمه: صفر مياشت کې هم سپيره والی مشته.

شپږمه: پال طيره نه ده، بلکې پال مستحب دی.(لکه مريض ته اواز وکړې په يا سالم تفاولا).

اوومه: د نېکفالۍ تفسير.

اتمه: دا چې په زړنو کې له دغه شخه د څه واقع کېدل سره لدې چې ښه يې نه ګڼي، څه زيان نه رسوي، بلکې الله يې په توکل سره له منځه وړي.

نهمه: د هغه څه يادونه چې څوک يې احساس کړي ويې وايي.

لسمه: د دې خبرې په ډاګه کول چې بد پالي نيول شرک دی.

يوولسمه: د تشاوم (چې څه ويني يا يې واورې او په هغې بد پالي ونيسي) تفسير.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د نجومی کې (ناروا علم د ستورو).

بخاري په خپل صحيح کې وايي: قتاده ويلي دي: الله دغه ستوري د دريو موخو لپاره پيداکړي دي: د اسمان ښکلا، د شيطانانو ويشتل، داسې نښې چې لارښوونه پرې کيږي، نو څوک چې له دې پرته بل څه تاويل پکې وکړي، تېروتنه يې وکړه او خپله برخه يې ضايع کړه او د هغه څه تکلف يې وکړ چې پوهه يې نه لري. پای.

قتاده د سپوږمۍ د منزلونو پوهه مکروه ګڼلې ده، ابن عيينه يې اجازه نده ورکړې، دا خبره حرب له هغوی دواړو ياده کړې ده.

د منزلونو د پوهې په اړه احمد او اسحاق اجازه ورکړې ده.

او له ابوموسی څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: درې کسان به جنت ته داخل نه شي: په شرابو روږدی، د خپلوۍ پرې کوونکی او د کوډو تصديقوونکی.

احمد او ابن حبان په خپل صحيح کې روايت کړی دی.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د ستورو په پيدايښت کې حکمت.

دويمه: پر هغه چا رد څوک چې له دغه پرته د بل څه ګومان کوي.

دريمه: د منزلونو د پوهې په ترلاسه کولو کې د اختلاف يادونه.

څلورمه: د هغه چا لپاره د سزا ژمنه چې د کوډو تصديق کوي، که څېرې پر دې پوه شي چې هغه باطل دي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د باران غوښتلو د سپوږمۍ په منزلونو

(زجر هغه چاته چې د باران نسبت کوی د سپوږمۍ منزلونو ته).

او د الله تعالی وینا: او ګرځوئ خپل شرک وایاست:چې د فلاني فلاني ستوري په وجه باران وشو. د الواقعة سورت: ٨٢ ایت.

او له ابومالک اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څلور شیان زما په امت کې دي چې د جاهلیت له چارو څخه به وي او پرې به یې نږدي؛ پر حسبونو ویاړ، په نسبونو کې پیغور ورکول، د ستورو په مرسته د باران غوښتل او پر مړو ژړا (چیغې وهل).

او ویې وفرمایل: پر مړو ژړا کوونکې که له مرګ مخکې توبه ونه باسي، د قیامت په ورځ به په داسې حال کې را پاځول کیږي چې پر هغوی به یو کمیس د ولې شوو میسو او بل به (د سکیبیس خارښ)ناروغۍ غوندې ډال وي. مسلم روایت کړی.

او هغوی دواړه له زید بن خالد رضي الله عنه څخه روایت کوي چې فرمایل یې: رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیبیه کې موږ ته د سهار لمونځ وختې راکړ، کله یې چې مخ وګرځوئ، خلکو ته یې مخ کړ او ویې فرمایل: آیا تاسو پوهیږئ چې پالونکي مو څه وویل؟ هغوی وویل: الله او د هغه رسول ښه پوهیږي، هغه وفرمایل: زما له بندګانو به یو پر ما کافر او بل مؤمن ګرځي، چا چې وویل: د الله پر پیرزوینه او لورینه را باندې و اورېدل، نو هغه پر ما مؤمن او ستورو کافر دی، او چا چې وویل: پرموږ د دغه او دغه ستوري له امله و اورېدل، هغه پر ما کافر او ستوري مؤمن دی.

او هغوی دواړو لره د ابن عباس حدیث په همدغه معنا دی او پکې راغلي: ځینو وویل: پرته له شکه دغه او دغه ستوري رېښتیا وویل؛ نو الله دغه ایتونه نازل کړل.

نو زه د ستورو پرېوتلو پر ځایونو قسم کوم. او که پوهېږئ دا په رېښتیا لوی قسم دی. چې حقیقتاً دا یو عزتمن قرآن دی. چې یو پټ ساتل شوی کتاب کې دی. هغه ته دې پرته له پاکو بل څوك لاس نه وروړي(ملایک په لوح محفوظ کې). د رب العالمین له خوا نازل شوی دی. ایا

نو تاسې د دې خبرې (قرآن) سپك ګڼونكي ياست؟ او (يوازې دا خبره) خپله برخه ګرځوئ چې دروغ يې ګڼئ.

د الواقعة سورت: ۷۵– ۸۲ ايتونه.

په دغه خبره كې دېرې مسئلې دي:

لومړى: د الواقعة ايت تفسير.

دويمه: د جاهليت د زماې د څلورو شيانو يادونه.

دريیمه: په ځينو شيانو كې د كفر يادونه.

څلورمه: ځينې كفر داسې وي چې له ملت څخه پرې نه ايستل كيږي.

پنځمه: د هغه دا وينا: زما ځينې بندګان پر ما مؤمن او ځينې كافر شول د نعمت د نزول له امله.

شپږمه: په داسې ځاى كې ايمان ته ځيركتيا.

اوومه: په داسې ځاى كې كفر ته ځيركتيا.

اتمه: د هغه دغه وينا ته ځيركتيا (دغه او دغه ستورې رېښتيا وويل)

نهمه: د عالم له لوري متعلم ته د پوښتنې په طريقه مسئله ايستل او د هغې په اړه پوښتنه كول؛ د هغه د وينا له امله: آيا تاسې خبر ياست چې پالونكي مو څه وويل؟.

لسمه: پر مړې ژړا كوونكې لپاره د سزا ژمنه.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د الله تعالی د وینا کې: او ځینې خلک داسې دي چې له الله پرته نور سیالان داسې نیسي چې له هغوی سره داسې مینه کوي لکه له الله سره مینه.

د البقرة سورت: ١٦٥ ایت.

او د هغه وینا: ورته ووایه: که پلرونه مو، زامن مو، وروڼه مو، مېرمنې مو، خپل خپلوان مو، هغه مالونه چې ګټلي مودي، هغه سوداګري چې تاسو يې له سرېدو وېرېږئ او هغه کورونه مو چې (ډېر) يې خوښوئ، تر الله، رسول يې او د هغه په لار کې تر جهاد کولو درته غوره وي؛ نو بیا تر هغه صبر وکړئ چې الله خپله پرېکړه درته راوړي او الله فاسقانو ته لارښوونه نه کوي.

د التوبة سورت: ٢٤ ایت.

له انس څخه روایت دی: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: تر هغه ستاسو د یوه ایمان نه دی بشپړ چې له ما سره یې تر خپل زوی پلار یې او ټولو خلکو زیاته مینه نه وي.

هغوی دواړو(بخاري او مسلم) روایت کړی دی.

او هغوی دواړو لره له انس څخه روایت دی چې ویې ویل: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: درې شیان داسې دي چې په چا کې وي هغه به د ایمان خوند وموي: دا چې الله او د هغه رسول هغه ته تر ټولو محبوب وي، او له چا سره چې مینه کوي یوازې د الله لپاره يې وکړي، او دا چې کفر ته ورګرځېدل؛ چې الله یوځل ترې ژغورلی وي داسې بد وګڼي لکه څوک چې په اور کې غورځېدل بد ګڼي.

او په یو روایت کې دي: له تاسو یو هم تر هغه د ایمان خوند نه شي موندلی ترڅو..... تر پایه.

او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي: څوک چې د الله لپاره مینه کوي، د الله لپاره کینه کوي، او د الله لپاره دوستي کوي او د الله لپاره دښمني کوي، هغه به پر دغه سره د الله دوستي ترلاسه کړي، او هیڅ بنده به د ایمان خوند ونه موي که څه هم لمنځونه او روژې یې زیاتې شي، تر څو داسې نه وي شوي، او د خلکو تر منځ عامه وروركلوي د دنیوي چارو له

املﻪ ګرځېدلي ده او دغﻪ يې ښنبتن تﻪ هيڅ ګټﻪ نﻪ رسوي. دغﻪ روايت ابن جرير روايت کړی دی.

او ابن عباس د الله تعالی پﻪ دغﻪ وينا کې فرمايي: **(او لﻪ هغوی اسباب پرې شول) وايي: مينﻪ.**

پﻪ دغﻪ خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د البقرة سورت د ايت تفسير.

دويمﻪ: د براءة ايت تفسير.

درييمﻪ: د ځان، کورنۍ او مال څخﻪ لﻪ رسول صلی الله عليﻪ وسلم سره د زياتي مينې واجبوالی.

څلورمﻪ: د ايمان نفي لﻪ اسلام څخﻪ پر وتلو دلالت نﻪ کوي.

پنځمﻪ: دا چې کلﻪ يو انسان د ايمان خوند احساسولای شي او کلﻪ يې نﻪ شي موندلای.

شپږمﻪ: د زړه هغﻪ څلور اعمال چې يوازې پر هغو د الله دوستي ترلاسﻪ کېږي او يوازې پر هغو د ايمان خوند ترلاسﻪ کولای شي.

اوومﻪ: د صحابي لخوا پر پيښﻪ پوهېدل: چې عمومي ورورګلوي د دنيوي چارې پر بنسټ وي:

اتمﻪ: د دغﻪ ايت تفسير(چې اسباب وربانديې پرې شول)

نهمﻪ: دا چې ځينې مشرکان لﻪ الله سره سختﻪ مينﻪ لري.

لسمﻪ: د هغﻪ چا لپاره د سزا ژمنﻪ چې هغﻪ اتﻪ شيان لﻪ خپل دين څخﻪ ورتﻪ محبوب وي.

يوولسمﻪ: دا چې څوک داسې سيال نيسي چې د هغﻪ مينﻪ د الله لﻪ مينې سره برابروي؛ نو دا شرک دی.

باب دی د الله تعالی د وینا په اړه (چې فرمايي). دا خو يوازې شيطان دی چې خپل دوستان وېروي؛ نو تاسو له هغوی مه وېرېږئ او له ما وډار شئ که چېرې مؤمنان یاست.

د آل عمران سورت: ۱۷۵ ایت.

او د هغه وینا: بېشکه جوماتونه خو هغه څوک ودانوي چې پر الله د آخرت په ورځ باور لري، بشپړه لمونځ کوي، زکات اداکوي او یوازې له الله څخه وېرېږي، همدوی هغه کسان دي چې له لار موندونکو څخه به وي. د التوبة سورت: ۱۸ ایت.

او د هغه وینا: او ځينې خلک هغه دي چې وايي مونږ پر الله ايمان راوړی، خو کله چې د الله په لار کې وځورول شي، د خلکو ازموينه د الله د عذاب غوندې ګڼي. د العنکبوت سورت: ۱۰ ایت.

له ابوسعيد رضي الله عنه څخه مرفوعا روايت دی: او له کمزوري باور څخه دا هم دي چې د الله د غصې په بدل کې خلک راضي کړې، او د الله پر روزی د هغوی ستاينه وکړې، پر هغه څه يې بد بيان کړې چې الله نه دي درکړي، بېشکه د الله روزي د حريص حرص نه شي راکشولی او نه يې د نه خوښوونکي ناخوښي ردولای شي.

او له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې د الله رضا د خلکو په نارضا کولو سره ولټوله، الله به له هغه څخه راضي شي او خلک به ترې راضي کړي، او چا چې د خلکو خوښه د الله په ناخوښۍ سره ولټوله، الله به پرې غصه شي او خلک به پرې غصه کړي. ابن حبان په خپل صحيح کې روايت کړی دی.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړۍ: د آل عمران د ایت تفسیر:

دويمه: د براءة ایت تفسیر.

دريیمه: د العنکبوت د ايت تفسير.

څلورمه: دا چې يقين(د زړه عمل) کمزورى او قوي کيږي.

پنځمه: د کمزورۍ نښانه يې او له هغې څخه دغه درې شيان هم دي.

شپږمه: دا چې د الله لپاره د وېرې ځانګړي کول له فرائضو څخه دي.

اوومه: د هغه چا د ثواب يادونه چې هغه يې ترسره کړي وي.

اتمه: د هغه چا د سزا يادونه چې نه يې وي ترسره کړي.

★★★★★★★★

باب دى په بيان د الله تعالى ددې وينا کې: او يوازې پر الله بروسه وکړئ که مؤمنان ياست.

د المائدة سورت: ۲۳ ايت

او د هغه وينا: پېشکه مؤمنان هغه کسان دي کله چې الله ياد کړل شي د هغوی زړونه په وېره شي او کله چې د هغه آيتونه پرې لوستل کيږي ايمان يې ور زياتوي او پر خپل پالونکي بروسه کوي.

د الأنفال سورت: ۲ ايت.

او د هغه وينا: اې نبي! الله او له مؤمنانو دې چې چا پيروي کړې کړې درته بسنه کوي.

د الأنفال سورت: ٦٤ ايت.

او د هغه وينا: او چا چې پر الله بروسه وکړه؛ نو هغه ورلره بسنه کوي. د الطلاق سورت: ۳ ايت

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى وايي: الله زموږ لپاره بسنه کوي او غوره کار جوړوونکى دى. دغه خبره ابراهيم عليه السلام هغه مهال وکړه چې کله اور کې واچول شو، او محمد صلى الله عليه وسلم هغه مهال وويله کله چې هغوی ورته وويل: پرته له شکه خلک تاسو لره راټول شول؛ نو ترې وډار شئ، هغه يې لا ايمان زيات کړ او ويې ويل الله زموږ لپاره بسنه کوي او هغه غوره کارجوړوونکى دى.

د آل عمران سورت: ۱۷۳ ايت.

هغه بخاري او نسائي روايت کړى دى.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړى: دا چې بروسه له فرائضو څخه ده.

دويمه: دا چې هغه د ایمان له شرطونو څخه ده.

دريیمه: د الانفال د ايت تفسير.

څلورمه: پاى کې د ايت تفسير.

پنځمه: د الطلاق د ايت تفسير

شپږمه: د دغې کلمې د شان لوى والى، او دا چې دغه د ابراهيم عليه الصلاة والسلام او محمد صلى الله عليه وسلم ويناوې وې د سختيو په حالت کې.

★★★★★★★★

باب دی د الله تعالی د وینا په اړه (چې فرمایې). آیا هغوی د الله د پلان په اړه ډاډه دي، د الله د پلان په اړه یوازې تاواني خلک ډاډه کیږي.

د الأعراف سورت: ۹۹ ایت.

او د هغه وینا: او څوک چې د خپل پالونکي له لورېینې نا هیلي کیږي هغه یوازې لارورکي دي.

د الحجر سورت: ٥٦ ایت

او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د لویو ګناهونو په اړه وپوښتل شو؛ نو ویې فرمایل: له الله سره شریک نیول، د الله له رحمت څخه نا هیلي کېدل او د الله د چل په اړه ډاډه کېدل.

او له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: تر ټولو لوی ګناهونه، له الله سره شریک نیول، د الله د چل د څواب په اړه ډاډه کېدل، د الله له لورېینې نا هیلي کېدل(قنوط سخته نا امیدي)، او د الله له رحمت څخه نا امیده کېدل دي.

عبدالرزاق یې روایت کړی دی.

پدې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د الأعراف د آیت تفسیر

دویمه: د الحجر د ایت تفسیر

دریيمه: د هغه چا لپاره د سختې سزا ژمنه چې د الله له مکر څخه بې پروا وي.

څلورمه: د نا هیلی په اړه په سختی سره د سزا ژمنه.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې مسئله کې چې په تقدیري مصیبتونو صبر کول په الله د ایمان څخه دی.

او دا قول يې: او څوک چې پر الله ایمان راوړي، هغه به يې د زړه لارښوونه وکړي او الله پر هرڅه ښه پوه دی. د التغابن سورت: ۱۱ ایت

علقمة وايي: دا هغه سړی دی چې مصیبت ورته ورسیږي؛ نو هغه پردې پوه شي چې دا د الله له لوري دی، پرې راضي شي او تسلیم شي.

او په صحیح مسلم کې له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دوه شیان په خلکو کې د کفر له وخته دي: (د يو چا) نسب پسې سپکې سپورې ویل او پر مړي ژړا کول.

او هغوی دواړو له ابن مسعود څخه مرفوعا روایت دی. هغه څوک له موږ څخه ندي چې مخونه وهي، جامې څیروي او د جاهلیت د زماني په خبر چغې وهي (ګوا کې په تقدیر اعتراض کوي).

او له انس رضي الله عنه څخه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې الله خپل بنده ته د خیر اراده وکړي، په دنیا کې يې سزا په بیړه ورکوي، او کله چې د شر اراده ورته ولري، د ګناه په اړه يې نیونه نه کوي تردې چې د قیامت په ورځ يې سزا ورکړي.

او نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: بیشکه د سزا لوی والی د ازموینې له لوی والي سره وي، کله چې الله تعالی کوم قوم سره مینه ولري؛ نو امتحانات وربانديې راولي، څوک چې راضي شي هغه لره رضاء ده او څوک چې غصه شي هغه لره غصه ده. ترمذي حسن بللی دی.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د التغابن د ایت تفسیر

دویمه: دا چې دغه پر الله له ایمان څخه دی

درییمه: په نسب کې طعن.

څلورمه: د هغه چا په اړه د سزا د ژمنې سختوالی چې په وير کې مخونه وهي، ګرېوانونه څيري او جاهليت د زمانې بلنه کوي.

پنځمه: د الله د خپل بنده لپاره د خير د ارادې نښانه.

شپږمه: او د الله د هغه لپاره د شر د ارادې نښانه.

اوومه: د بنده لپاره د الله د مينې نښانه.

اتمه: د غصې حراموالی.

نهمه: پر ازموينه د رضاء کېدلو ثواب.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د ریاء کې(خپلې نیکۍ خلکو ته خودل د مدح د جلبولو د پاره).

او د الله تعالی وینا: ووایه پرته له شکه زه ستاسو غوندې یو بشر یم وحي راته کیږي، ستاسو الله یو الله دی، څوک چې له خپل پالونکي سره د مخامخ کېدلو امید لري؛ نو ښه کار دې وکړي او د خپل پالونکي په عبادت کې دې هیڅوک هم نه شریکوي.

د الکهف سورت: ۱۱۰ ایت

او له أبي هریرة نه مرفوع روایت شوی: الله تعالی فرمایي: زه له ټولو شریکانو بې پروا یم، چاچې داسې عمل وکړ چې په هغو کې یې له ما سره بل څوک شریک کړ، زه به هغه او شرک یې سره پریږدم.

مسلم روایت کړی.

او له ابوسعید څخه مرفوعا روایت دی: آیا زه تاسو پر هغه څه خبر نه کړم چې ستاسو په حق کې زما لپاره تر مسیح دجال هم ډیر ډاروونکي دي.

هغوی وویل: ولې نه اې د الله رسوله! هغه وفرمایل: پټ شرک، یوسړی به دریږي لمونځ به کوي، نو لمونځ به له دې امله ډیر ښه کوي چې کوم سړی چې ورته ګوري هغه یې ویني. احمد روایت کړی.

پدې کې یو شمیر مسئلې دي:

لومړی: د الکهف د ایت تفسیر

دویمه: تر ټولو لوی شی چې نیک عمل ردوي هغه دا چې کله له الله پرته د بل چا لپاره څه پکې داخل شي.

دریيمه: د دغه لپاره د واجبوونکي لامل یادونه چې هغه د غنا (بې پروايی) بشپړوالی دی.

څلورمه: دا چې له لاملونو څخه: یې دا دی چې هغه غوره د شریکانو دی.

پنځمه: د نبي صلی الله علیه وسلم پر خپلو صحابه وو د ځان ښودني څخه ویره.

شپږمه: دا چې دغه یې پر دې سره تفسیر کړ چې یوشوک به د الله لپاره لمونځ کوي، خو هغه به ډېر ښه کوي ترڅو یې هغه څوک ووینې چې ورته ګوري.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د شرک کې:

کله چې یو انسان په دیني عمل صرف د دنیا اراده ولري

او د الله تعالی وینا کې: څوک چې د دنیا ژوند او د هغې ښکلا غواړي؛ نو په دنیا کې به یې د عملونو بدله بشپړه ورکړو او له هغوی به هیڅ هم کم نه کړای شي. همدوی هغه کسان دي چې په آخرت کې به یوازې هغوی لره اور وي او څه یې چې پکې کړي دي هغه به بابېزه شي او څه یې چې کول هغه به باطل وي. د هود سورت: ١٥– ١٦ ایتونه

په صحیح کې له ابوهریره څخه روایت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دینار بنده دې تباه شي او د درهم بنده دې تباه شي.

د ښکلو جامو بنده دې تباه شي.

د لباس(خمیصه او خمیله جامو ته وايي نوعې یې بدلې دي) بنده دې تباه شي.

که ورکړل شي خوشحالیږي، که ورنه کړل شي په غصه کیږي، تباه دې شي او سرچپه دې شي او کله چې په ستونزه کې ګیر شي نه دې ترې خلاصیږي.

خوښي ده د هغه بنده لپاره چې د الله په لار کې د خپل آس قیضه نیوونکی وي، سر یې ببر او پښې یې سپیرې وي.

که په پیره کې وي نو په پیره کې وي.

او که په کتار کې وي نو په کتار کې وي.

که اجازه وغواړي، اجازه نه ورکول کیږي، که سپارښتنه وکړي، سپارښتنه یې نه منل کیږي.

پدې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د انسان لخوا د آخرت په عمل د دنیا اراده لرل.

دویمه: د هود د آیت تفسیر.

دریيمه: د مسلمان انسان د دینار، درهم او ښکلو جامو پر بنده نومول.

څلورمه: د دغه تفسیر په دې سره چې که هغه ته څه ورکړل شي، راضي وي او که ورنه کړل شي، غصه کیږي.

پنځمه: د هغه وینا: ((تباه او سرچپه دې شي))

شپږمه: د هغه وینا: ((او که اغزی پکې لاړ شي ورخخه دې ونه ایستل شي)).

اوومه: د هغه مجاهد ستاینه چې پر دغو صفتونو متصف وي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې که څوک د علماوو او مشرانو(حکمرانانو) پیروي په هغه څه کې کوي چې الله حلال کړې وي او هغوی یې حراموي او هغه څه حلالوي چې الله حرام کړې وي، نو هغوی یې له الله پرته تشریع جوړوونکي مالکان د حل او د حرمت ونیول.

او ابن عباس فرمايي: نېږدې ده چې پر تاسو به له اسمانه ډبرې را واوريږي، زه وايم رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي، او تاسو واياست ابوبکر او عمر ويلي دي.

او احمد بن حنبل ويلي: هغو خلکو ته حيران يم چې اسناد او د هغه صحت ورته معلوم وي، خو بيا هم د سفيان رايه خپلوي، الله تعالى فرمايي: هغه خلک دې وويريږي چې د هغه د امر(د رسول الله-صلى الله عليه وسلم- د حکم) مخالفت کوي چې هغوی ته دې کومه فتنه ورسيږي(مشرک به شي) او يا دردوونکی عذاب ورته ورسيږي. د النور سورت: ٦٣ ايت.

آيا پوهيږې چې فتنه څه ده؟ فتنه: شرک دی، کېدای شي کله چې د هغه ځينې وينا رد کړي، په زړه کې به يې څه کوږوالی راشي؛ نو تباه به شي.

له عدي بن حاتم څخه روايت دی: چې نبي صلى الله عليه وسلم دغه ايت لوستلو. هغوی خپل علماء او پيران تشريع جوړوونکي نيولي وو پرته د الله څخه او مسيح زوی د مريمې هم، او هغوی ته يوازې د يو الله د لمانځلو امر شوی و نشته لايق د عبادت مګر هغه ذات(الله) هغه پاک دی د شريکانو څخه .

د التوبة سورت: ٣١ ايت.

ما ورته وويل: موږ خو د هغوی عبادت نه کوو.

هغه وفرمايل: آيا هغوی هغه څه نه حراموي چې الله حلال کړي دي؛ نو تاسو يې حرام ګرځوئ او هغه څه حلالوي چې الله حرام کړي دي؛ نو تاسو يې حلال ګرځوئ.

نو ما وويل: ولې نه.

هغه وفرمايل: خو همدغه يې عبادت دی.

احمد او ترمذي روايت کړی او حسن يې بللی دی.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړۍ: د النور د آيت تفسير.

دويمه: د براءة د ايت تفسير.

دريیمه: د هغه عبادت پر معنا تنبيه چې عدي بد ګڼلی دی.

څلورمه: د ابن عباس مثال ورکول په ابوبکر او عمر سره، او د احمد مثال ورکول په سفيان سره.

پنځمه: د حالاتو دغې پايلې ته راګرځېدل، تردې چې د ډېرى خلکو په اند د مذهبي لارښوونکو لمانځل ترټولو د غوره کارونو څخه دي، ولايت او د مذهبي لارښوونکو عبادت ته پوهه او فقه ويل کيږي، بيا حالات دېته بدل شول چې له الله پرته د نېکانو عبادت کېدی، او پر دويمه معنا لمانځل کيږي کوم چې له ناپوهانو څخه دي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د الله تعالی د وینا کې: آیا هغه دې نه دي لیدلي چې ګومان کوي په هغه څه یې ایمان راوړی دی چې پر تا نازل شوي او له تا مخکې نازل شوي خو غواړي چې د پرېکړې لپاره باطل معبود ته ورشي، حال دا چې ورته امر شوی چې هغه دې نه مني، او شیطان (همدا) غواړي چې بې لارې یې کړي (له حقه) په لرې بې لاریتوب سره. او چې ورته وویل شي د الله رالېږلې خبرې ته راشئ اود رسول په لوري، نو منافقان به وینې چې له تانه په کلکه ډډه کوي. نو بیا به څنګه وي چې په خپلو لاسو وړاندې لېږلي عمل له امله یو مصیبت ور ورسیږي، بیا درته راشي په الله به قسمونه کوي چې موږ خو له ښېګڼې او جوړښت پرته بل څه نه غوښتل.

د النساء سورت: ۶۰- ۶۳ آیتونه.

او د هغه وینا: او کله چې هغوی ته وویل شي په ځمکه کې ورانکاري مه کوئ، هغوی وايي موږ یوازې اصلاح کوونکي یو. د البقرة سورت: ۱۱ آیت.

او د هغه وینا: او په ځمکه کې د هغې له اصلاح وروسته ورانکاری مه کوئ او هغه (الله) په وېره او هیله رابولئ، بېشکه د الله لورېینه نېکانو ته نېږدې ده. د الأعراف سورت: ۵۶ آیت.

او د هغه وینا: آیا هغوی د جاهلیت پرېکړه لټوي، او د هغو خلکو لپاره چې باور لري له الله زیات د ښې پرېکړې والا څوک دی؟. د المائدة سورت: ۵۰ آیت.

له عبدالله بن عمرو څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له تاسو یو هم تر هغه بشپړ ایمان نه شي راوړی تر څو یې خپله نفسي غوښتنه د هغه څه تابع نه وي ګرځولې چې زه ورسره راغلی یم.

نووي وايي: دغه حدیث صحیح دی، په کتاب الحجة کې مو په صحیح اسناد سره روایت کړی دی.

او شعبي وايي: د یو منافق او یو یهودي سړي تر منځ شخړه وه.

نويهودي وويل: محمد-صلی الله عليه و سلم- ته پرېکړه ورو.

هغه پوه و چې هغه بډې (رشوت) نه اخلي.

او منافق وويل: يهودي ته خپله پرېکړه ورو، ځکه هغه پوهېدی چې هغوی رشوت (بډې) اخلي.

نو دواړه په دې یوه خوله شول چې په جهینیه کې یوه غیب ویونکي ته راشي، هغه ته يې پرېکړه راوړه، نو دغه آيت نازل شو چې: ايا ته هغوی نه وينې چې ګمان کوي. د النساء سورت: ٦٠- ٦٢ آيتونه.

ويل شوي: دغه آيت د هغو دوو کسانو په اړه نازل شو چې سره شخړه يې وه، يوه يې وويل: نبي - صلی الله عليه وسلم - ته خپله قضيه ورو، بل وويل: کعب بن اشرف ته يې ورو، بيا دواړو عمر ته قضيه يوړه؛ نو يوه يې کيسه ورته بيان کړه.

نو هغه ته يې وويل چې پر رسول الله صلی الله عليه وسلم راضي نه و: آيا همداسې ده.

هغه وويل: هو؛ نو هغه په توره وواهه او ويې واژه.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د النساء د آيت تفسير او په هغو کې چې د طاغوت په اړه په پوهېدو کې کومه مرسته ده.

دویمه: د البقرة د آيت تفسير: چې کله ورته وويل شول په ځمکه کې ورانکاری مه کوئ.

درېيمه: د الأعراف د آيت تفسير: په ځمکه کې د هغې له اصلاح وروسته ورانکاري مه کوئ.

څلورمه: د دغه آيت تفسير: چې آيا هغوی د جاهليت پرېکړه لټوي.

پنځمه: څه چې شعبي د لومړي آيت د نزول په اړه ويلي دي.

شپږمه: د ربښيني او درواغو د ايمان تفسير.

اوومه: د عمر له منافق سره کيسه.

اتمه: دا چې ايمان هيڅاته تر هغه نه حاصليږي ترڅو يې نفسي غوښتنه د هغه څه تابع نه وي ګرځولې چې رسول صلى الله عليه وسلم ورسره راغلى دى.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې که څوک له نومونو او صفتونو څخه د څه انکار وکړي

او د الله تعالی وينا: حال دا چې هغوی پر رحمٰن الله کافران شوي دي. ورته ووايه هماغه زما رب دی، له هغه پرته بل معبود نشته، پر هغه مې بروسه کړې او د هماغه لور ته مې ورګرځېدل دي.

د الرعد سورت: ۳۰ آيت.

او په صحيح بخاري کې علي وايي: له خلکو سره هغه خبرې وکړئ چې پرې پوهيږي، آيا تاسي غواړئ د الله او د هغه رسول دې دروا‌غجن وګڼل شي.

عبدالرزاق له معمر څخه روايت کوي، هغه له ابن طاؤس څخه، هغه له خپل پلاره او هغه بيا له ابن عباس څخه: چې هغه يوسړی وليده چې ورپيده کله يې چې د رسول الله-صلى الله عليه و سلم- څخه د صفاتو په باره کې يو حديث واوريده د بد ګڼلو د وجه هغې لره، نو هغه وويل: څه شی ډاروي دوی لره؟ د محکم په اړه يې رقت او نرمي مومي او د متشابه په اړه يې تباه کيږي. پای.

کله چې قريشو له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه واورېدل چې رحمن يادوي له هغو يې نټه وکړه، نو الله د هغوی په اړه دغه ايت نازل کړ: او هغوی پر رحمن کفر کوي. د الرعد سورت: ۳۰ ايت.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د الله تعالی په نومونو او صفتونو کې په څه شي ايمان نه لرل د انکار په درجه کې.

دويمه: د الرعد د ايت تفسير.

دريیمه: د هغه څه نه بيانول چې اورېدونکی نه پرې پوهيږي.

څلورمه: د هغه علت بيانول چې د الله او د هغه د رسول د دراوغجن ګڼلو لامل کيږي، که څه هم انکار کوونکي يې اراده نه وي کړې.

پنځمه: د ابن عباس وینا د هغه چا لپاره چې له دغو څخه له یوشي څخه نټه کوي او دا چې هغه به تباه شي.

★★★★★★★★

باب دی د الله تعالی د وینا په اړه (چې فرمايي): هغوی د الله نعمت پېژني بيا يې انکار کوي او ډېری يې کافران دي.

د النحل سورت: ۸۳ ايت.

مجاهد ويلي د هغه معنا ده: دا د هغه سړي وينا ده چې وايي: دغه زما مال دی له پلرونو مې په ميراث وړی دی.

عون بن عبدالله وايي: هغوی وايي: که چېرې فلانی نه وای داسې به نه وای.

او ابن قتيبه وايي: **هغوی وايي دغه زموږ د معبودانو په سپارښتنې سره.**

ابوالعباس د زيد بن خالد له هغه حديث وروسته وايي چې پکې دي: بېشکه الله تعالی ويلي: زما له بندګانو يو پر ما مؤمن وي او بل کافر وي... حديث مخکې تېر شو.

او دا ډېری په کتاب او سنتو کې دي چې الله پاک د هغه چا بد بيانوي چې يوخوک د هغه پېرزوينه بل چاته منسوبوي او له هغه سره خوک شريکوي.

ځينو سلفو ويلي: دا لکه د هغوی وينا: هوا ښه وه، کشتۍ بان ماهر و او دېته ورته هغه څه چې د ډېری خلکو پر ژبه جاري وي.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د نعمت د پېژندنې تفسير او د هغو انکار.

دويمه: د دې خبرې پېژندنه چې دا خبره د ډېريو پر ژبو جاري ده.

درېيمه: د دغه وينا د نعمت په انکار سره نومول.

څلورمه: په زړه کې د دوو ټکر شيانو يوځای کېدل.

★★★★★★★★

باب دی د الله تعالی د وینا په اړه (چې فرمايي): د الله لپاره سیالان مه نیسئ په داسې حال کې چې تاسو پرې پوهېږئ.

د البقرة سورت: ۲۲ ايت.

او له ابن عباس څخه د آيت په اړه راغلي دي: انداد: د هغه ميږي د پښو د کشاري څخه هم ډير پټ شرک دی چې په توره تياره شپه کې په تکه توره خويه ډبره روان وي.

او هغه دا دي چې ته ووايې: پر الله او ستا پر ژوند قسم اې فلانيه. او زما پر ژوند قسم.

او ووایې: که چېرې دغه سپی نه وای هرومرو به غله راغلي وای.

او که په کور کې بطه نه وای غله به راغلي وای.

او د يوسړي خپل ملګري ته دا وينا: چې الله وغواړي او ته يې وغواړې.

او د سړي وينا: که چېرې الله او فلانی نه وای، په هغې کې فلانی مه ورسره ګډه وه، دا ټول په الله شرک کول دي. ابن ابي حاتم روايت کړی دی.

او له عمربن خطاب رضي الله عنهما څخه روايت چې نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې پرته له الله پر بل چا لوړه (قسم) وکړه؛ نو هغه کفر او شرک وکړ: دغه حديث ترمذي روايت کړی او حسن يې بللی او حاکم صحيح بللی.

او ابن مسعود وايي: دا چې پر الله د درواغو قسم وکړم راته ښه دی تردې چې له هغه پرته په بل چا رښتيني قسم وکړم.

او له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: داسې مه واياست: څه چې الله غواړي او فلاني غوښتي وي، خو داسې ووایاست، چې الله غوښتي وي او بيا فلاني. دغه حديث ابواؤد په صحيح سند سره روايت کړی دی.

او له ابراهيم نخعي څخه روايت دی چې هغه دا بدګڼل چې څوک ووايي: پر الله او پر تا پناه غوارم، او دا روا دي چې ووايي: پر الله بيا پرتا، هغه وويل: او چې ووايي: که الله بيا فلانی نه وای، او داسې مه وایاست: که الله او فلانی نه وای.

په دې کې يوشمېر مسئلې دي:

لومړی: د انداد په اړه د البقرة د ایت تفسیر.

دويمه: صحابه هغه آيت چې د لوی شرک اړوند نازل شوی دی داسې تفسیروي چې هغه وړوکي شرک ته هم شامل دی.

درېيمه: له الله پرته پر بل چا لوړه (قسم) کول شرک دی.

څلورمه: دا چې کله څوک له الله پرته پر بل چا رېښتينې لوړه وکړي؛ نو هغه له درواغو قسم څخه لويه ګناه ده.

پنځمه: د واو او ثم تورو ترمنځ توپير.(واو:د معطوف او معطوف عليه تر مينځ جمعوالی افاده کوي او ثم تراخی(فاصله) افاده کوي) يا داسې لنډ ووايه:واو د مطلق جمع د پاره راځي او ثم د تراخی دپاره.

باب دی په بيان د هغه چا کې چې د الله په نوم ورته قسم وشي قناعت پرې نه کوي.

له ابن عمر – رضي الله عنهما – څخه روايت دی چې رسول الله – صلی الله عليه وسلم – فرمايلي دي: پر خپلو پلرونو لوړې (قسمونه) مه کوئ، څوک چې پر الله قسم کوي، رېښتيا دې وايي، او د چا لپاره چې پر الله قسم وشي، پرې راضي دې شي، او څوک چې نه راضي کيږي؛ نه دی د الله د طرفه په هيڅ شي.

دغه حديث ابن ماجه په حسن سند سره روايت کړی دی.

پدې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړۍ: پر پلرونو له قسم کولو څخه منع.

دويمه: د چا لپاره چې پر الله قسم اخيستل کيږي هغه ته امر دی چې پرې راضي شي.

درېيمه: د هغه چا لپاره د سزا ګواښ چې نه پرې راضي کيږي.

★★★★★★★★

باب دى په بيان د دغې وينا کې چې: څه الله او ته غواړې.

له قتيلة څخه روايت دى: چې يو يهودي نبي صلى الله عليه وسلم ته راغى هغه وفرمايل: تاسو شرک کوئ.

تاسو واياست: څه چې الله او ته غواړې.

او تاسو واياست: پر کعبه قسم.

نو نبي – صلى الله عليه وسلم– ورته امر وکړ چې کله غواړي نو داسې قسم دې کوي. د کعبې پر پالونکي قسم.

او داسې دې وايي څه چې الله غواړي او بيا ته غواړې.

دغه حديث نسائي روايت کى او صحيح يې بللى دى.

او هغه لره له ابن عباس څخه هم روايت دى: چې يو سړي نبي صلى الله عليه وسلم ته وويل: څه چې الله او ته غواړې؛ نو هغه وفرمايل: آيا تا زه د الله لپاره سيال وګرځولم؟ څه چې يوازې الله غواړي.

او ابن ماجه د عائشې له مورني ورور طفيل څخه روايت کوي وايي: ما داسې خوب وليده چې ګواکې زه د يهودو پر يوه ډله راغلم.

ما وويل: تاسو ښه خلک ياست، که مو دا نه ويلاى چې عزير د الله زوى دى.

هغوى وويل: او تاسو هم ښه خلک ياست که مو دا نه ويلاى: چې څه الله غواړي او څه محمد غواړي.

بيا پر يوه ډله نصاراو تېرېدم؛ نو ومې ويل: تاسو ښه خلک ياست که مو دا نه ويلاى: چې مسيح د الله زوى دى.

هغوى وويل: او تاسو هم ښه خلک ياست که مو دا نه ويلاى: چې څه الله غواړي او څه محمد غواړي.

کله چې سهار شو، نو څوک مې چې پر خپل خوب خبر کړل هغه مې خبر کړل.

بيا نبي صلى الله عليه وسلم ته راغلم، هغه مې پرې خبر کړ.

هغه وفرمايل: آيا څوک دې پرې خبر کړي دي؟

ما وويل: هو، هغه وويل:

نو نبي صلى الله عليه وسلم د الله حمد او ستاينه وکړه بيا يې وفرمايل: اما بعد.

پرته له شکه طفيل داسې خوب ليدلی، چې پر هغو يې له تاسو څوک چې خبر کړي هغه يې خبر کړي.

او دا چې تاسو داسې يوه وينا کوله چې دغه او دغه عذرونو زه منع کولم چې تاسې يې له ويلو منع کړم.

نو نور دا مه واياست: چې څه الله غوښتي او څه چې محمد غوښتي وي، بلکې داسې واياست: چې څه يوازې الله غوښتي وي.

په دې کې يوشمېر مسئلې دي:

لومړی: د يهودو په کوچني شرک سره پېژندګلوي.

دويمه: د انسان فهم کله چې هغه لره نفسي غوښتنه وي.

درېيمه: د نبي – صلى الله عليه وسلم – دا وينا: چې آيا زه دې له الله سره سيال وګرځولم؟!، نو د هغه چا به څه حال وي چې وايي.

ما لره څه دي چې زه له تا څخه پرته پر بل چا پناه غواړم..له دغه وروسته دوه بيتونه؟

څلورمه: دا چې دغه له لوی شرک څخه ندی ځکه خو يې ويلي: دغه او دغه مې منع کوي.

پنځمه: دا چې نيک خوبونه د وحي له ډولونو څخه دي.

شپږمه: دا چې خوبونه کله د ځينو حکمونو مشروع کېدو لامل کيږي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې څوک زمانې ته ښکنځل وکړي؛ نو هغه الله ته اذیت ورکړ.

او د الله تعالی وينا: او هغوی وویل: نه دی مګر زمونږ د دنیا ژوند چې ځيني مره کيږي او ځيني ژوندي کيږي او یوازې زمانه مو وژني، او هغوی لره څه پوهه نشته، هغوی یوازې ګمان کوي.

د الجاثية سورت: ٢٤ آيت.

په صحيح کې ابوهريره له نبي - صلى الله عليه وسلم - څخه روايت کوي چې ويې فرمايل. الله تعالی وفرمايل: ابن آدم ماته اذيت رسوي، زمانې ته ښکنځل کوي، زه د زمانې پيداکوونکی يم، شپه او ورځ سره اړوم را اړوم.

او په يو روايت کې دي: زمانې ته ښکنځل مه کوئ؛ ځکه الله د زمانې خالق دی (په زمانه کې چې څه کيږي د هغې فاعل الله دی او د دهريو عقيده دا وه چې دا هر څه زمانه کوي نو زمانې ته يې کنځل کول او دا کنځل الله ته وو) اقلب الليل و النهار په دې دليل دی.

پدې کې يو شمير مسئلې دي:

لومړی: زمانې ته له ښکنځلو څخه منع کول.

دويمه: د هغو د الله په آذيت سره نومول.

دريیمه: د هغه په وينا کې فکر کول: چې الله زمانه دی(فاعل او خالق يې دی).

څلورمه: دا چې کله يوڅوک ښکنځل کوونکی وي، که څه هم له زړه څخه يې اراده نه وي کړې.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د قاضي القضاة او دېته ورته سره نومولو کې.

په صحیح کې ابوهریره رضي الله عنه له نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه وفرمایل: **تر ټولو بد نوم د الله په وړاندې دا دی چې یوڅوک د پاچایانو په پاچا سره ونومول شي، پاچا یوازې الله دی.**

سفیان ویلي دي: لکه: شاهان شاه.

او په یو روایت کې دي: **چې هغه د قیامت په ورځ تر ټولو بد او خبیث سړی دی.**

د هغه وینا (اخنع) معنا دا چې تر ټولو سپک.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: د پاچایانو په پاچا سره له نومولو منع کول.

دویمه: دا چې د هغو په معنا وي لکه سفیان چې ویلي:

دریيمه: په دغه او دېته ورته شیانو کې د سختۍ لپاره هوښیارتیا، سره لدې چې زړه د هغو د معنا اراده نه وي کړې.

څلورمه: پردې پوهېدل چې دغه د الله پاک د درناوي له امله دي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د احترام د نومونو د الله تعالی کې او د دی احترام د وجه نوم بدلول.

له ابوشريح څخه روايت دی: چې د هغه كنيت ابوالحكم و، نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته وويل: **پرته له شكه يوازې الله پرېكړه كوونكی دی او يوازې هغه لره پرېكړه ده.**

هغه وويل: زما قوم چې كله د څه په اړه اختلاف كوي، ماته راځي، زه د هغوی ترمنځ پرېكړه كوم، نو دواړه اړخونه پرې راضي شي.

هغه وفرمايل: څومره ښه، ستا بچيان څوک دي؟

ما وويل: شريح، مسلم او عبدالله.

هغه وفرمايل: ترټولو مشر يې كوم يو دی؟

ما وويل: شريح.

هغه وفرمايل: نو ته ابوشريح يې. دغه حديث ابوداؤد او نورو روايت كړی دی.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړۍ: د الله د نومونو او صفتونو درناوی، که څه هم د معنا اراده يې نه وي شوې.

دويمه: د دغه له امله د نوم بدلول.

دريیمه: تر ټولو مشر بچي د كنيت لپاره غوره كول.

★★★★★★★★

باب دی د هغه چا په اړه چې پر داسې يو څه ملنډې ووهي چې د الله، قران او رسول یاد پکې وي.

او دا وینا د الله تعالی: او که له هغوی وپوښتې، هرومرو به وايي موږ خو یوازې ټوکې او لوبې کولې، ورته ووايه: آیا پر الله د هغه پر آیتونو او رسول یې تاسو ملنډې وهئ. د التوبة سورت: ٦٥ ایت

له ابن عمر، محمد بن کعب، زید بن اسلم او قتادة څخه روایت دی، له هغوی د ځینو حدیث د ځینو په حدیث کې داخل دی: دا چې یوسړي د تبوک په غزا کې وویل: موږ د خپلو دغو قاریانو غوندې زیات د خېټو مینه وال، د ژبو درواغجن او له دښمن سره د مخامخ کېدو پر مهال زیات ډارن نه دي لیدلي- د هغه موخه رسول صلی الله علیه وسلم او د هغه قاریان صحابه وو، نو عوف بن مالک ورته وویل: درواغ دې وویل او ته پرته له شکه منافق یې، زه هرومرو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبروم.

نو عوف رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغی ترڅو یې خبر کړي، خو هغه قرآن تر هغه مخکې شوی و.

نو دغه سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی په داسې حال کې چې رحلت یې ځمتوالی نیولی و او پر خپله سپرلۍ سپور شوی و.

نو ویې ویل: اې د الله رسوله! موږ یوازې ټوکې کولې هسې د سفر خبرې مو کولې ترڅو د لارې ستړیا پرې وباسو، ابن عمر وايي: ګواکې زه هغه ته ګورم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوښې جلب(پړی) یې نیولی او وايي: موږ یوازې ټوکې او لوبې کولې، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وايي. آیا تاسو پر الله، د هغه پر آیتونو او رسول یې ملنډې وهئ، عذر مه کوئ، تاسو له ایمان وروسته کفر کړی دی. نه یې هغه ته کتل او نه یې څه پرې زیاتول.

په دې کې یوشمېر مسئلې دي:

لومړی: چې هغه لویه خبره ده – چې چا پر دغه ملنډې ووهلې هغه کافر دی.

دويمه: دا چې دغه د هغه آيت تفسير دی چې چا دا کار وکړ هر څوک چې وي.

درېيمه: د چغل خورۍ او د الله او د هغه رسول لپاره د نصيحت او ښېګڼې تر منځ توپير.

څلورمه: د هغې بخښنې چې الله يې خوښوي او د الله پر دښمنانو د سختۍ ترمنځ توپير،

پنځمه: ځينې عذرونه داسې دي چې په کار نده چې ودې منل شي.

★★★★★★★★

باب دی په بيان د الله تعالی د وينا کې: او که موږ هغه ته زموږ لخوا لورېينه ور وڅکو وروسته تردې چې کړاو ورته رسېدلی وي، هرومرو به وايي، دا زما لپاره دی او زه ګومان نه کوم چې قيامت رامنځته کېدونکی دی، او که خپل پالونکي ته ور وګرځول شم(ستا په ګمان)، د هغه په وړاندې به هم ما لره غوره برخه وي، موږ به هرومرو هغه خلک چې کفر يې کړی پر هغه څه خبر کړو چې هغوی کړي دي او هرومرو به هغوی ته سخته سزا ور وڅکو.

د فصلت سورت: ٥٠ آيت.

مجاهد وايي: دا زما د عمل له امله او زه يې مستحق يم.

او ابن عباس وايي:چې د دي څخه مراد هغه څوک دی چې وايي دا زما کمال وو.

او د هغه وينا: هغه وايي: ماته يوازې زما د پوهې له امله راکړل شوي دي. قتاده وايي: زما د هغې پوهې له امله چې د بېلابېلو کسبونو په اړه يې لرم.

او نورو ويلي دي: د الله د هغه علم له امله چې زه يې وړ يم.

او دغه د مجاهد د وينا معنا ده: ماته د شرف له امله راکړل شوي دي.

له ابوهريره څخه روايت دی چې هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: دا چې درې کسان د بنی اسرائيلو څخه وو: يو پيس(برګي مرض والا)، بل پک (ګنجی) او بل ړوند:

نو الله د هغوی ازمويل وغوښتل، هغوی ته يې يوه پرېښته ولېږله.

هغه پرېښته پيس (پمن) ته راغله ورته يې وويل: تاته ترټولو غوره شی څه دي؟.

هغه وويل: ښکلی رنګ، ښکلی پوستکی چې له ما څخه مې هغه عيب يوسي چې خلک يې بد ګڼي زما څخه.

هغه وايي: نو هغې پرې لاس راکش کړ، چې له هغه څخه يې بدوالی له منځه ولاړ؛ نو ښکلی رنګ او ښکلی پوست يې ورکړ.

هغې وويل: تاته ترټولو غوره مال څه دی؟

هغه وويل: اوښان او که غويان- اسحاق ته شک دی- نو لس مياشتنۍ بلاربې اوښانې يې ورکړې.

بيا يې ورته وويل: الله دې برکت درته پکې واچوي.

هغه وايي: بيا پک ته راغی.

هغه ته يې وويل: تاته ترټولو غوره شی څه دی؟

هغه وويل: ښکلي وېښتان، چې له ما هغه څه يوسي چې خلکو پرې بد ګڼلی يم.

نو هغه يې هم مسح کړ، له هغه يې عيب ولاړ او ښکلي وېښتان يې ورکړل.

هغه ته يې وويل: کوم مال دې ډېر خوښيږي؟

هغه وويل: غويان او که اوښان، نو هغه ته يې بلاربې غواوې ورکړې.

بيا يې ورته وويل: الله دې برکت درته پکې واچوي.

بيا ړانده ته راغی.

نو ويې ويل: ستا ترټولو زيات څه شی خوښيږي؟

هغه وويل: دا چې الله مې بينايي بېرته راکړي، نو خلک پرې ووينم، هغه يې هم مسح کړ چې الله هغه ته بينايي وروګرځوله.

هغه ته يې وويل: کوم مال دې ډېر خوښيږي؟

هغه وويل: پسونه.

نو هغه ته مېږې او پسونه ورکړل شول چې هغو بيا بچيان راوړل.

چې د دغه يوه شپله اوښان وو، د هغه يوه شپله غواوې وې، او د دغه بيا يوه شپله مېږې او پسونه وو.

هغه واېي: بيا هغه په خپل شکل او حالت کې پيس (پمن) ته راغی ورته ويې ويل: بې وزله، مسافر يم په دغه سفر کې مې هرڅه تمام شول، نن ما لره هيڅ هيله نشته پرته له الله او بيا له تا څخه.

د هغه په نوم چې ښکلی رنګ، ښکلی پوست او مال يې درکړې يو اوښ درڅخه غواړم چې خپل سفر ته پرې ورسېږم.

هغه وويل: حقوق بيخي زيات دي.

نو هغه ورته وويل: داسې ښکاري لکه زه دې چې نه پېژنم، آيا ته پيس (پمن) نه وې خلکو بد درته ويل، بې وزله وې، الله مال درکړ.

هغه وويل: ما دغه مال له خپلو لويانو او لويانو څخه په ميراث وړی دی.

هغه وويل: که ته درواغجن وې؛ نو الله دې هغه حال ته وګرځوه چې پرې وې.

هغه واېي: بيا پک (ګنجي) ته په خپل صورت او شکل کې راغی.

هغه ته يې همغه ډول وويل، کوم يې چې دغه ته ويلي و، هغه هم همغه ډول ځواب ورکړ لکه دغه چې ورکړی و.

نو هغه ورته وويل: که ته درواغجن وې، الله دې هغه حال ته وګرځوه چې پرې وې.

هغه واېي: بيا ړانده ته په خپل شکل او صورت کې راغی ورته ويې ويل: بې وزله او مسافر سړی يم، په سفر کې مې هرڅه له لاسه ورکړل، نو له الله او بيا له تا پرته بله هيڅ وسيله نه لرم.

د هغه ذات په نوم يو پسه در څخه غواړم چې تاته يې سترګې بېرته درکړې، تر څو په خپل سفر کې ځان ځای ته پرې ورسوم.

هغه وويل: زهړوند وم، الله مې ليد را وګرځاوه، نو څومره چې غواړې واېې خله، او څومره چې غواړې پرې يې ږده، پر الله قسم نن دې چې د الله لپاره هرڅه واخېستل نه دې ملامتوم.

هغه ورته وويل: خپل مال دې درسره وساته، تاسو يوازې و ازمويل شوئ، الله له تا څخه راضي دی او پر ملګرو دې په غصه دی.

(٤) هغوی دواړو تخريج کړی دی.

په دې کې يوشمېر مسئلې دي:

لومړی: د آيت تفسير.

دويمه: د دغې وينا څه معنا ده چې (هرومرو به وايې دغه زما لپاره دي).

درېيمه: د دغې وينا معنا څه ده: (ما ته خو يوازې زما د پوهې له امله راکړل شوي دي).

څلورمه: پدغه کيسه کې څه عجيب لوی پندونه دي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د الله تعالی د دې وینا کې: خو کله چې ښه بچی یې ورکړ، دواړو په هغه ورکړه کې لده سره نورشریکان وګڼل؛ نو الله له هغو ډېر اوچت دی چې دوی یې ورسره شریکوي.

د الأعراف سورت: ۱۹۰ ایت

ابن حزم وايي: ټول علماء د هر داسې نوم په اړه په يوه خوله دي چې د الله څخه په غير بل چا ته پکې د عبادت نسبت شوی وي چې دغه نوم به حرام وي ، لکه عبدعمرو، عبدالکعبة او دېته ورته نومونه نو د عبدالمطلب به څه حال وي.

او د آيت په اړه له ابن عباس څخه روايت دی وايي: کله چې آدم له هغې سره کوروالی وکړ، هغه بلاربه شوه، نو هغوی دواړو ته شيطان راغی، ورته ويې ويل: زه ستاسو هغه ملګری يم چې له جنته مې و اېستلئ، اوس به مې هرومرو يا پيروي کوئ او يا زه هغه لره داسې ښکر ورکوم چې له خېټې دې راووځي او درخيري يې کړي.

او زه هرومرو او هرومرو کوم؛ هغوی يې وېرول.

هغه باندې عبدالحارث نوم کيږدئ.

هغوی دواړو نټه وکړه چې د هغه پيروي وکړي؛ نو مړ را ووت.

بيا حامله شوه، نو هغه ورته راغی، هغه مخکېنی-وينا غونډې يې ورته وويل؛ هغوی دواړو بيا د هغه له پيروی-نټه وکړه؛ نو بيا يې بچی مړ پيدا شو.

بيا حامله شوه، هغه بيا ورته راغی د همغه څه يادونه يې ورته وکړه، هغوی دواړو د زوی مينې دېته اړ اېستل چې عبد الحارث نوم پرې کيږدي.

له همدې امله د الله وينا ده: چې هغوی دواړو هغه لره شريکان ونيول په هغه څه کې چې هغه (شيطان) يې په اړه ورته راغلی و. ابن ابي حاتم روايت کړی دی.

او هغه لره له قتادة څخه په صحيح سند سره روايت دی وايي: د هغه په پيروی کې شريکان دي، نه په عبادت کې.

او هغه لره په صحیح سند سره له مجاهد څخه د الله د وینا په اړه روایت دی: **(چې کله ته موږ ته صالح اولاد راکړې) هغه وايي: (هغوی دواړه پردې وېرېدل چې داسې نه چې انسان نه وي.**

او همدغه معنا يې له حسن، سعید او نورو څخه بیان کړې ده.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د هر داسې نوم اېښودلو ناروا‌والی چې له الله پرته د غیرالله د لمانځلو معنا ورکوي.

دویمه: د ایت تفسیر.

درېیمه: دا چې دغه یوازې د نوم په اېښودلو کې شرک و، حقیقي معنا يې مراد نه وه.

څلورمه: دا چې د الله لخوا چاته د سمې لور ورکړه له نعمتونو څخه ده.

پنځمه: د سلفو لخوا د پیروۍ او عبادت په شرک کې د توپیر بیانول.

★★★★★★★★

باب دی د الله تعالی د وينا په اړه (چې فرمايې): او الله لره ښكلي نومونه دي؛ نو پرې را ويې بولئ، او هغه كسان پرېږدئ چې د هغه په نومونو كې كوږوالى لټوي.

د الاعراف سورت: ۱۸۰ ايت

ابن ابي حاتم له ابن عباس څخه بيان كوي چې (د هغه په نومونو كې الحاد كوي) يعني شرک كوي.

او له هغه څخه روايت دی: **لات نوم يې له اله څخه نوملی او عُزی يې له عزيز څخه.**

او له اعمش څخه روايت دی: **په هغو كې هغه څه داخلوي چې له هغو څخه ندي.**

پدې كې يو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د نومونو اثبات.

دويمه: دا چې ښكلي نومونه دي.

درېيمه: پر هغو نومونو يې د رابللو امر.

څلورمه: له ناپوهانو او ملحدينو سره د معارضې پرېښودل.

پنځمه: په هغو كې د الحاد تفسير.

شپږمه: د هغه چا لپاره د سزا ژمنه چې الحاد كوي.

★★★★★★★★

باب دى په بيان د دې كې چې (السلام على الله) به نه واياست.

په صحيح كې له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى وايي: **موږ چې كله له نبي – صلى الله عليه وسلم – سره په لمانځه كې وو، ومو ويل: پر الله دې د هغه د بندګانو لخوا سلام وي، پر فلاني او فلاني دې سلام وي، نو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: داسې مه واياست چې پر الله دې سلام وي، بېشكه الله په خپله سلام دى.**

په دې كې يوشمېر مسئلې دي:

لومړى: د سلام تفسير.

دويمه: دا چې دا تحيه ده.

دريېمه: دا چې دا د الله لپاره كارول يې په كار نه دي.

څلورمه: د دغې علت بيانول.

پنځمه: هغوى ته هغه ډول سلام ښوونه چې د الله تعالى له شان سره ښايي.

★★★★★★★★

باب دی په بيان د دغې وينا کې چې څوک ووايي: اې الله ماته بخښنه وکړه که دې خوښه وي.

په صحيح کې له ابوهريره څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: **له تاسو دې يو هم دا نه وايي: چې اې الله ما وبخښه که غواړې، اې الله پر ما لورېينه وکړه که دې خوښه وي، په غوښتنه کې دې ټينګ هوډ وکړي، ځکه الله لره کوم اړ ايستونکی نشته.**

او د مسلم په روايت کې دي: **خپل شوق مينه دې لويه ولري، ځکه له الله هيڅ شی هم لوی نه دی چې ور کوي يې.**

په دې کې يوشمېر مسئلې دي:

لومړی: په دعاء کې له استثناء څخه منع.

دويمه: د دغې علت بيانول

درېيمه: د هغه وينا: چې خپل حاجت دې ښه په کلکه و غواړي.

څلورمه: د رغبت (مينه شوق) لويوالی.

پنځمه: د دغه امر علت بيانول.

★★★★★★★★

باب دی په بيان د دې کې چې څوک دې نه وايي: زما بنده او زما بندګی.

په صحيح کې له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: **له تاسو دې هيڅوک هم داسې نه وايي: چې خپل رب ته خواره ورکړه، خپل رب ته اودس وکړه، داسې دې ووايي: زما سردار او زما بادار، او له تاسو دې داسې څوک نه وايي چې زما بنده او زما بندګي، داسې دې ووايي: زما مريۍ، مينځه او غلام.**

په دې کې يوشمېر مسئلې دي:

لومړی: لدې وينا منع: زما بنده او زما بندګی.

دويمه: بنده دې داسې نه وايي: زما پالونکيه، او ندې داسې ورته ويل کيږي: خپل رب ته دې خواره ورکړه.

درېيمه: لومړي ته د دغې وينا ښوونه: چې زما مريي، زما وينځه او زما غلام.

څلورمه: دويم ته د دغې وينا ښوونه: زما بادار او مولا .

پنځمه: موخې ته پام راړول: چې هغه د توحيد ثابتول دي آن په الفاظو کې هم.

★★★★★★★★

باب دى پدې باره کې چې چا د الله په نوم غوښتنه وکړه نو هغه به تش لاس نه رخصتيږي.

له ابن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دى وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

چا چې پر الله پناه وغوښته، نو پناه ورکړئ، او چا چې پر الله غوښتنه وکړه، نو څه ورکړئ، او چا چې بلنه درکړه؛ نو بلنه يې ومنئ، چا چې ښېګڼه درسره وکړه، نو بدله يې ورکړئ، که مو داسې څه ونه موندل چې بدله يې پرې ورکړئ؛ نو هغه لره دعاء وکړئ ترڅو داسې ښکاره شئ چې تاسو يې بدله ورکړه.

دغه حديث ابو داؤد او نسائي په صحيح سند سره روايت کړى دى.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړى: هغه چا ته پناه ورکول چې پر الله پناه وغواړي.

دويمه: هغه چا ته څه ورکول چې د الله پر نوم غوښتنه وکړي.

درييمه: د بلنې منل.

څلورمه: د ښو بدله ورکول.

پنځمه: دا چې دعاء هم د هغه چا لپاره بدله کېداى شي چې لدې پرته بل څه ونه لري.

شپږمه: د هغه دا وينا چې: داسې ښکاره شئ لکه چې تاسو يې بدله ورکړې وي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې د الله په روی(مخ) له جنت پرته بل څه نه غوښتل کیږي.

له جابر څخه روایت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: **د الله په روی له جنت پرته بل څه نه غوښتل کیږي. ابوداؤد روایت کړی دی.**

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړی: له دې څخه منع چې د الله په روی له لویو موخو پرته بل څه نه غوښتل کیږي.

دويمه: د الله لپاره د وجه صفت ثابتول.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د (لو):که چیرته کې.

او د الله تعالی وینا: **هغوی وايي که چیرته زمونږ اختیار وای؛ نو دلته به نه وای وژل شوي.**

د آل عمرات سورت: ۱٥٤ ایت.

او د هغه وینا: **هغه کسان چې خپلو ورونو ته يې وویل او ناست وو، که چیرې هغوی زمونږ پیروي کړې وای نه به وای وژل شوي.**

د آل عمرات سورت: ۱٦ ایت.

په صحیح کې له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **د هغه څه په اړه حرص کوه چې ګټه درته رسوي، پر الله مرسته غواړه او هیڅکله مه عاجزه کیږه، که څه در ورسیدل نو داسې مه وایه: چې که مې داسې کړي وای داسې به شوي وای، بلکې ووایه: الله په تقدیر کې لیکلي و او څه يې چې غوښتل ویې کړل، ځکه (لو) د شیطان عمل پرانیزي.**

پدې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړی: په آل عمران کې د دوو آیتونو تفسیر.

دویمه: د (لو) له وینا څخه په ډاګه منع کول کله چې څه در ورسیږي.

دریيمه: د مسئلې علت په دې سره بیانول چې د شیطان عمل پرانیزي.

څلورمه: ښکلې وینا ته لارښوونه کول.

پنځمه: پر الله د پناه غوښتلو سره.د هغه څه په اړه د حرص امر چې ګټور وي.

شپږمه: د دغه له ضد څخه منع چې هغه عجز دی.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د نهی کې له کنځلو څخه باد ته.

له ابي بن کعب رضي الله عنه څخه روایت دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: هواته ښکنځل مه کوئ، کله چې مو داسې څه ولیدل چې نه مو خوښېدل؛ نو ووایاست: اې الله! مونږ له تا څخه د دغې هوا خیر غواړو، او هغه خیر چې پکې دی، او د هغه خیر چې امر راته پرې شوی دی، او له تا څخه د دغې هوا له شر څخه پناه غواړم، او کوم شر چې پکې دی او د کوم شر په اړه چې امر راته پرې شوی دی. دغه حدیث ترمذي صحیح بللی دی.

پدې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړی: هوا ته له ښکنځلو منع.

دویمه: ګټورې وینا ته لارښوونه، کله چې انسان هغه څه ووینې چې بد یې ګڼې.

درېیمه: دې خبرې ته لارښوونه چې هغې (هوا) ته امر شوی دی.

څلورمه: دا چې هغې ته کله په خیر او کله هم په شر امر کیږي.

★★★★★★★★

باب دی د الله تعالی د وینا په اړه (چې فرمایي): هغوی پر الله هم ناروا ګمانونه کول، هماغه د جاهلیت ګمان، دوی وایي آیا د دې کارڅه واك موږ لره شته؟ ورته وایه ربښتیا چې کار خو ټول الله لره دی خو دوی په سینو کې څه (خبرې) پټې ساتي هغه چې تاته يې نه څرګندوي، وايي که په دې کار کې زموږ څه (واك) وای نو دلته به نه وژل کېدو، ورته وایه که تاسو په خپلو کورونو کی هم وای نو چاته چې وژل ټاکل شوي و د خپلې مړینې ځای ته به راوتلي وای، او (دا پېښه) د دې لپاره چې الله و ازمویي څه مو چې سینو کې دي او هغه (خبرې) راښکاره کړې چې مو په زړونو کې دي او الله د سینو په شته ښه پوه دی.

د آل عمران سورت: ۱۵٤ ایت.

او د هغه وینا: هغوی چې پر الله د بدی ګمان کوونکي دي،پر هغوی دې بدې حادثې وي، او الله پر هغوی غضب کړی، رټلي يې دي او جهنم يې ورته چمتو کړی او ډېر بد د ورتلو ځای دی.

د الفتح سورت: ٦ ایت

ابن قیم د لومړي ایت په اړه ویلي دي: دغه ګمان په دې سره تفسیر شوی، چې هغه پاک ذات له خپل استازي سره مرسته نه کوي او دا چې د هغه امر به کمزوری شي، او په دې سره تفسیر شوی چې هغه ته څه ورسېدل هغه د الله په تقدیر او حکمت سره نه و، نو د هغه له حکمت، تقدیر او د هغه د رسول د کار په نه بشپړېدو سره تفسیر کړل شوی، او دا چې هغه پر خپل ټول دین برلاسی کړي، دا هغه بد ګمان دی کوم چې منافقانو او مشرکانو د فتحې په سورت کې کولو، او دا ځکه بد ګمان و چې له الله سره، د هغه له حکمت، ستاینې او ربښتینې ژمنې سره نه ښایېدلو.

نو چا چې دا ګومان وکړ چې باطل به پر حق په ثابت ډول برلاسی کیږي له هغه سره حق کمزوری شي، او یا يې لدې څخه نټه وکړه چې هغه د الله په قضاء او تقدیر ندي روان او یا يې له دې انکار وکړ چې د هغه تقدیر دې د کوم داسې لوی حکمت له مخې وي چې ستاینه يې پرې وشي، بلکې دا ګومان يې وکړ چې دا یوازې د یوې خوښې پر بنسټ دی، نو دا د هغو

خلکو ګومان دی چې کفر يې کړی دی، چې د دغو کافرانو لپاره د اور کنده ده او ډېرى خلک پر الله همداسې بدګمان کوي چې تر هغوی پورې ځانګړې ده او پر نورو هم همداسې ګومان کوي، له دې څخه يوازې هغه څوک خوندي دی چې الله، د هغه نومونه او صفتونه او د هغه حکمت او ستاينې لامل يې پېژندلی وي.

نو د ځان لپاره هوښيار نصيحت کوونکی دې دغه ته پاملرنه وکړي او الله ته دې توبه وباسي او پر خپل پالونکي له بدګومانۍ څخه دې بخښنه وغواړي.

او که ته ولټوې هغه څوک چې لټوې يې، نو وبه وينې چې هغه د تقدير په اړه له ضد او ملامتيا څخه کار اخلي او وايي به چې دا بايد داسې او داسې وای، کموونکی او زياتوونکی به وي؛ نو خپل ځان وګوره چې آيا ته سم يې؟

که له دغې څخه خوندي وې، له لويې ګناه څخه خوندي يې او که داسې نه وې؛ نو فکر نه کوم چې نجات موندونکی به وې.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د آل عمران د آيت تفسير:

دويمه: د الفتح سورت د آيت تفسير.

درېيمه: د دې خبر ورکول چې دا ډېر ډولونه لري منحصر نه دي.

څلورمه: دا چې له دغه څخه يوازې هغه څوک خوندي کېدلای شي چې د الله نومونه، صفتونه او ځان يې پېژندلی وي.

باب دی په بیان د هغه څه کې چې د تقدیر څخه د انکار کوونکو په اړه راغلي

او ابن عمر وايي: پر هغه ذات قسم چې د ابن عمر روح يې په لاس کې دی، که چېرې د هغوی د یوه لپاره د احد د غره په اندازه سره زر وي، بیا يې د الله په لار کې ولګوي، الله به يې ترې ونه مني، تر څو پر تقدیر ایمان ونه لري، بیا يې د نبي صلی الله پر وینا استدلال وکړ. ایمان دېته وايي چې پر الله، پرېښتو، کتابونو او رسولانو يې، د آخرت په ورځ ایمان راوړې، او د هغه لخوا پر خیر او شر باور ولرې. دغه حدیث مسلم روایت کړی دی.

او له عبادة بن صامت څخه روایت دی چې هغه خپل زوی ته وویل: ای بچوړیه! پرته له شکه هیڅکله به تر هغه د ایمان خوند ونه څکې تر څو پردې پوه شې چې څه درته رسېدلي هغه خطاء کېدونکي نه و او له څه څخه چې خطا شوی يې، هغه نه شي درته رسېدلی، دا مې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې داسې يې فرمایل: پرته له شکه لومړی څه چې الله پیدا کړي هغه قلم دی؛ نو هغه ته يې وویل: ولیکه، هغه وویل: ای زما پالونکیه څه ولیکم؟

هغه وویل: د قیامت تر رامنځته کېدو د ټولو شیانو تقدیرونه ولیکه.

اې بچوړیه! ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل يې: څوک چې له دغه پرته پر بله عقیده مړ شي هغه له مونږ څخه نه دی.

او په یو روایت کې له احمد څخه داسې راغلي: پرته له شکه لومړی څه چې الله پیدا کړل هغه قلم دی، بیا يې ورته وویل: ولیکه، نو په دغه ساعت کې پر هغه څه روان شو چې د قیامت تر ورځې پېښېږي.

او یو روایت له ابن وهب څخه دا دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د تقدیر پر خیر او شر ایمان نه لري الله به يې په اور وسوځوي.

په مسند او سنن کې له ابن دیلمي څخه روایت دی وايي: زه ابي بن کعب ته راغلم، ومې ویل زما په زړه کې د تقدیر په اړه څه دي، نو لږ څه راته ووایه کېدای شي الله مې له زړه هغه څه لېرې کړي، هغه وویل: که د احد د غره په اندازه سره زر ولګوې، الله به يې تر هغه قبول نه

کړي ترڅو پر تقدیر ایمان ونه لري، او پردې پوه نه شي چې څه درته رسېدل هغه به در څخه خطا نه شي او څه چې در څخه خطا کېدل هغه به درته ونه رسيږي او که له دې پرته پر بله عقیده مړ شوې ته به دوزخي وې؟

هغه وايي: بیا زه عبدالله بن مسعود، حذیفه بن یمان او زید بن ثابت ته راغلم، ټولو همدغه ډول له نبي صلی الله علیه وسلم څخه راته وویل: دا حدیث صحیح دی حاکم په خپل صحیح کې روایت کړی دی.

په دې کې يوشمېر مسئلې دي:

لومړی: پر تقدیر د ایمان د فرضوالي بیان.

دويمه: پر هغو د ایمان د کیفیت بیان.

درېيمه: د هغه چا د ایمان له منځه تلل چې ایمان نه پرې لري.

څلورمه: پردې خبرول چې هيڅوک به تر هغه د ایمان خوند ونه مومي تر څو يې پر تقدیر ایمان نه وي راوړی.

پنځمه: د لومړي هغه څه يادونه چې الله پیدا کړي.

شپږمه: دا چې له دغه ساعت څخه بیا د قیامت تر رامنځته کېدو پورې قلم جاري وي.

اوومه: د هغه – صلی الله علیه وسلم – له هغه چا څخه بېزاري چې پر تقدیر ایمان نه لري.

اتمه: د شبهاتو د له منځه وړلو لپاره د سلفو عادت چې له علماوو څخه به يې پوښتنه کوله.

نهمه: دا چې علماوو داسې ځواب ورکړ چې شبهه له منځه وړي، داسې چې خبره يې یوازې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته منسوبه کړه.

★★★★★★★★

باب دى په بيان د تصوير اخيستونكو كې (هغه څوک چې عکسونه وباسي او يا يې اخلي).

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالى فرمايي: تر هغه زيات ظالم به څوک وي چې څوک زما د مخلوق غوندې خلک جوړوي، نو هغوى دې يوه ذره او يا يوه دانه پيداکړي او يا دې يوه وربشه پيدا کړي. هغوى دواړو(بخاري او مسلم) روايت کړى دى.

او هغوى دواړه له عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ به ترټولو سخته سزا د هغه چا لپاره وي چې زما د مخلوق مشابه شكلونه(عكسونه) جوړوي.

او هغوى دواړه له ابن عباس څخه روايت كوي: چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې فرمايل يې: هر انځورګر په اور كې دى، د هر انځور په بدل كې چې جوړ كړى يې دى د هغه لپاره يو روح ورکول کيږي چې په دوزخ کې به پرې ځورول کيږي.

او هغوى دواړه له هغه څخه مرفوعا روايت کوي.

چا چې په دنيا کې کوم انځور جوړ کړ، هغه به مکلف کړل شي ترڅو روح پکې پوکړي، خو هغه به پکې پوکوونکى نه وي.

او مسلم له ابو الهياج څخه روايت كوي وايي: ماته علي وويل: آيا د هغه څه لپاره دې ونه لېږم چې رسول االله صلى الله عليه وسلم زه ورته لېږلى وم؟ دا چې هيڅ انځور داسې پرې نه ږدې مګر دا چې رنګ يې کړې اونه لوړ شوى قبر مګر برابر يې کړې.

په دغه خبره کې دېرې مسئلې دي:

لومړى: د انځورګرانو په اړه ډېره سختي كول.

دویمه: پر لامل يې تنبيه کول چې هغه د الله ادب پرېښودل دي، لکه چې وايي: تر هغه به څوک ډېر ظالم وي چې زما د مخلوق غوندې خلک جوړوي.

دریيمه: د الله پر قدرت او د هغوی پر عاجزۍ تنبيه، د هغه د وينا له مخې: نو يوه ذره دې پيدا کړي او يا دې يوه دانه او يوه وربشه پيدا کړي.

څلورمه: دا خبره په ډاګه کول چې هغوی ته به تر ټولو خلکو سخته سزا وي.

پنځمه: دا چې الله به د هر انځور په شمېر نفس ورته پيدا کوي او بيا به په دوزخ کې انځورګر ته پرې سزا ورکوي.

شپږمه: دا چې هغه به پکې د روح په پوکولو مکلف کړل کيږي.

اوومه: کله که وموندل شي نو په ړنګولو يې امر کول.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د هغه څه کې چې د ډېرو قسمونو په اړه راغلي دی.

او د الله تعالی وینا: خپلې لوړې مو وساتئ.

د المائدة سورت: ۸۹ ایت

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې فرمایل يې: اخیستلو خرڅولو کې په درواغو قسم کول (تیک ده څه دنیا به وګټي)، لیکن د کسب برکت له منځه وړي.

هغوی دواړو (بخاري او مسلم) روایت کړی دی.

او له سلمان څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: درې کسان دي چې الله به له هغوی سره د رحمت خبرې ونه کړي، هغوی به پاک نه کړي او هغوی لره به دردوونکې سزا وي، زوړ زاني، بې وزله کبرجن او هغه سړی چې الله يې سوداګريز مال داسې ګرځولی وي چې له قسم پرته يې نه اخلي او نه يې پلوري.

دغه حدیث طبراني په صحیح سند سره روایت کړی دی.

او په صحیح کې له عمران بن حصین رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما غوره امت زما پېړۍ ده بیا چې ورپسې دي، بیا چې په هغوی پسې دي، عمران وایي: ماته یاد نه دي چې له خپلې پېړۍ وروسته يې دوه ځلې او که درې ځلې یادونه وکړه، بیا به له تاسو وروسته داسې قوم وي چې شاهدي به ورکوي خو شاهدي به ترې غوښتل کیږي نه، خیانت به کوي او باور به پرې نه کیږي، نذرونه به مني پرځای کوي به يې نه او په هغوی کې به چاغ والی زیات شي.

او همدغه کې له ابن مسعود څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: غوره خلک زما د پېړۍ دي، بیا چې په هغوی پسې دي، بیا په هغوی پسې، بیا به داسې خلک راشي چې له هغوی به د یو شاهدي تر قسم (لوړې) مخکې کیږي او قسم به يې تر شاهدۍ.

ابراهیم وایي: هغوی به موږ پر شاهدۍ او ترون وهلو کله چې موږ کوچنیان وو.

پدې کې يو شمېر مسئلې دي:

لومړۍ: د لوړو(قسمونو) د ساتنې سپارښتنه.

دويمه: پردې خبره خبرول چې قسم سامان تباه کوي او برکت له منځه وړي.

درېيمه: د سختې سزا ژمنه د هغه چا لپاره چې له قسم پرته نه پېر او نه پلور کوي.

څلورمه: دې ته پاملرنه کول چې څومره د ګناه لامل کم وي همدومره هغه ګناه لويه ګڼل کېږي.

پنځمه: د هغو خلکو بد بيانول چې د لوړو له غوښتنې پرته لوړې کوي.

شپږمه: د نبي صلى الله عليه وسلم لخوا د دريو يا څلورو پېړيو ستاينه او له هغوی وروسته چې څه پېښيږي د هغو يادونه.

اوومه: د هغو کسانو بد بيانول چې له شاهدۍ غوښتلو پرته شاهدي ورکوي.

اتمه: دا چې پخوانيو به پر شاهدۍ او ژمنه کوچنيان وهل.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې د الله د ذمې او د هغه د نبي د ذمې په اړه راغلي دي.

او د هغه وینا: او له الله سره کړې ژمنه مو پوره کړئ کله مو چې ژمنې وکړې او لوړې د هغو له ټینګښت وروسته مه ماتوئ، په داسې حال کې چې الله مو پر ځانونو کفیل ګرځولی دی، پرته له شکه الله پر هغه څه پوهیږي چې کوئ یې. د النحل سورت: ۹۱ ایت

او له بریده څخه روایت دی وایي: کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پر کوم لښکر او ډله امیر وټاکلو د ځان په اړه به یې له الله څخه د ویرې، او کوم مسلمانان به چې ورسره وو د ښېګڼې سپارښتنه کوله، نو فرمایل به یې. د الله په لار کې د الله پر نوم له هغو خلکو سره چې پر الله یې کفر کړی و جنګیږئ، جهاد وکړئ خو له بریده مه اوړئ او دوکه مه کوئ، مثله مه کوئ (د وژل شویو شکلونه په سترګو اېستلو، غوږونو او پوزه پرېکولو مه بدلوئ) ماشوم مه وژنئ، کله چې د مشرکانو له ډلې له خپل دوښمن سره مخامخ شوې؛ نو دریو شیانو ته یې راوبوله: هر یو یې چې درسره ومنئ؛ ترې قبول یې کړه او نور یې پرېږده، اسلام ته یې راوبوله، که یې درسره ومنئ ترې قبول یې کړه، بیا ورته ووایه چې له خپل هېواد څخه د مهاجرینو هېواد ته ولاړ شي، او خبر یې کړه چې که هغوی دا کار وکړي؛ نو هغوی لره ټول هغه حقوق ثابت دي چې مهاجرینوته ثابت دي او هغه مسولیتونه یې پر غاړه دي کوم چې د مهاجرینو پر غاړه دي، خو که هغوی د خپل هېواد له پرېښودو نټه وکړي او په خپل هېواد کې پاتې شي؛ نو بیا هغوی د مسلمانو بانده چیانو غوندې دي چې پر هغوی به د الله هغه حکمونه پلي کیږي کوم چې پرمؤمنانو پلي کیږي، خو تر څو یې چې له مسلمانانو سره یوځای جهاد نه وي کړی په غنیمت او ولجه کې به برخه نه لري، او که هغوی په اسلام کې له داخلېدو څخه نټه وکړي؛ نو بیا دې جزیه ورکړي، که یې دغه کار وکړ، بیا یې هم ورسره ومنه او نور کار مه پرې لره، او که له دغه کار څخه یې هم نټه وکړه؛ نو بیا د الله په مرسته له هغوی سره وجنګېږه او که دې د کومې قلعه (کلا) خلک محاصره کړل او هغوی له تا څخه د الله او د هغه د نبي ذمه وغوښتله؛ نو د الله او د هغه د نبي ذمه مه ورکوه، بلکې خپله او د ملګرو ذمه دې ورکوه، ځکه که چیرې د خپلو ذمو او ملګرو د ذمو په اړه خیانت وکړئ دا به آسانه وي تردې چې د الله او د هغه د رسول د ذمې په اړه خیانت وکړئ، که چیرې د کومې قلعه (کلا) خلک محاصره کړې

او هغوی له تا څخه وغواړي چې د الله د پرېکړې پر بنسټ ځای ورکړې؛ نو د الله د پرېکړې پر بنسټ يې مه منه ځکه تاسو ته نه ده معلومه چې الله به د هغوی په اړه څه پرېکړه کوي.
مسلم روايت کړی.

په دغه خبره کې دېرې مسئلې دي:

لومړی: د الله او د هغه د نبي او مسلمانانو د ذمې ترمنځ توپير.

دويمه: له دوو کارونو څخه هغه يوه ته لارښوونه کول چې خطر يې کم وي.

دريیمه: د هغه وينا : چې د الله پر نوم د الله په لار کې جهاد وکړئ.

څلورمه: د هغه وينا: له هغه چا سره وجنګېږئ چې پر الله يې کفر کړی دی.

پنځمه: د هغه وينا: پر الله مرسته وغواړه او له هغوی سره وجنګېږه.

شپږمه: د الله او د علماوو د پرېکړې ترمنځ توپير.

اوومه: دا چې صحابي د اړتيا پر مهال د يو څه په اړه پرېکړه کوي، هغه نه پوهيږي چې آيا دا به د الله له پرېکړې سره سمون لري او که نه؟.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې پر الله د لوړې کولو په اړه څه راغلي دي.

له جندب بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **یو سړي وویل: پر الله قسم، فلاني ته الله ببښنه نه کوي، نو الله جل جلاله وفرمایل: څوک دی چې پر ما لوړه کوي چې زه به فلاني ته بخښنه نه کوم؟ پرته له شکه ما هغه ته بخښنه وکړه او ستا عمل مې له منځه یوړ.** مسلم روایت کړی.

او د ابوهریره په حدیث کې دي چې **وینا وال عبادت ګزاره سړی و، ابوهریره ویلي دي. هغه داسې خبره وکړه چې خپله دنیا یې له منځه یوړه.**

او خپل آخرت یې (هم له منځه یوړ).

په دغه خبره کې ډیرې مسئلې دي:

لومړی: پر الله له لوړې کولو څخه ویرول.

دویمه: دا چې اور له موږ څخه یوه ته د هغه د څپلۍ له بند څخه ورنیږدې دی.

دریيمه: دا چې جنت هم همدارنګه دی.

څلورمه: په دې کې د هغه د وینا شاهد دی: چې یو سړی به خبره کوي.......ترپایه.

پنځمه: دا چې کله یو سړي ته بخښنه د داسې یو څه له امله وشي چې هغه به ورته تر ټولو بد وي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د دې کې چې الله به مخلوق ته سفارشي(شفيع) نه ګرځوي.

له جبيربن مطعم رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: يو بانده چې (سارايي) نبي صلى الله عليه وسلم ته راغی، نو ويې ويل: اې د الله رسوله! خلک تباه شول، اولادونه وږي شول، مالونه له منځه ولاړل، زموږ لپاره دې د خپل پالونکي څخه باران وغواړه، ځکه موږ پر تا الله ته سپارښتنه کوو، او پر الله تاته، نو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله لره پاکي ده، الله لره سپېڅلتيا ده!! نو همداسې يې د الله پاکي بيانوله تردې چې د هغه د صحابه و په مخونو کې دا خبره وپېژندل شوه، بيا يې وويل: الله دې پر تا ورحمیږي؛ آيا ته پوهېږې چې الله څه دی؟ د الله شان له دې څخه ډېر لوی دی، پر الله د هيچا سپارښتنه نه شي کېدلای.

او حدیث ذکر کړ، هغه ابوداؤد روايت کړی دی.

په دغه خبره کې ډېرې مسئلې دي:

لومړی: پر هغه چا رد کول چې وايي: موږ پر تا الله ته سپارښتنه کوو.

دويمه: د دغې کلمې له امله داسې بدلون راتلل چې د صحابه وو په مخونو کې وپېژندل شو.

دريیمه: دا چې د هغه دا وينا يې رد نه کړه: چې موږ پر الله تاته سپارښتنه کوو.

څلورمه: د (سبحان الله)پر تفسير تنبيه.

پنځمه: دا چې مسلمانان له نبي صلى الله عليه وسلم څخه د باران غوښتنه کوي.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د هغه څه کې چې د مصطفی ﷺ د ملاتړ په اړه راغلي چې هغه د توحید ملاتړ او د شرک د لارو بندول دي.

له عبدالله بن الشخير رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: د بني عامر په ډله کې زه هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلم؛ نو وමو ویل: ته زموږ سردار یې.

هغه وفرمایل: سید (سردار) الله تبارک و تعالی دی.

موږ وویل: ته زموږ تولو غوره یې او ترموږ ټولو لوی یې.

هغه وفرمایل: همدغه وینا او ځینې وینا مو وایاست، او هیڅکله دې شیطان تاسو زړور نه کړي.

دغه حدیث ابوداؤد په ښه سند سره روایت کړی دی.

او له انس رضي الله عنه څخه روایت دی: چې ځینو خلکو وویل: اې د الله رسوله اې زموږ غوره، ترموږ ټولو د غوره زویه، زموږ سرداره او د موږ ټولو د سردار زویه. نو هغه وفرمایل: اې خلکو! ځینې وینا مو وکړئ او هیڅکله دې شیطان تاسو ته څه بنګلي نه کړي، زه محمد د الله بنده او د هغه رسول یم، زه دا نه خوښوم چې تاسو ما له خپلې هغې مرتبې څخه لوړ کړئ چې الله راکړې ده.

دغه حدیث نسائي په جید سند سره روایت کړی دی.

پدې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړی: له غلو(برید اوښتلو) څخه خلک وېرول.

دویمه: د هغه چا لپاره څه په کار دي چې ووایي چې ورته ویل شوي وي: ته زموږ سردار یې.

دریيمه: د هغه وینا: چې هیڅکله دې شیطان تاسو دې باجرءته نه کړي، سره له دې چې هغوی حق ویلي و.

څلورمه: د هغه وینا: زه نه خوښوم چې تاسو ما له خپلې مرتبې څخه پورته کړئ.

★★★★★★★★

باب دی په بیان د هغه څه کې چې د الله تعالی د دغې وینا په اړه راغلي. او هغوی د الله په حقه قدر(درناوی) ونه کړ، ځمکه به ټوله د قیامت په ورځ د هغه یو موټی وي او آسمانونه به یې په ښي لاس کې راټول وي، هغه پاک لوړ ذات دی له هغه څه څخه چې هغوی یې ورسره شریکوي.

د الزمر سورت: ٦٧ ایت

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له احبارو څخه یو حبر(عالم) راغی ویې ویل: اې محمده، موږ دا خبره مومو چې آسمانونه د الله په یوه ګوته کې، ځمکې په بله ګوته کې، ونې په بله ګوته کې، اوبه په بله ګوته کې، ثرئ (ترځمکې لاندې برخه) په بله ګوته کې او ټول مخلوق په بله ګوته کې به وي؛ نو وایي به: زه پاچا یم، نبي صلی الله علیه وسلم وخندل تردې چې ورروستي غاښونه یې ښکاره شول د هغه عالم وینا یې تصدیق کړه بیا یې دغه آیت ولوست. او هغوی په حقه د الله قدر(درناوی) ونه کړ، ټوله ځمکه به د قیامت په ورځ د الله یو موټی وي.

او د مسلم په روایت کې دي: او غرونه او ونې به یې په یوه ګوته کې وي، بیا به یې وښوروي، نو وایي به زه پاچا یم زه الله یم.

او د بخاري په روایت کې دي: هغه به اسمانونه په یوه ګوته کې وګرځوي، اوبه او ثرئ به په بله ګوته کې او ټول مخلوق په بله ګوته کې. هغوی دواړو (بخاري او مسلم) روایت کړی دی.

او مسلم له ابن عمر څخه مرفوعا روایت کوي: د قیامت په ورځ به الله اسمانونه راټول کړي، بیا به یې په ښي لاس کې را واخلي، بیا به ووایي: زه پاچا یم، چیرې دي واک لرونکي او چیرې دي لوېي کوونکي؟ بیا اووه ځمکې را ټولې کړي هغه په بل لاس کې واخلي، بیا به ووایي: زه پاچا یم چیرې دي واک لرونکي او لوېي کوونکي.

او له ابن عباس څخه روایت دی وایي: اووه اسمانونه او اووه ځمکې د رحمان (الله) په لاس کې داسې هم ندي لکه ستاسو د یوه په لاس کې چې د اورې دانه وي.

ابن جرير وايي: يونس راته روايت كوي چې ابن وهب خبر راكړ، وايي: ابن زيد وويل: پلار مې راته روايت وكړ وايي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: اووه اسمانونه د كرسۍ په نسبت داسې دي لكه اووه درهمونه چې په يو ډال كې واچول شي.

او وايي: چې ابوذر رضي الله عنه وفرمايل: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل چې فرمايل يې: نه ده كرسي د عرش په نسبت مګر په شان د يو بنګړې چې په يو صحراء كې غورځولای شوی وي.

او له ابن مسعود څخه روايت دی وايي: د دنيا د اسمان او ورځېرمه اسمان ترمنځ پنځه سوه كاله واټن دی، بيا له هر اسمان څخه تر بل اسمان پورې پنځه سوه كاله واټن دی، د اووم اسمان او كرسۍ ترمنځ پنځه سوه كاله واټن دی، د كرسۍ او اوبو ترمنځ پنځه سوه كاله واټن دی، عرش بيا د اوبو پر سر دی او الله د عرش د پاسه(څنګه چې د هغه د شان سره لايق وي) دی، او ستاسو له كړنو څخه پر هغه هيڅ هم پټ ندي.

ابن مهدي له حماد بن سلمه څخه روايت كړی، هغه له عاصم څخه، هغه له زر څخه او هغه له عبدالله څخه، او مسعودي له عاصم، هغه له ابووائل او هغه له عبدالله څخه همدارنګه روايت كړی دی، حافظ ذهبي رحمه الله وايي: دغه روايت لره يو شمېر طرق دي.

او له عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: آيا تاسې خبر ياست چې د اسمان او ځمكې ترمنځ څومره واټن دی؟ موږ وويل: الله او د هغه رسول ښه پوه دي: هغه وفرمايل: د هغو دواړو ترمنځ د پنځه سوه كلونو مزل دی، او له هر آسمانه تر بل اسمانه پنځه سوه كاله مزل دی، د هر اسمان پنډوالی د پنځه سوه كاله د مزل په اندازه دی، د اووم اسمان او عرش تر منځ يو درياب دی چې د هغه د ښكته او لوړې برخې ترمنځ لكه د اسمان او ځمكې غوندې واټن دی، او الله د دغه(عرش) د پاسه دی، او د بني آدم له كړنو هيڅ هم ترې پټ نه دي.

ابوداؤد او نورو دغه حديث روايت كړی دی.

پدې کې یو شمېر مسئلې دي:

لومړی: د الله تعالی د دغې وینا تفسیر چې: ټوله ځمکه به د قیامت په ورځ د هغه په موټي کې وي.

دویمه: دا چې دغه او دې ته ورته علوم له هغو یهودو سره پاتې وو چې د نبي صلی الله علیه وسلم په زمانه کې وو، هغوی انکار ترې ونه کړ او تاویل یې ونه کړ.

درېیمه: دا چې لوی عالم کله نبي صلی الله علیه وسلم ته یادونه وکړه، د هغه تصدیق یې وکړ او د دغه په سم بللو کې قرآن نازل شو.

څلورمه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري د خندا کېدل؛ کله چې لوی عالم دغه لویه پوهه یاده کړه.

پنځمه: په ډاګه د لاسونو یادونه او دا چې اسمانونه د الله په ښي لاس کې دي او ځمکې یې په بل لاس کې.

شپږمه: څرګند د لاس نومول په چپ سره.

اوومه: دغه وخت د لویې کوونکي او ظالمانو یادونه.

اتمه: د هغه وینا: لکه د اوري دانه ستاسو د یوه په ورغوي کې.

نهمه: د اسمان په پرتله د کرسي (څوکۍ) لوی والی.

لسمه: د کرسي (څوکۍ په پرتله د عرش لوی والی.

یوولسمه: دا چې عرش له کرسي او اوبو پرته بل څه دی.

دولسمه: له یو اسمانه تر بل اسمانه څومره واټن دی.

دیارلسمه: د اووم اسمان او کرسي (څوکۍ) ترمنځ څومره واټن دی.

څوارلسمه: د کرسي (څوکۍ او اوبو ترمنځ څومره واټن دی.

پنځلسمه: دا چې عرش د اوبو له پاسه دی.

شپاړسمه: دا چې الله د عرش له پاسه دی.

اوولسمه: د اسمان او ځمکې ترمنځ خومره واټن دی.

اتلسمه: د هر اسمان پنډوالی سل کاله دی.

نولسمه: دا چې هغه دریاب چې د اسمانونو له پاسه دی تیټه او لوړه برخه یې پنځه سوه کاله واټن لري، والله اعلم

د توحید کتاب د الله په فضل پای ته ورسېدی

★★★★★★★★

فهرست

د توحيد کتاب 1

باب دی په بیان د فضیلت د توحید کې او په بیان د هغه څه کې چې ګناهونه ورانوي .. 5

باب دی؛ له شرك څخه د ويرې په اړه. 11

باب دی په بیان د رابللو د " لا إله إلا الله" کلمې شهادت ته. 13

باب دی په بیان د وضاحت د توحید کې او په بیان د وضاخت د ګواهۍ د (لا إله إلا الله
کې. 17

باب دی په بیان د دمونو او تعویذونو کې: 22

باب دی په بیان د هغه ځا کې چې په ونه، ډبره یا دېته ورته شیانو تبرک حاصلوي........ 24

باب دی په بیان د حلاله کې غیرالله لپاره 27

باب دی په بیان د دې کې چې له الله پرته بل ځا ته نذر شرک دی. 31

باب دی په بیان د دې کې چې له الله پرته له بل ځا څخه پناه غوښتل شرک دی 32

باب دی په بیان د دې کې چې له الله پرته له بل ځا څخه مرسته غوښتل او یا بل څوک را
بلل شرک دی. 33

باب دی په بیان د الله تعالی دې وینا کې: آیا هغوی له الله سره هغه څه شریکوي چې
هیڅ یې نه دي پیدا کړي او حال دا چې هغوی پیداکړل شوي دي. او نه هغوی لره د
مرستې توان لري او نه د ځانونو مرسته کولای شي. 36

باب دی په بیان د الله تعالی د وینا کې چې فرمایي: تردې چې کله یې له زړونو وېره
لېرې شي، هغوی وایي پالونکي مو څه وویل: هغوی وایي: حق او همغه لوړ او لوی
دی. 39

باب دی په بیان د شفاعت (سپارښتنه) کې.. 42

باب دى په بيان د الله تعالى د وينا كې: پرته له شكه ته هغه څوک په سمه لیار نشې روانولای چې خوښوې يې، بلكې الله چې چا ته وغواړي په سمه لیار يې روانوي، او هغه پر لار موندونكو ښه پوه دى..45

باب دى په بيان د دې كې چې د آدم د اولاد د كفر او د خپل دين د پرېښودلو لامل د نېكانو په اړه غلو (له بريده اوښتل) دي.. 47

باب دى په بيان د دې كې چې څوک د الله عبادت د نېک سړي له قبر سره كوي، د هغه په اړه څومره سختې راغلې؛ نو د هغه چا به څه حال وي چې په خپله د هغه نېک سړي عبادت كوي!؟..50

باب دى په بيان د هغه غُلو (له بريده اوښتلو) كې چې د نېكانو د قبرونو په اړه راغلى او داسې بوتان ترې جوړوي چې له الله پرته لمانځل كيږي..................................... 53

دا باب دى د مصطفى - صلى الله عليه وسلم - لخوا د توحيد د ملاتړ او د هرې هغې لارې بندولو په اړه چې شرک ته رسوونكې ده.. 55

باب دى په بيان د دې كې چې د دغه امت څينې به بُتان لمانځي............................57

باب دى په بيان د كوډو كې..61

باب دى په بيان د هغه شي كې چې د سحر نوعه ده.. 63

باب دى په بيان د غيب ويونكو او هغوى ته ورته خلكو كې..................................65

باب دى په بيان د هغه څه كې چې د كوډو د اېستلو په اړه راغلي........................... 67

باب دى په بيان د بد پالۍ كې.. 68

باب دى په بيان د نجومۍ كې (ناروا علم د ستورو).. 71

باب دى په بيان د باران غوښتلو د سپوږمۍ په منزلونو......................................72

باب دى په بيان د الله تعالى د وينا کې: او ځينې خلک داسې دي چې له الله پرته نور سيالان داسې نيسي چې له هغوى سره داسې مينه کوي لکه له الله سره مينه. ... 73

باب دى د الله تعالى د وينا په اړه (چې فرمايي). دا خو يوازې شيطان دى چې خپل دوستان وېروي؛ نو تاسو له هغوى مه وېرېږئ او له ما وډار شئ که چېرې مؤمنان ياست. 76

باب دى په بيان د الله تعالى ددې وينا کې: او يوازې پر الله بروسه وکړئ که مؤمنان ياست. 78

باب دى د الله تعالى د وينا په اړه (چې فرمايي). آيا هغوى د الله د پلان په اړه ډاډه دي، د الله د پلان په اړه يوازې تاواني خلک ډاډه کيږي.. 80

باب دى په بيان د دې مسئله کې چې په تقديري مصيبتونو صبر کول په الله د ايمان څخه دى. 81

باب دى په بيان د رياء کې(خپلې نيکۍ خلکو ته خودل د مدح د جلبولو د پاره). 83

باب دى په بيان د شرک کې:.. 85

کله چې يو انسان په ديني عمل صرف د دنيا اراده ولري................................... 85

باب دى په بيان د دې کې چې که څوک د علماوو او مشرانو(حکمرانانو) پيروي په هغه څه کې کوي چې الله حلال کړي وي هغوى يې حراموي او هغه څه حلالوي چې الله حرام کړي وي، نو هغوى يې له الله پرته تشريع جوړوونکي مالکان د حل او د حرمت ونيول. 87

باب دى په بيان د الله تعالى د وينا کې: آيا هغه دې نه دي ليدلي چې ګومان کوي په هغه څه يې ايمان راوړى دى چې پر تا نازل شوي او له تا مخکې نازل شوي خو غواړي چې د پرېکړې لپاره باطل معبود ته ورشي، حال دا چې ورته امر شوى چې هغه دې نه مني، او شيطان (همدا) غواړي چې بې لارې يې کړي (له حقه) په لرې بې لاريتوب

سره. او چې ورته وويل شي د الله رالېږلې خبرې ته راشئ اود رسول په لوري، نو منافقان به وينې چې له تانه په کلکه ډډه کوي. نو بيا به څنګه وي چې په خپلو لاسو وړاندې لېږلي عمل له امله يو مصيبت ور ورسيږي، بيا درته راشي په الله به قسمونه کوي چې موږ خو له ښېګڼې او جوړښت پرته بل څه نه غوښتل. 89

باب دی په بيان د دې کې چې که څوک له نومونو او صفتونو څخه د څه انکار وکړي..... 92

باب دی د الله تعالی د وينا په اړه (چې فرمايې): هغوی د الله نعمت پېژني بيا يې انکار کوي او ډېری يې کافران دي. 94

باب دی د الله تعالی د وينا په اړه (چې فرمايې): د الله لپاره سيالان مه نيسئ په داسې حال کې چې تاسو پرې پوهېږئ.. 95

باب دی په بيان د دغې وينا کې چې: څه الله او ته غواړې. 98

باب دی په بيان د دې کې چې څوک زمانې ته ښکنځل وکړي؛ نو هغه الله ته اذيت ورکړ. 101

باب دی په بيان د قاضي القضاة او دېته ورته سره نومولو کې. 102

باب دی په بيان د احترام د نومونو د الله تعالی کې او د دی احترام د وجه نوم بدلول. 103

باب دی د هغه چا په اړه چې پر داسې يو څه ملنډې ووهي چې د الله، قران او رسول ياد پکې وي. 104

باب دی په بيان د الله تعالی د وينا کې: او که موږ هغه ته زموږ لخوا لورېينه ور وڅکو وروسته تردې چې کړاو ورته رسېدلی وي، هرومرو به وايي، دا زما لپاره دی او زه ګومان نه کوم چې قيامت رامنځته کېدونکی دی، او که خپل پالونکي ته ور وګرځول شم(ستا په ګمان)، د هغه په وړاندې به هم ما لره غوره برخه وي، موږ به هرومرو هغه خلک چې

کفر یې کړی پر هغه څه خبر کړو چې هغوی کړي دي او هرومرو به هغوی ته سخته سزا ور وڅکو. 106

باب دی په بیان د الله تعالی د دې وینا کې: خو کله چې ښه بچی یې ورکړ، دواړو په هغه ورکړه کې لده سره نورشریکان وګڼل؛ نو الله له هغو ډېر اوچت دی چې دوی یې ورسره شریکوي. 110

باب دی د الله تعالی د وینا په اړه (چې فرمایي): او الله لره ښکلي نومونه دي؛ نو پرې را ویې بولئ، او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه په نومونو کې کوږوالی لټوي. 112

باب دی په بیان د دې کې چې (السلام علی الله) به نه وایاست. 113

باب دی په بیان د دغې وینا کې چې څوک ووایي: اې الله ماته بخښنه وکړه که دې خوښه وي. 114

باب دی په بیان د دې کې چې څوک دې نه وایي: زما بنده او زما بندګی. 115

باب دی پدې باره کې چې څا د الله په نوم غوښتنه وکړه نو هغه به تش لاس نه رخصتیږي. 116

باب دی په بیان د دې کې چې د الله په روی(مخ) له جنت پرته بل څه نه غوښتل کیږي. 117

باب دی په بیان د (لو):که چیرته کې. 118

باب دی په بیان د نهی کې له کنځلو څخه باد ته. 119

باب دی د الله تعالی د وینا په اړه (چې فرمایي): هغوی پر الله هم ناروا ګمانونه کول، هماغه د جاهلیت ګمان، دوی وایي آیا د دې کارڅه واك موږ لره شته؟ ورته وایه رېښتیا چې کار خو ټول الله لره دی خو دوی په سینو کې څه (خبرې) پټې ساتي هغه چې تاته یې نه ښکاره کوي، وایي که په دې کار کې زموږ څه (واك) وای نو دلته به نه وژل کېدو، ورته وایه که تاسو په خپلو کورونو کې هم وای نو چاته چې وژل ټاکل شوي و د خپلې

مړینې ځای ته به راوتلي وای، او (دا پېښه) د دې لپاره چې الله و ازمويي څه مو چې سينو کې دي او هغه (خبرې) راښکاره کړي چې مو په زړونو کې دي او الله د سينو په شته ښه پوه دی...120

باب دی په بیان د هغه څه کې چې د تقدير څخه د انکار کوونکو په اړه راغلي. 122

باب دی په بیان د تصوير اخيستونکو کې (هغه څوک چې عکسونه وباسي او يا يې اخلي). 124

باب دی په بیان د هغه څه کې چې د ډېرو قسمونو په اړه راغلي دی...................126

باب دی په بیان د دې کې چې د الله د ذمې او د هغه د نبي د ذمې په اړه راغلي دي. 128

باب دی په بیان د دې کې چې پر الله د لوړې کولو په اړه څه راغلي دي. 130

باب دی په بیان د دې کې چې الله به مخلوق ته سفارشي(شفيع) نه ګرځوي. 131

باب دی په بیان د هغه څه کې چې د مصطفی ﷺ د ملاتړ په اړه راغلي چې هغه د توحيد ملاتړ او د شرک د لارو بندول دي. 132

باب دی په بیان د هغه څه کې چې د الله تعالی د دغې وينا په اړه راغلي. او هغوی د الله په حقه قدر(درناوی) ونه کړ، ځمکه به ټوله د قيامت په ورځ د هغه يو موټی وي او آسمانونه به يې په ښي لاس کې راټول وي، هغه پاک لوړ ذات دی له هغه څه څخه چې هغوی يې ورسره شريکوي. 133